# زما مینه شهیده شوه !




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی شکور
الرحمن حمیدي د ۱۳۷۰ لمریز کال کې د هیواده لیرې د هجرت پر مهال د پښتونخوا په کرمې ایجنسۍ کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې.
ښاغلی شکور الرحمن حمیدي د مرحوم حاجي سید علي خان زوی د خوست ولایت د اسماعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ د حیدرخیلو د کټه سري کلي او سیدونکی دی.
نوموړی د مهاجرت څخه د راستنیدو وروسته په ښوونځي کې شامل شو لمړنۍ زده کړې یې د حیدرخیلو د صدیق روهي عالي لیسه او پاتې زده کړې یې د پښتونخوا پیښور ښار دعوت عالي لیسه کې بشپړې کړې دي.
د ښوونځي تر بشپړیدو وروسته د پیښور پوهنتون ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو ، خو د وخت مجبوریو یې د زده کړو مخه ډب کړه او له دوه کاله زده کړې وروسته یې د پوهنتون سره خدای پاماني وکړه.
له هغې وروسته هیواد ته راستون شو او د ننګرهار ملي راډیو تلویزیون کې د ویاند په توګه په دنده وګمارل شو ، له شپږو میاشتو دندې وروسته خپل پلارني ټاټوبي خوست ته راغی او جوخت د ولس غږ په نوم شخصي راډیو کې د ویانداو ورسته د نشراتو د مدیر په دنده وګمارل شو.
د دې ترڅنګ یې خپل قلم هم له کوتو ونه غورځاوه او خپلې ادبي هڅې یې جاري وساتلې چې ښه بیلګه یې همدا اثر دی.
د ښاغلي حمیدي صاحب دا لمړنی چاپي اثر دی خو د ده ډیر اثار د وخت د تاړاکونو خوراک شوي دي.
د محترم حمیدي په لسګونه لیکنې ، مقالې او شعرونه د هیواد په بیلابیلو رسنیو کې خپاره شوي او که همدا سې خپلې هڅې جاري وساتي نو لیرې نه ده چې د شعر او ادب پر اسمان به یو ځلانده ستوری شي.
په ژوره ادبي مینه
اسماعیل حقمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## اول څپرکی

زه اوزاهد د دعوت عالي ليسې په انګړ کې ولاړ ؤ چې عبدالله راغی دعبدالله سره مو ستړې مشې او روغبړ وکړ.

عبدالله وويل: چې ستاسې کډې دلته دي او که په افغانستان کې.

ماوويل چې په افغانستان کې،عبدالله وويل چې زه به مو مخکې خبر کړی وم چې روغ مراسم مې درته نيولي وای ما وويل هيڅ خبره نه ده.

عبدالله ډېر ښه هلک و ، مونږ چې ديوولسم ټولګي نه دولسم ټولګي ته بريالي شوو عبدالله د دولسم ټولګي نه فارغ شو.

کله چې دفارغينو او کاميابو شاګردانو لپاره مراسم ونيول شول د دولسم ټولګي د فارغينو وار چې تېر شو ديوولسم د فارغينو وار راورسيد ،له نورو ټولو شاګردانو سره خپل خپلوان راغلي وو.

دهغوی په غاړو کې يې اميلونه واچول يوازې زما او د زاهد سره څوک نه وو راغلي، ځکه زمونږ کډې په افغانستان کې وې.

کله چې زما او د زاهد وار راورسيد زما په غاړه کې يوازې خپلو څلورو ټولګيوالو (همصنفيانو) اميلونه واچول، کله چې عبدالله وليدم خپل ټول اميلونه چې څو شېبې وړاندې د عبدالله په غاړه کې اچول شوي وو په ځوانانو ووېشل ،زما او د زاهد په غاړو کې يې واچول.

عبدالله مو د هغې ورځې راوروسته ملګری هم شو .

زه عبدالله لا په خبرو بوخت وو چې زاهد وويل: حميده ! راځه چې لاړ شو کمرې (کوټې) ته ناوخته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعبدالله نه مو رخصت راواخیست د کمرې په لور روان شو مونږ لا په لاره کې وو چې د زاهد دکور نه زاهد ته زنګ راغی زاهد چې موبایل له جیبه راویست اوویې ویل چې خور مې ده وړانګه.
. وړانګه زما سره یوځای رالویه شوې وه ډېره ښایسته جلۍ وه
زاهد د اوکې تڼۍ کیکاګله ، الو ! الو!
زاهد یو څو قدمه له ما لرې شو د وړانګې سره یې پنځه شپږ دقیقې خبرې وکړې کله یې چې ټیلفون بند کړ ما ورته وویل چې څنګه خیر خو و څه یې ویل زاهد وویل خیر خیریت ده هیڅ نشته هسې ویل یې چې یاد شوی مې وې ځکه مې ټیلفون درته وکړ په خبرو خبرو کمرې ته سره ورسیدو زه اوږد په بستره کې پرېوتم زاهد هم بسترې ته ډډه ولګوله او ویل یې چې عبدالله ته د خدای خیر ورکړې که عبدالله نه وای زمونږ په غاړه کې به چا امیلونه اچولی ما یې هم خبره تائید کړه چې ریښتیا هم عبدالله زمونږ سره ډېر ښه وکړل.
ورځې تېرېدې شپه به راغله ورځ به یې اوخوړه او ورځ به راغله شپه به یې اوخوړه یوه ورځ په ښوونځي کې سوالونه کیدل ډېر سوالونه وشول چا به ذهني سوالونه کول او چا به تاریخي د ډېرو سوالونو ځوابونه پیدا شول خو یو سوال بې ځوابه پاتې شو هغه دا چې استاذ وویل: هغه څه شی دي چې په بازار کې ډېر دي خو نه یې وینو چې ویې وینو نو نه یې اخلو چې وایې خلو نه یې اغوندو چې وایې غوندو نه یې وباسو, ټول شاګردان غلي شول یو هم ځواب پیدا نه کړ.
کله چې ښوونځی رخصت شو د خپلې کمرې په لورې روان وو چې د بازار په یوه کوڅه کې ډېر خلک راټول وو خو څه ښکارېدل نه چې په څه باندې راټول دي زما سره په خوا کې دوه کسان ولاړ وو ما ویل راځه د دوي نه به پوښتنه وکړو چې دا خلک د څه لپاره راټول شوي مخکې له دې چې زه پوښتنه وکړم هغوي په خبرو پیل وکړ ، ملګري ته یې وویل چې راځه هسې هم مهاجر دي د دوي مرګ داسې دی لکه څوک چې په مېږې پښه کېږدي. هیڅوک یې په غم کې نه دي د مېړیانو په شان ډېر دي. د دوي خبرو ما او زاهد ته سخت زور راکړ شپې او ورځې تېرېدې تعلیمي کال مخکې په وړاندې روان و یوه ورځ په داسې حال کې چې زاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډوډۍ راوړلو لپاره بازار ته کوز شو او موبايل همدلته په کمره کې ورنه پاتې و . چې موبايل ته زنګ راغی زنګ ډېر په اوږدو شو کله مې چې موبايل ته وکتل د موبايل په سکرين يو ښځينه نوم ليکل شوی.
وړانګه په زړه کې مې وويل چې ځواب ورکړه کيدای شي چې کومه ضروري خبره به وي بيا مې له ځانه سره وويل چې که ځواب ورکړم زاهد به خپل موبايل وګوري وايي به چې زما د خور نمبر ته دې ولې ځواب ويلی. زه لا په دې سوچونو کې وم چې اړيکه پرې شوه له ځانه سره مې وويل چې که دا ځل بيا تيليفون وکړي حتماً به ځواب ورکوم که کومه ضروري خبره نه وه نو هغې ته به ووايم چې زاهد ته ونه وايې چې ستا موبايل ته کوم بل چا ځواب ورکړ.
د وړانګې نمبر به د راغلو ټيليفونو له ځايه رنګ کړم بيا هسې هم معلومات نه ورته کېږي ځلور پنځه دقيقې وروسته موبايل ته بيا زنګ راغی,
په رپېدلو لاسونو مې موبايل اوچت کړ د اوکې تنۍ مې کيکاګله
زړه مې ډير درزيده موبايل مې غوږ ته نږدې کړ.
د هغې خوا يو پوست او نرم غږ راغی
. الو ! الو ! الو وروره ! موبايل ولې نه پورته کوې
څنګه مريض خو به نه وې زه غلې وم څه مې نه شو ورته ويلی هغې بيا غږ کړ
الو ! الو ! وروره زاهده وروره روغ خو يې خبرې ولې نه کوې
دا ځلې مې زړه سره کلک غوندې کړ په بند بنده ژبه مې ځواب ورکړ
. آ، آ ، الو ، الو وړانګې هغه..... زاهد ,,,,زاهد د باندې تللی ډوډۍ پسې لږ وروسته راځي .
وړانګې ته غصه ورغله وړاندې به دې ويلي وای زما زړه خو پښنو ته پرېوت راته يې وويل چې ته څوک يې چې بې اجازې پرديو موبايلونو ته ځواب ورکوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای شته لږ سره وارخطا غوندې شوم ورته مې وویل چې وړانګې دا زما غلطي وه چې موبایل ته مې بې
اجازې ځواب ورکړ. خو ، خوزه.زه حمید یم
د حمید د نوم په اوریدو سره هغې اړیکه پریکړه زه ډیر ورخطا شوم ویل مې که اوس زاهد راشي موبایل
اوګوري زه به څنګه ځواب ورکوم لا په هم دې فکرونو کې وم چې بیا زنګ راغی له ډیرې ورخطا ورځې مې
موبایل دوه ځلې اوکې کړ
. زه الو !الو !غږونه کوم ځواب نه راځي
زر مې موبایل ته وکتل موبایل دوه ځلې اوکې شوی و ، کومه اړیکه چې دوه ځلې اوکې شي نه له هغې خوا
ځواب راځي نه له دې خوا زر مې بیا اوکې اووهله د هغې خوا ډیر خوږ نرم او پوست غږ راغی. الو ، الو
حمیده ! خبرې خو کوه ولې غلی یې ؟
:ما ورته په بنده بنده ژبه وویل
هسې ، هسې وړانګې زه ، زه غلی نه وم موبایل په خطایی کې را نهههه
هغې مې خبره راپریکړه چې ته نه یې غلی نو ځوک غلي دي خبرې مو ډیرې سره وکړې په پای کې یې د خپلې
غصې بخښنه وغوښته کله یې چې اړیکه پرې کوله ورته و مې ویل کله چې اړیکه پرې کړې یو دوه مس کاله
په بیره وکړه. هسې نه چې زاهد په غصه شي وایي به چې زما د خور موبایل ته دې په خپله مخه ځواب ولې
. ورکړی
وړانګې وویل دا خو کوم ګران کار نه دی د خدای په امان
اړیکه یې پریکړه
ما موبایل په خپل ځای کېښود زه لا ناست نه وم چې زنګ راغی خو اړیکه پرې شوه د دوو مس کالو په
. ځای هغې څلور مس کاله وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما هم زړه ارام شو په خپل ځای کښېناستم په ذهن کې مې د وړانګې خبرې تاوېدې راتاوېدې ته ځوک یې؟ چې پردیو موبایلونو ته ځواب وایې .

د وړانګې دا خبره په ما ډېره ښه ولږېده د زړه لپاره مې یو نوی درد پیدا شو زړه مې غوښتل چې د زاهد موبایل بیا راواخلم د وړانګې نمبر ترې ولیکم خو نه کېده ځکه چې وړانګې څلور مس کاله کړي وو ، که ما نمبر ترې لیکلی د وړانګې مس کالونه د موبایل د سکرین (پردې )نه ختمېدل خدای خبر چې زه به په کومو فکرونو او سوچونو کې تللی وم چې زاهد راغی.

! راغږېې کړ حمیده !وه حمیده

بچو د خیال مرغه دې بیا په کوم ځای کې وزرې رپوي په کوم خوا تللی یې ؟ څنګه کور ته خو به دې زړه نه کېږي. ورته ومې ویل چې هیڅ نشته هسې د درسونو په اړه مې فکر کاوه زاهد وویل: سمه ده دومره فکرونه چې کوې ډېر ژر به لیونی شې دا خبره یې وکړه ، او د خپلو کتابونو په لور لاړ موبایل یې راوخیست کله چې یې ولیدل په موبایل کې د وړانګې څلور مس کاله پراته دي زر یې سر راپورته کړ ویې ویل ظالمه دومره ځواب خو سړی ورکړي چې زاهد د باندې تللی دی اوس راځي.

د هغې غریبې خو به زړه چاودلی وي ما ورته وویل چې زاهده پخپله مخه مې څنګه هغې ته ځواب ورکړی وای زاهد غلی شو زر ، زر یې د وړانګې نمبر اوکې کړ چې خبرې ورسره وکړي خو د شبکې لخوا ورته ځواب ورکړ شو چې تاسې په خپل موبایل کې کافي اندازه کریډیټ نه لرئ. زر یې ما ته راغږ کړ چې حمیده !په موبایل کې پیسې لرې کنه؟

ما هم بې له ځنډه ځواب ورکړ چې ولې نه شته په کې زاهد د وړانګې نمبر زما په موبایل کې ډایل کړ ما هم د خدای څخه همدا غوښتل زاهد تیلیفون غوږ ته نږدې کړ خو موبایل ته ځوک ځواب نه وایي دوه درې ځلې یې زنګ ورته وکړ خو بې لاخره موبایل اوکې شو. زاهد غږ کړ سلام وړانګې خور !


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه لکه چې خپل بدل د راځخه اخیسته که ولې د موبایل ته ځواب نه راکاوه وړانګې ځواب ورکړ چې وروره خدای دې نه کړي چې زه له تانه بدل واخلم نمبر د بدل و ځکه مې ځواب نه ورکاوه زاهد وویل سمه ده . وړانګې ، وړانګې بیا وویل چې څنګه نمبر د بدل کړی که ولی دې د خپل نمبر نه تیلیفون ونه کړ

زاهد وویل: چې نه نمبر مې نه دی بدل کړی د حمید نمبر نه مې تیلیفون کړی زما په موبایل کې پیسې نه وې وړانګې خبره ترې ونیوه ، چې څه ستړې مشي به اوس درکړم له ما نه خو دې ستړي مشي او سلام بیخي هېر کړ. وروره ستړی مه شې ،ښه خو یې ولې دې موبایل ته ځواب نه راکاوه زاهد وخندل ورته یې وویل چې لویه شې د باندې په ډوډۍ پسې تللی وم شکر دی اوس روغ او جوړ یم کور کې خو خیریت دی؟ مور مې ، بابا مې نور ټول ښه دي وړانګې وویل شکر ټول ښه دي.

زاهد وویل چې سمه ده ټولو ته مې سلامونه وایه د خدای په امان د هغې خوا هم ځواب راغی د خدای په امان زاهد بې له دې چې د خپلې خور وړانګې نمبر په مبایل کې رِنګ کړي ماته یې راکړ ما زر زرد وړانګې نمبر په پیغامونو کې ولیکه او ثبت مې کړ ما ویل هسې نه چې سبا ورځ بیا د زاهد په موبایل کې پیسې نه وې له ما نه موبایل واخلي د وړانګې نمبر چې په کې ډایل کړي سمدستي معلومات ورته کېږي .

نو د احتیاط لپاره مې د وړانګې نمبر په پیغامونو کې سیو (ثبت) کړ زه په موبایل کې اخته وم چې زاهد وویل حمیده راځه چې ډوډۍ سرېږي مخکې مې راوړې ما وویل چې سمه ده کله مو چې ډوډۍ او خوړه زاهد وویل چې د استاذ هغې ذهني سوال ته لکه چې تراوسه چا ځواب نه دی ویلی ما وویل چې تر اوسه خو یې ځواب نه دی ویل شوی هغه بله ورځ چې په بازار کې یو افغان غریب چا وژلی وو نو سمدستي ما د سوال ځواب پیدا کړ .

زاهد وویل چې څنګه د پیدا کړ افغان چې مړ وو ، نو مړ وو هغه دې خدای اوبخښي د هغې څخه د د سوال ځواب څنګه پیدا کړ ورته ومې ویل چې ته په خپله فکر وکړه چې له دې نه بل څه کېدای شي د استاذ سوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول وو چې هغه څه شی دي چې په بازار کې ډېر دي خو نه يې وينو چې ويې وينو نه يې اخلو چې
.وايې خلو نه يې اغوندو چې وايې غوندو نه يې اوباسو
د استاذ سوال په دې ډول وو کنه ؟
زاهد وويل چې بلې سوال په همدې ډول وو ما وويل چې دا کفن دی زاهد غلی شو او ويې ويل چې بالکل
هم کفن دی زاهد بيا وويل چې ولې د استاذ ته ځواب نه ښوده. ما ورته وويل چې هغه ورځ وه تېره شوه ځکه
په هغه ورځ د درې استاذ نه وو مونږ او تاسو يواځې په خپلو کې زهني سوالونه شروع کړل نو ځکه مې
.استاذ ته ځواب نه دی ويلی زاهد وويل چې سمه ده بابا
. د زاهد دې خبرې سره دواړو وخندل

دوهم ځپرکی

ورځې تېرېدې سبقونه ښه مخ پروړاندې روان وو خو له بلې خوا له ماسره پيسې په ختمېدو وې کوم پيسې
چې ما له ځان سره راوړې وې زه چې پېښاور ته سبقونو ته راغلی وم له کوره پټ راغلی وم ځکه چې زما د
پلار دوه ودونه وو د مشرې مور مې درې زامن وو او د خپلې مور مې پنځه زامن وو چې په دې ټولو کې زه
. کوچنی وم
يو وروr مې په کوچني والي کې مړ شوی وو اوس څلور ورونه پاتې وو واک او قدرت ټول دې ميرانه
ورونو وو هغوي نه غوښتل چې زه تعليم وکړم يا دې زما ورونه تعليم وکړي زه په پټه پېښاور ته راغلم دلته
مې په سبق ويلو پيل وکړ. سږ کال مې اخري کال دی چې له دولسم ټولګي فارغ شم کور ته مې تيليفون نه
. شو کولی چې ورونو ته مې ويلي وی چې پيسې را ولېږئ
ځکه زه خو دلته په پټه راغلی وم که تيليفون مې کړی هم وای کومه ګټه يې نه کوله دوي نه غوښتل چې زه
په افغانستان کې سبق ووايم دا خو لا پېښاور دی ، پېښور ته به يې څنګه پيسې رالېږلي وای. يوه ورځ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاهد د باندې تللی وو کله چې راغلو زما مړاوي څېره يې ولیده راته يې وویل چې حمیده ! نن دې حالات ډېر بل ډول دي ولې څه خبره ده ناروغ خو به نه يې ما ورته وویل چې زاهده هیڅ خبره نشته هسې مې لږ سر خوږېږي زاهد وویل د سر د درد خبره نه ده دا دوه ورځې دې په ټولګي کې هم په درسونو کې پوره خوند نشته په خوا به چې استاذ له خولې سوال نه وو ایستلی تا به ځواب ورکړی وو د څو ورځې خو د يو سوال ځواب هم په سم ډول سره نشې ورکولی.

کومه ستونزه حتماً شته زاهد چې هر څومره ټینګ شو خو ما ورته خپله د زړه خبره ونه کړه چې خبره څه ده یواځې مې وویل چې زاهده هیڅ هم نشته وړاندې مې درته وویل چې دا څو ورځې کېږي چې سردردي راته پیدا شوي. زاهد هم نور ټینګ نه شو شپې او ورځې تېرېدې زما حالت د يوې ورځې څخه بلې ورځې ته خرابېدل له يوې خوا مې د وړانګې یادونو زړګی تخناوو له بلې خوا مې د پیسو د ختمېدو زړه راپړسولی وو په لومړي ځل مې زړه ښه کړ چې کور ته تیلیفون وکړم زما څخه درې کاله مشر ورور ته مې ټیلیفون وکړ . له دوهم زنګ له تېرېدو څخه وروسته مې ورور ټیلیفون پورته کړ

! الو !الو ! سلام علیکم

ما ورته سلام ځواب ورکړ ما لا د سلام ځواب سر ته نه وو رسولی چې ورور مې خبرې راپرې کړې چې حمید يې؟

ما ورته وویل هو حمید یم. ورور مې وویل چې ولې داسې غلی غلی غږېږې څنګه خیریت خو دی

ما ورته ټوله کیسه وکړه چې سږ کال له دولسم ټولګي نه فارغېږم پیسې راسره ختمې شوي دي غواړم چې پوهنتون ته ازموینه ورکړم.

کله مې چې ورور د پوهنتون نوم واورېد ډېر خوشاله شو خو یوه خبره يې وکړه هغه دا چې ما ته يې وویل حمیده شکر دی چې ځان دې یو ځای ته رسولی دی دلته د مشران ورونه له مور سترګې راباسي وايي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو زوی خو دې په لوپرۍ پسې تللی دا څو کاله کېږي چې ستا پوښتنه يې هم نه ده کړی داسې زوی څه معنی لري .

مور د يوا ځې په سرو سترګو ژاړي او بس نور هيڅ نه وايي د دې خبرې په اورېدو سره مې سر هسې هم درد کاوه نور هم په کې پيدا شو په ژړا مې پيل وکړ ورته ومې ويل چې وروره ! زه چې کله پېښور ته راغلم له همغه ورځ مې د ښوونځي غم وکړ او ځان مې په ښوونځي کې شامل کړ چې داسې پېغورونه مې مور ته ورکول کېږي نو زه سر له نن څخه دا دی درغلم .

ورور مې وويل نه ته مه راځه خپلې زده کړې سرته ورسوه زه به پيسې د کوم چا نه پيدا کړم که پيدا نه شوې د ځان لپاره همغلته يو کار پيدا کړه او خپلې زده کړې سرته ورسوه، موبايل کې مې درې سوه کلدارې هغه هم په ختمېدو وې نو خدای په امانې مو سره وکړه. کله مې چې له ورور سره اړيکه پريکړه، په کوټه کې په بستره اوږد وغزيدم. د مور پخوانۍ خبرې مې په ذهن کې تاويدې راتاويدې کله چې زه په افغانستان کې وم راته ويل به يې چې زويه که څوک پيسې درکوي يا يې نه درکوي، که څوک سبق درباندې وايي يا يې نه درباندې وايي، زه يې درباندې وايم خپل د پوزې ټيک او د ټنډې روپۍ به هم درته خرڅې کړم ستا د ښوونځي فيس به پرې کړم .

خو ګوره خپل همت له لاسه مه ورکوه ، له يوې خوا مې د ورور خبرو په زړه دومره غم واچاوه چې ويل يې چې ستا ميرانه ورونه دې مور ته هر وخت پېغورونه ورکوي چې يو زوی دې په لوپرۍ پسې تللی، له بلې خوا مې په ذهن يو نوی چنجی اخته وو چې زما مغزه او زړه يې دواړه خوړل د وړانګې يادونه کوم. د وړانګې يادونو چنجي مې داسې په مغزو او زړه حملې کولې لکه يو څوک چې داسې ناروغي ووهي چې نه ترې روغيږي او نه ترې مړ کيږي .

له ځان سره مې دا فکر او سوچ وکړ چې د وړانګې به هم له ماسره مينه پيدا شوې وي او کنه که يوا ځې ما په لومړي غږ پر هغې زړه بايللی، که هغې زما سره مينه وای نو دومره ورځو کې به يې يو ځل خامخا ټيليفون

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی وای زه لا په همدې سوچونو کې وم چې زاهد راغی راته یې وویل چې فکري صاحب ! بیا کومې خوا
تللی یې د خیال مرغه دې بیا کوم ځای وزرې رپوي، ورته مې وویل چې زاهده یوې خوا هم نه دی تللی
. همدلته دی
زاهد وویل: ښه چې همدلته دی ته دې یو ځل ساعت ته اوګوره چې څو بجې دي کله مې چې ساعت ته وکتل
د ښوونځي رسمي ساعت څخه یو څو دقیقې تیرې هم وې ورته مې وویل چې که زه فکري وم ته په څه وې ؟
په خپل وخت به دې ویلي وای چې ښوونځی ته ځو ، زاهد وویل چې واه ، واه ، څومره ښه مخکې به چې زه
لمانځه ته پورته کیدم تا به خپله بستره ټوله وه زما کتابونه او هم دا شان خپل کتابونه به دې د تقسیم
. اوقات مطابق برابر کړي وو ، او نن وایې چې ته په څه وې
زاهد رانږدې شو راته یې وویل چې ګوره حمیده ! دا څو کاله کیږي چې زه او ته په یوه کمره کې ژوند کوو ،
ښوونځي ته په یو ځای سره ځو او راځو په یو ټولګي کې درس وایو له ما نه کومه خبره مه پټوه څه خو
خامخا شته دا څو ورځې چې دې ګورم ډېرخي زیات بدل شوی یې نه له ماسره په ورین تندي خبرې کوې نه
. دې ښوونځي کتابونه په همغه ډول په مینه مینه ګورې
ما لنډ ځواب ورکړ ورته مې وویل چې اوس ددې خبرو وخت نه دی د ښوونځي ناوخته دی راځه چې ځو
ښوونځی ته کله چې ښوونځي ته ورسېدو د روان شناسۍ استاذ په ټولګي کې ولاړ وو دواړو د ننوتو
اجازه اوغوښته ټولګي ته چې د ننه شوو زاهد کښیناست زه لا په خپل ځای ناست نه وم چې استاذ وویل
حمیده د روان شناسۍ تعریف که راته وکړې. تېره ورځ مې درته د روان شناسۍ تعریف کړی وو. ډېرو
. شاګردانو راته وکړ خو ډېر مات ګوډ وو
شاباس ته د روان شناسۍ تعریف وکړه ما چې په ذهن هر څومره زور راواړ یو تعریف مې په کې پیدا کړ خو
استاذ راته څلور تعریفونه کړي وو. ما په لنډو وویل چې روان شناسي هغه علم دی چې د ژوند یو موجوداتو


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

کردار ، راوش او سلوک تر ځیرېنې لاندې نیسي استاذ وویل شاباس یو ائې تا وکړای شول چې تعریف په . سم ډول سره راته وکړې ته کښېنه شاباس

بیا یې زاهد ته وویل چې ته پورته شه ته راته ووایه چې کردار ، راوش او سلوک څه ته وایي؟ زاهد کله لاس سرته پورته کړي سروګروي بیا لاس ښکته کړي کله یوې خوا شي کله بلې خوا زاهد ځواب پیدا نه کړ، زاهد ته یې وویل ته کښېنه استاذ دې کردار ، راوش او سلوک په اړه ډېرې خبرې وکړې، زما سترګې استاذ کې وې ناست روحاً دلته وم خو روح مې د وړانګې په کور منګولې ښخې کړې وې زمونږ د روان شناسۍ او پښتو معلمان به دې انسان پر زړه ډېر ښه پوهېدل چې څه ډول ستونزه به وه نو د هغې د ستونزې په لور به . لاړ

دهغې په اړه به یې خبرې وکړې نو زه لا د وړانګې په فکرونو کې وم چې راباندې غږ یې کړ حمیده ! څنګه په کردار ، راوش او سلوک باندې خو پوه شوې ؟

خو د استاذ خبرو باندې زه پوه نه شوم، زاهد په څنګلې سره او خوزولم چې استاذ تاته وایي لکه یو څوک چې اوس له خوبه راببدار شي سر مې پورته کړ غږ مې کړ چې استاذه ماته وایې، استاذ اوویل چې هو تاته وایم، ما ورته وویل استاذه څه ډول پوښتنه د اوکړه استاذ وویل چې د یوسف او زلیخا کتاب ختم شو خو . پرې پوه نه شوې

ددې خبرې سره ټولو شاګردانو وخندل استاذ لاس پورته کړ شاګردان غلي شول استاذ د روان شناسۍ نوټ کښېنود او په خبرو یې شروع وکړه، زه ډېر هک پک شوم لکه استاذ چې زما په زړه خبر وي او یا څه ورته ویلي وي چې حمید په دې ډول کش مکش اخته شوی دی ،استاذ وویل چې څنګه مینان شوي خو به نه یې ؟

ټولو شاګردانو وویل چې نه استاذه له مونږه مین توب څه غواړي ، استاذ خبرې ټولو شاګردانو ته کولې خو په خبرو ، خبرو کې به یې ماته ډېر کتل،استاذ وویل چې ګورۍ تاسې خو شکر دی سږ کال فارغېږی بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خدای کول کوم پوهنځی لولی تاسو باید دیوې کوچنۍ پېښې په مقابل کې ځانو نه تسلیم نه کړی، تاسو باید مقاومت وکړئ ، ترڅو بریالي شی استاذ په خبرو خبرو کې یو مثال راوړ، که یو څوک په یو چا باندې په یو نظر مین شي نو سمد ستي هغه ته خپل واک او قدرت ور نکړي هڅه دې وکړي څو مقابل لوری هم معلوم کړې چې هغه هم ستا په شان دی او که یو اځې تا پر هغې زړه بایللی دی شکر دی تاسو ځوانان یی، په همدې سره د ښوونځي زنګ وترنګیده او رخصتي شوه .

دریم څــپرکی

د جمعې شپه ډېره په سختۍ راباندې تېره شوه د جمعې ورځ وه زاهد وویل چې راځه چې د ستېډیم په لورې لاړ شو هلته به لړه د لوبو ننداره وکړو بیا به راځو.
ما ورته وویل چې ته لاړ شه او زه غواړم چې لږ ارام وکړم بیګاه شپه مې د سرخوږۍ له امله هیڅ خوب نه دی کړی. زاهد وویل: چې دا څنګه سرخوږی دی هر وخت چې زه درته وو ایم چې چکر ته ځو ته راته وایې چې سر مې خوږیږي کله یوه پلمه او کله بله پلمه اخر په تا څه شوي دي او څه درباندې وشول؟
په ډېره عاجزي مې ورته وویل چې زاهده هیله کوم تر دې نور راسره ټینګ نه شی زاهد هم غلی شو او د باندې په نه زړه روان شو زه هم د کوټې په کونج کې په دواړو پښو کښېناستم او سر مې د زنګنو په منځ کې کېښود او له ځانه سره مې ښه ډېر وژړل په ژړا ، ژړا کې مې له خولې دا لنډۍ راووتې .

افسوس ، افسوس ارمان ، ارمان دی
خالي میدان دی سترګې چا ته واړومه
اور د هجران راته بلیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قطرې قطرې غوښې د زړه پرې پخومــه

د جنت حورې زما مينې
که حال مې وينې ليونۍ در پسې شومــه

غمه راځه چې غم ونکړې
زړه مې پښتون دی ميلمه نه خفه کوينه

! ای پيښاوره بختوره
دخوست پيغلې ، لا مې لنډۍ پوره کړې نه وه چې موبايل ته مې زنګ راغی کله مې چې موبايل ته وکتل د زاهد د خور وړانګې نمبر وو زړه مې په درزه شو لاسونو مې په رپ رپي شروع وکړه لاسونه مې ډېر سخت رپېدل ، زړه مې دګ ، دګ کول موبايل مې اوکې کړ په ماته ګوډه ژبه مې وويل أ ، أ ، أ ، الو ، الو ، د هغې خوا خوږ غږ راغی بلې حميده ! وړانګه يم د زاهد خور ما ورته وويل اوه، ه، ســ ، ســـ، سمه ده و ،ه ومې پېژندې څــه ، څــه ، څــه خنګه يې وړانګې له خندا شنه شوه چې په دې ژبه دې څه شوي دي سم غږېږه ما . وويل چې هـ ، هـ ، هسې هيڅ راباندې نه دي شوي
هسې لږ روغ نه وم وړانګې وويل خه زاهد چېرې دی؟
ما ورته وويل چې هغه ستېډيم ته تللی دی لږ وروسته به راشي وړانګې وويل چې يوه پوښتنه کوم ما وويل يوه نه سل پوښتنې خو اوکړه د وړانګې ژبه بنده بنده کېده داسې يې وويل اغه..اغه څو ورځې وړاندې مې چې له ...له تاسره ....خبرې يې بندې شوې ما ورته وويل چې څه له ماسره هغې وويل چې له کومې ورځې مې له تاسره خبرې کړې له هغې ورځې وروسته مې دا ، دا ، دا زړه داسې بل ډول دی ستا د ليدو په ارمان .خدای شته چې دا خبره په ما داسې ولګېده لکه په خوږ شوي ځای چې ملهم کېږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تر ډېره غلی وم نه هغې څه ویلی شول او نه ما ، زړه مې لړ سره کلک غوندې کړ ورته ومې ویل چې وړانګې ګرانې زه هم همداسې یم خو ښه شوه چې تا په خپله راته وویل ما خو زړه نه شو غځولی چې درته مې ټیلیفون کړی وای او یا مې درته ویلي وای وړانګې وویل جانه غوږ شه چې څو لنډۍ درته ووایم .

اول مې فکر درته نه وو

اوس مې د زړه ستنې کړې در پسې دینه چې نیمه شپه شي را په یاد شې

بیا ترسهاره یاره وینښه ناسته یمه

وروستۍ لنډۍ یې چې وویله نو راته غږ یې کړ جانه ، وجانه ! خبرې مې اورې

ما ورته وویل بلې ګرانې خبرې دې اورم ،هغې وویل سمه ده جانه د اوس لپاره هم دومره خبرې بس وې، بله ورځ به بیا سره غږېږو د خدای په آمان، ما چې خوله خدای په امانۍ ته جوړوله ، هغې مې بیا خبره پرېکړه یوه خبره بله کوم جانه ، ای جانه ! زه ، زه ، زه له تاسره مینه لرم، له همدې ویلو سره یې اړیکه پرې کړه ما هم داسې موبایل غوږ ته نیولی وو په مغزو کې مې د وړانګې خبرې انګازې کولې جانه ، ای جانه ! زه له تاسره مینه لرم .

نن ورځ تر مازدیګره ډېره ښه راباندې تېره شوه ، د مازدیګر پنځنیمې بجې وې چې زاهد راغی، زه یې چې خوشاله او روغ ولیدم، زاهد هم زیات خوشاله شو راباندې غږ یې کړ حمیده ! لکه چې سرخوږی د ورک شو ، ما ورته وویل چې شکر دی زاهده اوس روغ او جوړ یم، څنګه ستا هم په ستړیدیم کې څه ساعت تېر شو کنه ؟ زاهد وویل چې ساعت مې تېر شو خو زړه مې ډېر تنګ دی زړه مې دی چې یو ځلې وطن ته لاړ شم، د وطن د نوم په اورېدو مې زړه پښو ته لاړ زاهد ته مې وویل چې یو څو ورځې صبر وکړه په ګډه به سره ولاړ شو څو ورځې وروسته هسې هم د ګرمۍ په مناسبت رخصتي ده، زاهد زما د خبرې په اورېدو سره داسې ځک غوندې شو و لکه چې په خپلو غوږو یې چې باور نه وي چې دا خبره دې حمید کړې وي.



WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه زاهد هم ګرم نه وو ، دا څو کاله کېږي چې زه کور ته نه يم تللی، که د ګرمی یا د اختر رخصتي وه یا به کومه بله رخصتي شوه نو زاهد به وطن ته روان وو زه يو ځلې هم نه وم تللی که هرڅومره به زاهد ټينګ شو ، خو زما ځواب به نه وو. نن يې چې زما د خولې د تګ خبره واورېده زيات خوشاله شو زه نه تلم، خو د مجبورۍ ورځې مې نيت وکړ چې خامخا به داځل رخصتۍ کې ځم.

لومړۍ مجبوري مې دا وه چې پيسې راسره نه وې ،بله مجبوري دا وه چې مور ، پلار ، کوچنۍ خور او ورونه مې زيات یادېدل، دريمه مجبوري باندې خو تاسو په خپله ښه پوهېږئ، دريمه مجبوري دا وه چې وړانګه مې ډېره یادېده څلور پنځه ورځې چې تېرې شوې د ګرمۍ په مناسبت رخصتۍ شوې د رخصتيو په دوهمه ورځ مونږ هم ځانونه تيار کړل.

ځلورم څپرکی

سهار وختي د ټل په موټرو کې سپاره شوو ، زه د اينې طرف ته کښېناستم،زما سره په خوا کې زاهد کښېناستو او د زاهد سره پخوا کې يو سپين ږيری وو د زاهد ښه ساعت ورسره تېر وو دواړه چې موټر ته ختلي تراوسه يو هم غلی شوی نه دی کله يو جمه راواخلي او کله بل، زما سترګې د سړک څخه د باندې په ونو کې ښښتې وې چې ډېرې په تيزۍ سره رواني وې ،مونږه چې کوچنيان وو کله به چې په موټر کې له يوې خوانه بلې خوا تلو نو مور به دا فکر کاوه چې ونې رواني دي ناست په موټر کې وم خو د خيال مرغه مې د وړانګې په کور وزرې رپولې، زه ورشم د وړانګې د کور دروازه قرار ، قرار ټک ټک کړم ،يو دوه دقيقې وروسته په خپله وړانګه راووځي بې اختياره يې له خولې ووځي حميده ته...... زما ژبه بنده وه خبرې مې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې کولې، دوره ترډېره يو بل ته ګورو ما به چې سترګې ورپورته کړې هغې به سترګې ټيټې کړې چې هغې به سترګې راجګې کړې نو ما به سترګې ټيټې کړې .

زه ترډېره غلی وم، وروسته مې غلې ورته وويل وړانګې زه دادی اخر هم راغلم

وړانګه هم په ګيله منه لهجه ووايې ظالمه ! په دې دومره ورځو کې تا يو ځلې هم ماته ټيليفون ونه کړ ،که زه په ريښتيا درباندې ګرانه وای يو ځل خو به دې فون راته کړی وو. دا ټول دروغ دي ستا په زړه کې زما لپاره ځای نشته ته درواغ وايې ته له ما سره مينه نه کوې د وړانګې خبرې مې په مغزو کې انګازې وکړې، ته دروغ وايې ته له ما سره مينه نه کوې زه لا په همدې فکرونو کې وم چې د موټر بريک هر څه راګډوډ کړل.

د کرمې ايجنسۍ لومړی پټک وو د ملېشا والا موټر ته راپورته شو له يو دوو کسانو يې پوښتنې وکړې د کوم ځای يې وا هلکه ! چېرې روان يې سوال او ځواب وشول ملېشا والا له موټر څخه ښکته شو موټروان ته يې وويل چې حرکت وکړه موټر روان شو.

کله چې د ټل بازار ته ورسېدو ، زاهد وويل چې شکر خدايه ټل ته خو راورسېدو چې اوس زرد بونډرۍ يا سرحد موټر ډک شي او حرکت وکړي، له موټره راښکته شوو د سرحدي موټرو په لور روان شوو ، له ځان سره مو لږه ميوه راوخيسته چې په لاره يې اوخورو د سرحد په موټر کې سپاره شوو تور رنګه فلائنګوچ وو . په موټر کې ما او زاهد پخپلو کې خبرې کولې، زاهد وويل چې شکر دی سرحد ته خو چې خدای کول لږه لاره ده ما د هو په دود سر وخوځاوه.

زاهد خبرې کولې خو زه په خبرو نه پوهېدم يو اځې مې هو او بلې ويل زاهد چې مخ راواړوه زما سترګې يې پټې ولېدې زاهد غلی شو ، زه ويده نه وم ترډيره په دې فکرونو کې وم چې کله له خيره خوست ته ورسېږم زه به چېرې ځم کور ته خو نه شم تلی ځکه که لاړ هم شم ميرانه ورونه به بيا سترګې رانه باسي چې چېرې تللی وې او څه دې کول ولې په خپله مخه تللی وې زړه به مې کله ويل چې د ماما ګانو کره به لاړ شم او کله به يې ويل چې نه د زاهد دوی کورته لاړ شم .


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته به وړانګه هم ووینې بیا به مې ویل که هلته لاړ شې هسې نه کومه ستونزه د وړانګې له خوا راته پیدا شي موټر ودرېده او زه یې هم د خیالونو د دنیا څخه دې دنیا ته راوستم او د موټر دروازه خلاصه شوه او یو . یو په نوبت سره ښکته کیده له موټره راښکته شوو د پاکستان ملېشې مو تلاشي واخیسته
د پاکستان او افغانستان په ګډه پوله کې لس دقیقې په پښو مزل وکړ کله چې د افغانستان سرحدي پولیسو تانې ته راورسېدو تلاشي وشوه یو څو نفر یې ودرول چې په هغوي کې زه او زاهد هم شامل وو له دوي پوښتنې وشوې لړې سره ستړي کړل، وروسته زما او د زاهد نوبت راورسېد ، پولیسو ووېل چې . تاسې څوک یاست له کومه ځایه راغلی او چېرې روان یاست
ما ورته وویل چې متعلمین یو له پیښاوره راغلو خوست ولایت ته روان یو یو .. پولیسو نور څه ونه . ویل .رخصت یې کړو
کله چې خوست بازار ته راورسیدو ، زاهد وویل چې ډېر سره ټینګېږو نه دواړه به زمونږ کره ځو له هغې وروسته به بیا خپل کور ته ځې ما هم ورسره او منله د زاهد د کور ته چې راورسېدو د غرمې دولس بجې وې د کور دروازه بنده وه ټکنده غرمه وه، زاهد دروازه ټک ټک کړه، د لږ ځنډ وروسته دروازه د زاهد مور . رحمت بې بې ببرته کړه. کله یې چې په ما او زاهد سترګې ولږېدې په سترګو کې یې اوښکې راغلې لومړې یې زه ښه ښکل کړم، او له هغې وروسته یې زاهد په دواړو مخو ښکل کړ او کور ته دننه شوو ، کله چې کور ته د ننه شوو د وړانګې کوچنۍ خور چې د وړانګې نه یو کال کوچنۍ وه سیمه مې مخې ته راغله، ستړي مشي یې راکړه او بیرته زر د نغري په لوري لاړه، په کوټه کې کښېناستو د شمسیې د برق څخه یې کوچنۍ پکه چلند کړه. هغه یې ما او زاهد ته مخامخ کړه، دزهد مور مې مخې ته لکه کوچنۍ ماشومه . کښېناسته
زاهد د قضايې حاجت لپاره د باندې لاړو، زه ډېر په سوچونو او خیالونو کې ناست وم ،چې وړانګه ولې ستړي مشي ته رانغله وړانګه په کور کې نشته، که ستړي مه شي ته ولې نه راځي، ایا وړانګې له مانه زړه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

بد دی، ایا وړانګه زما سره مینه نه کوي ، که کوي یې بیا تراوسه سټرې مشي ته ولې رانغله، خدای خبر چې دوړانګې مور به څومره خبرې راته کړې وي ،خو زه د وړانګې مور په یوې خبرې هم پوه نشوم ، . دوړانګې مور په لاس وخوځولم
حمیده ! په کوم خوا تللی یې، زما خبرې دې لکه چې وانه وربدې، ما یو دم ټکان وخوړ ورته ومې ویل چې یوې خوا هم نه یم تللی خو سر مې لږ غوندې دروند دی ډیر وخت کېږي چې په موټر کې مې سفر نه دی کړی. هغې پوښتنه بیا تکرار کړه چې کور ته ولې نه راتلې، دا دومره وخت چیرې وې زاهد زوی به راته ویل چې له ما سره په یوه کوټه کې درس وایي،
له ماسره دی ،خو ما به نه منله میرانه وروڼه دې د مور سترګې راباسي ،هر وخت پېغورونه ورکوي چې له دا ډول زوی نه خو ستا لپاره مرګ ښه وو ، مور د یو اځې په سرو سترګو ژاړې هیڅ نه وایي ریښتیا ،ریښتیا ووایه چېرته تللی وې، ما ورته وویل مورې په دې کې د دروغ ضرورت څه دی چې زه دروغ وایم دلته مې . ورونو سبق ته نه پرېښودم د مجبورې ورځې په پټه پیښاور ته لاړم
هلته مې سبق ویل پیل کړل، زه اوس هم نه راتلم خو پیسې راسره ختمې شوې مجبور وم چې راغلم ،مونږ لا په خبرو بوخت وو چې وړانګه او سیمه کوټې رادننه شوې، دواړه په داسې ډول کوټې ته رادننه شوې چې سیمه مخکې او وړانګه یې ترشا رارروانه وه ما ګومان وکړ چې وړانګه له ما شرمیږي ځکه کوټې ته نه راتله . اوس چې راغله هم د سیمه شاته غلې غلې رارروانه وه
سټرې مشي یې چې راکړه او د باندې ډېره تېزه لاړه لکه چا چې پسې اخیستې وي، سیما د مور په څنګ کې کښېناسته او ویل چې وړانګه نه راتله، شرمېده ماته یې وویل چې تا خو هسې هم لاس ورکړی ته راته مخکې
شه زه به وروسته درپسې ځم، وچ په زور مې سټرې مشي ته راوسته مور یې وویل چې وړانګه همداسې حیاناکه ده شرمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ډېره مو‌ړ په خبرو بوخت وو چې زاهد هم راغی وړانګې له نغري نه غبرګ سیما ، وه سیما ،ډوډۍ تیاره ده لاسونو ته اوبه ور واچوه لاسونه مو اوینځل ډوډۍ وړانګې تیاره کړه کله یې چې ډوډۍ راوړه زه او زاهد ډوډۍ ته کښېناستو ، دوړانګې مور وویل چې تاسو ډوډۍ اوخورئ مونږ همدا اوس ډوډۍ اوخوړه دا ځل وړانګې هم لږ جرات پیدا کړی وو . د مور سره په څنګ کې کښېناسته ما به چې سترګې ورپورته کړې . سترګې یې په ما کې ګنډلې وې

سترګې به یې ښکته کړې، دوه درې ځلې دا لوبه تکرار شوه په څلورم ځل مې چې سترګې ورپورته کړې . هغې ګڅه سترګه ووهله (سترګک ) یې وواهه او له ځانه سره غلې موسکۍ شوه او د باندې لاړه

مونږ چې ډوډۍ اوخواړه حجرې ته د استراحت لپاره لاړو حجرې ته چې راغلو تیار ځایونه اچول شوي وو ، دواړه اوږده وغزیدو زاهد باندې خو دومره زر د خوب خپسه کښېناسته چې ما لا سترګې هم نه وې پټې . کړې

. زه په سوچونو ، سوچونو کې وم چې خوب راباندې غلبه کړېوه او ویده شوی وم

خوب مې لیده چې د حجرې په لویه دروازه غلې وړانګه رادننه شي، زه په حجره کې مخ په قبله ناست وم وړانګه غلې، غلې په قراره، قراره راروانه وي، زما سترګې په دواړو لاسونو پټې کړي زه لومړی وایم زاهد یې، وړانګه مې سترګې راباندې ټینګې کړي، د سترګو د ټینګولو نه یې مقصد دا وي چې ګني زاهد نه یم، زه بیا ووایم چې سیمه یې، هغه بیا سترګې راباندې ټینګې کړي ،دا ځل ما لاسونه پورته کړل د وړانګې . لاسونه مې په لاس کې ونیول په قراره مې وویل چې وړانګه یې

د وړانګې د نوم په اوریدو سره، وړانګه زما سترګې خوشي کړي، راته ووایي چې زما نه په تا هغوي ډېر ګران دي اول دې وویل چې زاهد یې بیا دې وویل چې سیما یې او بیا خو نور نومونه واخیستل زما نوم دې ترټولو وروسته واخیستو وړانګه مراوره روانه شي زه ورباندې غږ وکړم وړانګې ای وړانګې !زما خبره خو واوره ای ، ای !!په همدې سره زه غواړم چې پاڅم خو چې کله مې د پاڅیدلو کوشش وکړ چې پاڅېږم


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې مې وغړولې ای خوا دیخوا مې وکتل پوه شوم چې د زاهد دوي په حجره کې یم ،بیا په خپل ځای . خملاستم هر څومره سترګې مې چې پټې کړې چې ویده شم یو ځل بیا وړانګه ووینم خو خوب وتښتیده زه پاڅیدم د حجرې په برنډه کې یوه پیپه همداشان په خوا کې ورسره یو بدنۍ (لوټه) ایښودل شوې وه اودس مې وکړ بیرته حجرې ته را دننه شوم، زاهد پاڅیدلی وو سترګو کې یې سوک واهه راته یې وویل چې ځنګه خوب دې وکړ ؟ما وویل چې ډېر ښکلی خوب مې وکړ، کله مو چې اودسونه او لمانځونه وکړل، زاهد وویل چې ځنګه کور ته به دې زړه نه کېږي؟ ما ورته وویل چې زه هیڅکله کور ته نه ځم زه ټوله . رخصتي همدلته تېروم

زاهد هک حیران شو ، ویې پوښتل چې خبره څه ده ولې کور ته نه ځې؟ما د الف نه تر یاء پورې ټوله خبره ورته بیان کړه. زاهد لږ خفه هم شو ، راته یې وویل خه ځکه دې د څو ورځې د پیښمني غوندې مخ نیولی لکه . یو څوک چې په زوره پیښمني ته راپاڅوې

دې خبرې سره ما لږ وخندل زاهد وویل: خانده مه ،تا دومره لویه خبره له مانه پټه کړېده ،زه کوم پردی نه یم ما به دې وروره نه هم ځان ته نږدې ګڼې ما ورته وویل زاهده تېر هېر باقي خیر زاهد وویل ځنګه تېر هېر باقي خیر،تا ما ته دومره څه په دومره وخت کې ونه ویل چې زه له کوره په پټه راغلی یم پیسې راسره ختمې دې ما او زاهد په خپلو کې ډېرې خبرې وکړې زاهد وویل چې زه به سبا ورځ لاړ شم مور به دې راولم د مور . سره به د نږدې نه ووینې

پنځم څپرکی


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار زاهد زمونږ کور ته لاړو زه د زاهد دې په کور کې بېل پاتې شوم ،دوړانګې مور ته مې وويل چې زه به دې باندې حجرې ته لاړ شم، هغې هم راسره اومنله دوړانګې مور ترډېره راسره ناسته وه ډېرې خبرې يې راسره وکړې ،کله چې پاڅېده راته يې وويل چې حميده زه به کور ته لاړه شم. غواګانو ته به شوتله او واښه وکړم ،تاته به مې وړانګه لورکۍ چای راوړي تر هغې به زاهد بيرته راشي، ما ورته وويل سمه ده، کله چې دوړانګې مور پاڅېده له هغې خوا وړانګه چاينک او پتنوس په لاس راروانه وه ،

دوړانګې مور راغې کړ حميده دا دی وړانګې لورکۍ مې چای راوړې، وړانګه حجرې ته رادننه شوه او مور يې کور ته لاړه يوا ځې زه او وړانګه وو ما او وړانګې ترډېره خبرې نه کولې لکه څنګه چې له مانه د خبرو لورى او پلو ورک وو چې

خبرې له کومه راپيل کړم، زما په شان وړانګه هم وه، زمونږه دا خاموشي وړانګې د پيالې په ډکولو سره ماته کړه، لومړی پياله يې د ځان مخې ته کېښوده بله پياله يې راواخيسته کله يې چې ډکوله راته يې وويل جانه بوره په کې واچوم کنه ؟

د جان د نوم په اورېدو سره زيات خوشاله شوم د جان غږ مې په لومړي ځل زيات خوښ شوی وو چې کله يې په موبايل کې خبرې راسره کولې، کله يې چې اړيکه پرېکوله راته يې وويل جانه ای جانه ! زه له تاسره مينه لرم دا ځل د جان غږ په ما دومره خوږ ولګېده چې څه درته ووايم، ما ورته وويل ګرانې خوښه دې خپله که بوره په کې اچوې يانه، وړانګې په پياله کې بوره واچوله، وړانګې وويل جانه څومره رخصتۍ يې درکړې ؟

ما ورته وويل شل ورځې رخصتي لرو،

له هغې وروسته به له خيره ځو، وړانګې وويل ته به له خيره ځې ما چاته پرېږدې ،ما ورته وويل اول خدای ته ،بيا هغه چا ته چې له چا سره مخکې اوسېدې، د وړانګې په سترګو کې اوښکې راغلې په ژړا يې وويل جانه زه، زه بغير له تانه يوه شيبه هم ژوند نه شم کولی ته زما ژوند يې، ته زما مينه،ته زما روح يې خو ګوره ګرانه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې نه چې د پېښور د نجونو په ليدو زه له تانه هيره شم ،ما له ياده ونه باسې ما ورته وويل وړانګې ګرانې يا خو لس پنځلس ورځې پاتې دي دومره زر خو نه ځم ،هغې وويل چې زه هم پوهيږم چې لس پنځلس ورځې پاتې دي که مې پلار يا مشر ورور راغی هغه مې بيا داسې په آزاده نه پرېږدي چې په يواځې توګه له تاسره کښېنم پلار مې درې ورځې کيږي چې کابل ته تللی ،مشر ورور مې په حکومت کې دنده ترسره کوي ،ورور خو مې هسې هم په شپو شپو نه راځي .

خدای مې دې پلار هم تر هغې رامه ولې ترڅو چې ستاسو رخصتۍ نه وي پوره ،وړانګه پاڅېده چاينک پيالې يې ټولې کړې څنګ ته يې کېښودې يو ځلې يې منډه کړه د حجرې نه يې سر بهر کړ ايخوا ديخوا يې سترګې واړولې، زر بېرته زما خواته راغله مخامخ په دواړو پښو کښېناسته ،زما لاس يې واخيست په خپل سر يې کېښود ،ويې ويل جانه ستا دې زما په سر قسم وي چې مې هېره نه کړې،

زه لکه بت داسې ناست وم يواځې مې د وړانګې په سترګو کې سترګې ګنډلې وې، ريښتيا چې وړانګه وه وړانګې ته خدای بيل صورت ورکړی وو ، کله چې پاڅېده ما له سره ترپښو ورته وکتل، له ځان سره مې غلي وويل چې ماشاء الله په خپلو سترګو وويږدم هسې نه چې له نظر يې کړې که څه هم زما نظر نه لږېده خو بيا مې هم وويل چې ماشاء الله .

وړانګې چاينک او پيالې واخيستې له دروازې چې بهر کېده يو ځلې يې بيا سترګې راواړولې له ځان سره غلې موسکۍ شوه او لاړه، د مازديګر څلور بجې وې چې زاهد راغی راته يې وويل چې مور دې اوس راتله خو د ورور په ټېنګار پاتې شوه، ورور د ويل چې يو څو ورځې وروسته به درشو کومه پلمه به جوړه کړو . زه مور کوچنۍ خور درې واړه به درشو ما ورته وويل چې دا خو ډېره ښه شوه چې مور کوچنۍ خور او ورور ووينم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

دا درې ورځې ډېرې په سختۍ راباندې تېرې شوې دقیقه په دقیقه به مې ساعت ته کتل چې اوس به مې مور راځي اوس به راځي، له بله پلوه دا درې ورځې مې وړانګه هم نه وه لیدلې، که د غرمې یا د ماخستن ډوډۍ وخت به شو زاهد به راته وویل چې راځه ډوډۍ به کور کې اوخورو، بیا به حجرې ته راشو، ما به ورته وویل چې نه همدلته ښه یم ،کور ته ځکه نه تلم، ما به دا فکر کاوه چې په ما ټوله کورنۍ خبره ده چې زه له وړانګې سره مینه کوم،
سړي ته ځان داسې معلومېږي چې ټول راباندې خبر دي، ټول ما ته ګوري، په همدې وجه به زه کور ته د ډوډۍ خوراک لپاره نه تلم، په څلورم سهار مې مور کوچنۍ خور او ورور راغلل، مور او خور مې کور ته تللې وو، ورور مې سمدستي حجرې ته راغلو، کله یې چې په ما سترګې ولږېدې، غږ یې کړ حمیده ! حمیده !دواړه یو بل ته ور تر غاړې وتو ،تر ډېره مې ورور په غېږ کې نیولی وو په ژړا ، ژړا کې یې راته وویل ولې حمیده،دومره، دومره خو به دې زه خبر کړی واي چې پېښاور ته په زړه کړو پسې ځم !ولی ؟ ولی؟اخیرولې؟
داسې خو څوک نه کوي ،مونږ څومره ایخوا دیخوا پوښتنې درپسې وکړې، مور او کوچنۍ خور خو دومره خفه وې چې داسې ورځ به نه وه چې دوی به سترګې سرې نه وې اچولې،
ورور مې اوس لږ ارام غوندې ښکاریده، د زاهد سترګو کې هم اوښکې راغلی وې ،خو زاهد ما ته په برګو برګو کتل شاید چې غصه ورغلې وي، ما دا ګمان وکړ چې ویل به یې تا که مور او پلار وروڼه نه شول خبرولی ما ته خو به دې دومره ویلي واي ، اوس به دې نه مور دومره خفه وه او نه وروڼه، زاهد وویل راځئ کور ته هلته به دې مور او خور انتظار کوي،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې کور ته د ننه شوم، مور مې ولیده، بې اختیاره یې له خولې غږ راغی حمیده ،زما حمیده زویه !زه یې په غیږ کې ونیوم ،تر ډېره یې په غیږ کې نیولی وم ،په مخ او تندي ښه ښکل کړم لږه به غلې شوه، بیا به یې په ژړا پیل وکړ زما حمیده زویه !ما په ناز، ناز رالوي کړیه زویه !ولې دې له ځانه د انځر ګل جوړ کړی دی ،ولی دې کور راته خوشی کړ،

زه دې یو اځې پیغورونو ته پرېښودم، ما هم سر د مور په سینه ایښی وو د مور سینه مې په اوښکو لنده او خشته اچولې وه کله چې د مور له غیږې خلاص شوم ،کوچنۍ خور بې اختیاره غیږې ته راولوېده، د خور په سر لاس راتېر کړ ورته مې وویل خورې اوس خو دلته یم اوس ولې ژاړې؟ مورې تر ډېره یو بل سره خبرې کولې، ما ورته ټوله کیسه د خوست نه د تګ پېښور ته او هلته ځان په ښوونځي کې شاملول د زاهد سره اوښتل له سره تر پایه ټوله ورته وکړه ،

مور مې هم کیسه راته وکړه چې مونږ په تاپسې څومره خفه وو، ستا په سر زه څومره راټل کېدم هر چا به له مانه سترګې باسلې چې زوی د نازولو اوس یې ګوره چې دومره به درته وکړي چې په ریبلو به یې سترې شي ،مور مې نن ډېره خوشاله وه څنګه چې مور ته پېغورونه ورکول کېدل چې زوی دې په لوپرۍ پسې تللی هغسې نه وه زه یې یو متعلم ولیدم ، زه یې یو زده کوونکی ولیدم ،ما او مور چې خبرې کولې وړانګه هم ولاړه وه دا درې څلور ورځې کېږي چې مې وړانګه نه وه لیدلې زما او د مور د کیسې په اورېدو د وړانګې په سترګو کې څو ، څو ځله اوښکې راغلې، بیا به یې پاکې کړې نن مې د مور په راتګ سره وړانګه یو ځل بیا ولیده ،

تر ډېره یې په سترګو کې ګیله کوله چې د ډوډۍ د خوراک لپاره ولې کور ته نه راځې، زه او وړانګه په سترګو ، سترګو کې سره پوه شو، وروور خو مې په همغه ورځ کور ته لاړو مور او کوچنۍ خور مې تراوسه همدلته وو، په پنځمه ورځ مې وروور بیرته راغی زه زاهد او څو نور ملګري سره ناست وو، چې وروور مې حجرې ته را داخل شو، له سلام او ستړي مشي څخه وروسته یې زه د باندې اوغوښتم د باندې چې لاړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مې يو څو روپۍ راکړې ډېرې خبرې او ډېر نصيحتونه يې راته اوکړل په خپلو خبرو کې به کله کله په ژړا هم شو ورور مې د خبرو په پای کې وويل: چې زه راغلی يم چې مور او خور مې بوځم هسې نه چې په کور کې را باندې شکمن شي تر مازديګره ورځ ډېره ښه وه خو کله مې چې ورور او کوچنۍ خور ته رخصت ورکړ د دواړو له سترګو نه بې اختياره اوښکې راغلې، زما هم زړه ډک ، ډک کېده ورور ته ورتر غاړې وتم، تر ډېره مو يو او بل په زړونو پورې ټينګ نيولي وو ،

کوچنۍ خور مې پر دواړه مخه ښکل کړه، بيا ئې د مور رخصت مې پاتې وو مورمې تر او سه له کوره نه وه راوتلې يو ځل مې له ځانه سره وويل چې له موره پټ شه ،بيا مې له ځان سره وويل چې مرګی لنډ دی خدای خبر بيا چې راځم مور به مې مړه وي که ژوندی، يا کيدای شي له موره زه مخکې شم مرګی زوړ او ځوان نه ګوري ،کيدای شي چې پيښور ته ځم په لاره کې موټر راپسې ټکر شي ،زه لا په همدې فکرونو او سوچونو کې وم چې د دروازې غږ پورته شو ،کله مې چې سترګې پورته کړې دزاهد مور او دواړه خويندې يې په دروازه کې ولاړې وې مور مې راوړاندې شوه راته يې وويل چې زويه زړه خو مې نه کيږي خو څه وکړم ، مجبوره يم چې لاړه شم کنې ، کنې

مور مې په ژړا شوه کنې ،زه به تر هغې همدلته واې، ترڅو چې ستا رخصتې پوره شوې نه واې مور مې چې کله رخصت راځيني اخيست ،راته يې وويل زويه په خير سره لاړ شې په خير سره بيرته راشې ،کله چې بيرته راځې له پوهنتونه فارغ وې زه به څومره خوشاله شم چې دادی زوی مې له پوهنتونه فارغ شو په کور کې به په جګو سترګو ګرځم وايم به چې تاسو خو ماته ويل چې زوې د په لوپرۍ پسې تللی کله چې راځي دومره به يې درته کړلې وي چې په ريبلو به يې سترې شې،

کله چې مور رخصت راځيني واخيست دا لنډۍ يې راته وويلې

!! ارمان ، ارمان تېره ساعته

راستون به نشې که ملنګ در پسې شـــمه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلتونه ښیرې به درته نکړم
واړه دې مړه شه لوی دې او غواړه خیرونه

بیلتونه څومره زوره ور یې
چې پښتانه دې لړا او بر ویشلي دینه

حمیده ستا په بیلتانه کې
په کلیو ګرځم ځمکه ځای نه راکوینه

مور مې چې لنډۍ ویلې له هرې لنډۍ سره به یې وړې ، وړې سلګۍ له خولې راتلې په ولاړو کسانو کې یو هم بې ژړا پاتې نه شو ، ډېره سخته شیبه وه د مور ، وررور او کوچنۍ خور څخه جدا یې دوی مې رخصت کړل او لاړل ،
شپې او ورځې تېرېدې وړانګې سره مې اوس مینه دومره زیاته شوې وه چې زړه مې په مرګې هم نه غوښتل چې له هغې څخه جدا شي ،د ورځو په تېرېدو سره هغه شپه هم راغله چې د هغې شپې پر سبا زه د وړانګې او وړانګه به زما له سترګو پناه شي، د شپې اته بجې وې، زه او زاهد په حجره کې سره ناست وو د زاهد موبایل ته زنګ راغی، له سلام او جوړ تازه څخه وروسته یې زاهد ته وویل چې کولی شې زمونږه حجرې ته راشې ګپ شپ به اوولو سبا سهار به وختي د خپل کور په لوري ځې ،زاهد هم ورسره او منله زاهد ماته هم ټینګ شو چې ته هم را سره لاړ شه خو ما ونه منله ،زاهد چې کله تلو راته یې وویل چې د ډوډۍ خوراک لپاره بیا کور ته لاړ شه ،
ما ورته وویل چې سمه ده، ته ورځه زما غم مه کوه ،زاهد لاړو زه په حجره کې یو اځې پاتې شوم ،د ماخستن اته نیمې بجې وې چې وړانګې ډوډۍ راوړه، د نورو شپو به چې وړانګې ډوډۍ راوړه او غږ به یې وکړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زاهده ! زاهده وروره ! ډوډۍ مې راوړه، زاهد به دروازې ته ورغی ،او ډوډۍ به يې د وړانګې له لاسه واخيسته ،خو نن شپه چې وړانګې ډوډۍ راوړه د حجرې د دروازې مخې ته يې يو اځې زما چپلکې وليدې ،بې له دې چې غږ وکړي په بيړه راغله ،
په يو لاس کې يې پتنوس ،په بل لاس کې ورسره د پيو جام وو او په تخرګ کې يې د ډوډۍ دسترخوان وو ، کله يې چې ډوډۍ او دسترخوان کېښودل ،راته يې وويل چې زاهد چيرې دی؟ ما ورته وويل چې هغه دې ګونډيانو کره تللی شپه يې همغلته ده سبا سهار راځي ،وړانګې ايخوا ديخوا وکتل په بيړه يې وويل شکر خدايه چې تللی، زه د شپې په لس نيمو بجو راځم چې د حجرې لويه دروازه بنده نه کړې، ما ورته وويل چې سمه ده،
خو ګوره چې راځې ډېر خيال به ساتې هسې نه چې زاهد هلته شپه کول خوښ نه شي او د شپې رانشي، وړانګې وويل چې سمه ده، وړانګه لاړه ما ډوډۍ ځانته ګوښې او خوړه ،د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته اودس او لمونځ مې وکړ په حجره کې کښېناستم د ځان سره مې ډېر سوالونه وکړل چې خدايه زاهد خو را مه ولې ،زه په انتظار ناست وم چې د يوې دقيقې څخه راته يو ساعت ،او د يو ساعت څخه راته پوره ورځ جوړه وه ،
ما ويل چې کله به لس نيمې بجې کيږي، زما د ساعت ستن لا سمه لس بجو ته نه وه نږدې شوې چې د حجرې د دروازې اواز مې تر غوږو شو زړه مې ډېر خفه شو ما ويل که زاهد راغی، ځکه چې ما ويل چې وړانګه په لس نيمو بجو راځي لا خو اوس لس بجې هم نه دي، يو دوه ملېه د انتظار څخه وروسته وړانګه د حجرې کوټې ته راد ننه شوه ،چپلکې يې په لاس کې نيولې وې، دروازه يې بنده کړه چپلکې يې د دروازې خواته کېښودې،
ما ورته وويل چې څنګه دومره وخته راغلې تاخو لس نيمې بجې ښودلې وې، وړانګې وويل چې نور مې انتظار نه شو کولی، ما ورته وويل چې ماته هم د يو ملې څخه پوره يو ساعت جوړ شوی وو ريښتيا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظار ډیر سخت وي ، ما او وړانګې ډېرې خبرې وکړې وړانګې د خبرو لومړۍ شروع د ګیلو نه وه چې ماته یې وویل چې ظالمه ستا زړه د غوښې دی او که د کوم بل شي څخه جوړ دی؟ ما ورته وویل چې ولې؟
وړانګې وویل په دومره شپو کې یو ځلې کور ته رانغلې یوه ورځ خو به دې ډوډۍ خوراک ته زما لپاره هم کور ته راغلی واي ،
ما ورته وویل وړانګې د پښتنو وطن دی هسې نه چې زما او ستا په مینه څوک خبر شي خدای دې نه کړي داسې نه چې تا ته بیا کوم مشکل پیدا شي، وړانګې وویل چې جانه تر کومه به زما او ستا مینه پټه وي چې خبرېږي خبر دې شي، نور به څه مشکل راته جوړ شي وبه مې وژني نور به څه وکړي جانه ستا په مینه کې چې مړه شم هم نه یم مړه، ما ورته وویل چې وړانګې خدای دې هیڅکله هم داسې ورځ رانه ولي چې ته مړه وې او زه ژوندی، زه او وړانګه لا په خبرو بوخت وو چې د حجرې د دروازې ګړب شو، زما د وړانګې وار پار خطا شو،
په حجره کې د ننه یو کټ اینښودل شوی وو چې په هغې کې بسترې سپنجونه کیښودل شوي ول وړانګې ته مې وویل چې بیړه کوه د کټ لاندې پټه شه ،وړانګې هم وار خطا نه کړ سمد ستي د کټ لاندې پټه شوه ساه یې ډوبه ، ډوبه کېده په کټ باندې ریجایي هواره وه ،وړانګې چې هر څومره کوښښ وکړ چې ریجایي لږه ځمکې ته را کش کړي خو وس یې ونه رسېده، ځکه چې په کټ کې زیاتې بسترې اینښودل شوي وې زه هم ورغلم وړانګه د کټ لاندې وه ریجایي ته یې زور ورکاوه ،
ما له پاسه بالاخره ریجایي مو لږه ځمکې ته راکش کړه، زه په کونج کې غلی کښیناستم لکه سوالګر وړانګې یو ځل بیا د کټ لاندې څخه غلی سر رابهر کړ په بیړه یې خپلې چپلکې راوخیستې او سر یې بیرته د کټ لاندې کړ ،نوره د کټ لاندې وړانګه هم ستړې شوې وه زړه یې خولې ته راغلی وو له یوې خوا ډار وو له بلې خوا د کټ لاندې وه زړه یې ډیر خفه وو ماته یې په ورور راغږ کړ چې څوک دي ماورته وویل تراوسه خو څوک نشته پته یې نه لږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر وکړه چې زه يې اوګورم چې دا څوک دی او څنګه وځنډیده، کله چې د باندې ووتم د لوېې دروازې په خوا کې سپی ولاړ دی سپی کله یوې خوا شي او کله بلې خوا خو تلی نه شي، ما له ځانه سره وویل کیدای شي د باندې څوک ولاړ وي د سپې له ډاره به حجرې ته راتلی نه شي، خو چې کله بنه ورته زير شوم د سپي په غاړه کې ځنځير وو هغه ځنځير يې په وره کې کلک نښتی وو ،خدای شته چې بنه غصه هم راغله غلی ورغلم د سپي ځنځير مې له دروازې څخه خلاص کړ، سپی هم دومره تيز لاړ لکه د جيل څخه چې خلاص شوی وي ، دروازه مې بنده کړه ما ویل که زاهد را هم شي دروازه چې بنده ووینې کیدای شي چې بیرته خپلو ملګرو ته ورشي

د حجرې په لورې چې راغلم حجرې ته دننه شوم وړانګه لا همغسې د کټ لاندې پټه وه ورو يې د کټ ریجایي پورته کړه راته يې وويل چې څوک دي؟ ما ورته په خوله لاس کیښود غلي مې ورته وويل چې د باندې زاهد دی، زر يې ریجايي پربښوده راته يې وويل چې ته خو دلته مه اودرېږه اوس مې په خپله ورباندې وینې،ما په وړانګه باندې هسې ټوکه کوله د باندې خو هيڅوک هم نه وو ځکه دروازه چې ګړبيدله هغه د سپي د ځنځير له امله ګړبيدله ،

زه غلی په دواړو پښو کښېناستم د کټ نه مې ریجايي پورته کړه وړانګه غزیدلې پښې پرته وه په سر يې لاس ایښې وو زړه يې ډګ ، ډګ کول ما غلی لاس د هغې لاس ته وروړ مخ يې راواړوه ورته مې وويل چې راووځه، هغې ډير په قراره وویل چې زاهد څه شو ما ورته وويل چې ته راووځه خدای به هرڅه اسانه کړي ،کله چې د باندې راووته ورته مې ټوله کیسه وکړه وړانګه له خندا شنه شوه راته يې وويل چې ظالمه اول به دې ویلې واي په ما خو د قیامت تېر کړ ،

وړانګه چې په ګلابي شونډو يې موسکه خوره وه زما په لورې راغله په قراره يې څپيړه زما مخ ته راکړه راته يې وويل چې لوي ظالم يې داسې هم څوک کوي ،شپه سبا کېدو ته نږدې وه مونږ ډېرې خبرې وکړې بنه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه مو سره تش کړل،وړانګي راته یو دسمال یوه ګتي یو قلم راکړ ما هم کوم شیان چې په پېښاور کې د وړانګي په نامه اخیستي وو هغه شیان مې ټول ورکړل،
وړانګي چې له ما څخه رخصت واخیست په دروازه کې یې مخ بیرته راستون کړ په ژړا کې یې راته وویل جانه خدای خبر چې بیا داسې زر سره ووینو ،خو ګوره جانه چې هېره مې نه کړې زه به د ستا په نوم ژوند تیروم زه به ستا یم بغیر له تانه به زما دخاوند په نوم څوک یاد نشي که د له یاده وییستم هېره دې کړم هغه سندرې دې اوریدلي چې وايي،
! یاره په ماګرانه که ستا نه شومه
ځان به کړم ذرې د ځان به نه شـــمه
ته زما د مینې پروا مه کوه او مه کوه
ستا په محبت به قربان زه شمه -
ځان به کړم ذرې د ځان به نه شـــمه
وړانګه کور ته لاړه زه د باندې راووتم، د لمانځه لپاره مې اودس وکړ ، د سهار لمونځ مې چې وکړ کور ته لاړم تر اوسه پورې ما زړه نه وو کړی چې په یواځې توګه د زه وړانګي کور ته داخل شم، دا زما لومړی ځل وو ،کله چې انګړ ته ورسېدم د وړانګي مور،راباندې غږ کړ ، حمیده زویه ښه ده چې په خپله راغلې، کنې ما وړانګه درلیږله چې درته ووايي چې د چای څښلو لپاره کور ته راشه، ما وویل خیر اوسېد وړانګې مورې، دوړانګي مور راته وویل ته کوټې ته درځه ماته غږ که لږه پاتې ده هغه زکوم زه هم درځم ،کله چې کوټې ته لاړم د کوټې په کونج کې وړانګه غلې ناسته وه ،
سر یې د دواړو ځنګنو په منځ کې ایښی وو ، زما په ورتګ هیڅ خبره هم نه شوه، زه کښېناستم په قراره ټوخی مې وکړ ،وړانګي سر راپورته کړ په سپینو ګلابي اننګیو یې د اوښکو څاڅکي داسې ښکاریدل لکه د ګلاب په پاڼو چې شبنم پروت وي، ما ته سمدستي هغه بیتونه راپه یاد شول چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چنار غوندې شباب لرې جنانه
ښکلې مخ لکه افتاب لرې جـــنانه
شنه خالونه د شبنم غوندې پرې ښکاري
انانګې لکه ګلاب لرې جنانه
حميدي په کې سبق د مينې وايي
ښکلی مخ لکه کتاب لرې جـــنانه
.

د وړانګې مخ راته د دنيا پرمخ له هر څه ښائسته ؤ ، وړانګه يې نوم وو ريښتيا چې وړانګه وه ، ورته ومې ويل چې وړانګې ولې ژاړې خير خو دی څه درباندې شوي دي؟ وړانګې ځواب راکړ جانه پخپله ښه پوهېږې پوښتنې ته څه ضرورت دی، ما ورته وويل چې وړانګې زه پوهېږم چې زما بيلتون ستا لپاره ډېر سخت دی، خو دنيا په اميد خوږی کيږي زه دا اميد لرم چې ته به زما وې، زه به ببرته راځم او تا به په سره ډولۍ کې کورته وړم ،
وړانګې يو سوړ اسويلی وکړ، او وويل چې جانه يا دې راغلی نه واې يا چې راغلې دا سې زر دې نه تلی ،موږ لا خبرې کولې چې د وړانګې مور راغله وړانګې ځان سره راټول کړ پلاټی يې ووهلې ،موږ لا چای څښنلو ته ناست وو چې زاهد راغی ،په وړانګه يې غږ کړچې زما او د حميد جامې او بکسونه برابر کړې، د زاهد دې خبرې سخت زور راکړ خدای خبر چې وړانګې ته به يې څومره زور ورکړی وي چې په خپل لاس ورته بکسونه او جامې تياروم او حميد به نن بيلتون رانه د پيښاور په لور وړي ،
کله مو چې چای وڅښنلو زاهد غږ کړ وړانګې وه وړانګې څنګه جامې او بکسونه دې تيار کړل کنه ؟
وړانګې په قراره وويل چې هر څه تيار دي، موږ هم بسم الله کړه ما او زاهد له ترور او سيما څخه رخصت راوخيست، وړانګه نه معلومېده ډير په خفه او په نه زړه د وړانګې له کوره روان شوو ، زاهد ډېر تيز روان وو ،ما چې هر څومره کوښښ وکړ چې ځان په زاهد پسې ورسوم خو ونه توانيدم ،يو ځلې مې شا ته مخ واړاوه نه ګورم چې د کور په وره دروازه کې وړانګه ولاړه ده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې څنګه مخ وا ړاوه هغې راته لاس پورته کړ زړه مې نور هم راډک شو ښنو مې دا اجازه نه راکوله چې نور وړاندې لاړ شم ،خو مجبور وم زاهد څو واري راباندې غږ کړ حمیده پښو ته دې لږ زور ورکړه ناوخته کیږي، کله چې پاخه سړک ته ورسېدو په موټر کې کښېناستو د وړانګې کلي ته مې مخ را وا ړوه موټر حرکت وکړ او د وړانګې کلی په شنو ونو کې پټ شو .

بازار ته چې راورسېدو د سرحدي په موټرو کې سپاره شوو د سرحد په لوري مو حرکت وکړ، دا ځل راته تګ ډېر ګران وو په هیڅ ډول مې زړه نه غوښتل چې لاړ شم په ټوله لاره کې په دې سوچونو او فکرون کې وم چې بیا به کله بیرته راځم، زه چې بیرته راشم وړانګه به بیا ووینم کنه ،هسې نه چې زه بیرته راځم هغه یې چاته ورکړې وي، شیطان به رنګ رنګ خبرې راته کولې، زه په دې کشماکش کې وم چې بونډرۍ (سرحد ) ته راورسېدو له موټره راښکته شوو.

د افغانستان او پاکستان په ګډه پوله کې مو په پښو مزل وکړ کله چې د پاکستان ملېشې ته ورسېدو تلاشي اخیستل کیده د کوم چا سره به چې شناختي کارډ نه وو هغې ته به یې زیات تکلیف جوړاوه ترڅو دې ته مجبور شي چې یو څو پیسې ورکړي او خوله یې ورخوږه کړي ، زمونږ نه هم تلاشي واخیستل شوه شناختي کارډونه مو ورښکاره کړل او روان شوو.

کله چې له سرحده راواوښتو زاهد وویل چې سیدا به د پیښاور په موټرو کې لاړ شو د کوزېدو څخه به خلاص شو ، ما وویل سمه ده چې څنګه دې خوښه وي د پیښور په موټر کې سپاره شو او حرکت مو وکړ، له ډیر مزل څخه وروسته کله مې چې سترګې پرانیستې موټر په پیښاور کې د ټل اډې ته نږدې شوی وو ، په پیښور کې د ټل په اډه کې له موټره راښکته شوو ، ما وویل که زندان ته یې راوړم زړه مې ډېر خفه شو ، مخ په وړاندې مو د خپلې کمرې په لور حرکت وکړ

کله چې خپلې کمرې ته ورسېدو زه د ارام لپاره لږ پریوتم، د غرمې ډوډۍ وخت وو ، زاهد د ډوډۍ راوړلو لپاره بازار ته کوز شو ، ما مې خپل موبایل راواخیست چې سیم کارت په کې واچوم ، سیم کارت مې په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچوه ما چې موبایل چلند کړ زړه مې وار نه کاوه زړه مې غوښتل چې هم دا اوس وړانګې ته ټیلیفون وکړم او له وړانګې سره خبرې وکړم خو چې د مبایل یونټې مې ولیدې په موبایل کې مې یونټې نه وې ،سمدستې راپورته شوم غوښتل مې چې خپله کمره بنده کړم او د مبایل لپاره کارډ واخلم ،خو بیا مې له ځانه سره وویل که زاهد راشي دروازه بنده ووینې وايي به چې حمید کومې خوا لاړو په نه زړه په کوټه کې بیرته کښېناستم ،

زړه مې هیڅ ارام نه کاوه د وړانګې خبرو به مې په مغزو کې انګازې کولې چې ماته یې په روستۍ شپه کړې وې، زه دومره بې فکره او بې سوچه ناست وم چې زاهد کمرې ته راغلی هم وو خو زما دومره پام هغه ته نه وو شوی، زاهد هرڅه تیار کړي وو ، را باندې غږیې کړ حمیده وا حمیده !دومره فکرونه چې وهې ځان به هم سپین ږیرې کړې او ما هم دا دنیا غمونه دي پرېږده یې ،

...... ما وویل زاهده یو خو ته

زه چې هسې لږ ارام غوندې غلی کښېنم ته راته وایې چې بیا په کومو فکرونو کې تللی یې، زاهد وویل چې راځه ډوډۍ او خوره ډېرې خبرې پرېږده، په نه زړه پاڅېدم لاسونه مې ووینځل ډوډۍ ته په نه زړه کښېناستم یو دوه خوشنده ډوډۍ مې او خوړه نور پاڅېدم، زاهد وویل ولې دومره زر پاڅېدې؟ ما وویل بس ده هم دومره نور مې زړه ته نه کیږي، زاهد چې ډوډۍ او خوړه لوښې یې ټول کړل زما خواته راغی راته یې وویل حمیده که د پیسو خبره وي دا دي پیسې خو تا هم له ځانه سره راوړې او ما هم ولې دومره زیات خفه یې؟ کومه خبره خامخا شته چې ته یې له ما پټوې، ما وویل چې زاهده هیڅ خبره نشته د لارې مزل ستړی کړی یم ځکه داسې بې خونده او چرتې درته معلومېږم، له دې وروسته چې ما خپل کار کاوه زما هر یو کار ته به زاهد ښه متوجه وو داسې به یې څارلم لکه په یوه استخباراتي شبکه کې چې یو چاته دنده وسپارل شي چې دغه سړی به ستا ترڅارنې لاندې وي ګوره چې له چا سره کښېني او له چا سره خوراک او څښاک کوي، زاهد زه هم داسې له څارنې لاندې نیولی وم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم څپرکی

زما رنګ به له يوې ورځې نه بلې ته بدلون کوه، له يوې خوا د امتحان شپې او ورځې را نږدې شوې وې، له بلې خوا مې د وړانګې يادونو زړګی تخناوه زما په رنګ کې دومره ادلون، بدلون راغلی وو چې زاهد راباندې د چرسي ګمان وکړ، يو ورځ زه د باندې راووتم زړه مې ډېر خفه وو په سړک باندې تلونکو موټرو کې مې سترګې ګنډلې وې کله کله به مې مخ خپلې کمرې کړکۍ په لور واړاوه ومې ليدو چې زاهد په ډېره بېړه زما په بستره اخته دی، لومړۍ يې د سر بالښت پورته کړ بيا يې کېښود وروسته يې ټوله بستره پورته کړه خو چې څه يې پيدا نکړه بېرته يې کېښود،
کله کله به يې د دروازې په لوري هم مخ را واړاوه، بيا زما د الماری په لور لاړ زما د جامو بکس يې را کوز کړ ښه په مخ يې ښه تلاشي کړ خو څه په لاس ورنغلل، بېرته يې بکس په خپل ځای کېښود وروسته په خپل ځای قرار کښېناستو، زه هم د باندې په ولاړې ستړی شوم کمرې ته راغلم د خپلې الماری په لوري لاړم چې کتابونه را واخلم لږ يې مطالعه کړم،
زاهد په يوه سترګه ما ګوري په بله کتاب، ما هم د کتابونو الماری نه يو کتاب را واخيست او د هغې په لوستلو مې شروع وکړه يو څو پاڼې مې چې ولوستې نور مې ورته زړه تنګ شو کتاب مې بند کړ بېرته مې په الماری کې کيښود ،خپل د جامو بکس مې را واخيست جامې مې ترې را ويستې ټولو جامو ته مې يو يو ځنډ ورکړ، وروستې جوړ کالي او جامې مې چې را واخيستې ځنګه مې چې ځنډ ورکړ د ځنډلو سره سم يو کاغذ ترېنه لاندې وغورځيدو،
خو ما هم فکر ورته ونه کړ جامې مې ميخ ته کيږی کړې بېرته د بکس په لور راغلم په کاغذ مې يو ځل بيا سترګې ولږېدې کله چې ښهٔ ورته ځير شوم د کاغذ په سر په پنسل ليکل شوي وو، (جانه زه له تا سره مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم )کله مې چې په کاغذ دغه جمله ولیده زړه مې په درزېدو شو لاسونه او پښې مې مړه شول دومره وس را کې نه وو چې کاغذ مې راخیستی وای ما چې کله راخیستو یو ځل به مې زاهد ته وکتل هسې نه چې زاهد مې ووینې بیا به مې په قراره د لیک په لور لاس وغزوو

د زاهد هم اوس راته پام شوی وو هر څومره خواري مې چې اوکړه لیک په پټه راواخلم خو ونه توانېدم ما به چې په لیک باندې لیکلي جملې ته وکتل چې پرې لیکل شوي وو( جانه زه له تاسره مینه لرم ) له سترګو به مې لیک ورک شو د لیک په ځای به راته وړانګه سترګو سترګو ته کېده څکه خو مې زړه نه شو کوی چې لیک راواخلم فکر مې ډېر خراب وو زاهد راباندې غبرګ کړ حمیده ! څنګه داسې غلی ناست یې لکه غل ژر ژر دې کالي سم کړه د امتحانو شپې او ورځې دي، د زاهد خبره نه وه سم د ټوپک ډز وو ریښتیا وه چې زه دې غلا لپاره ناست وم ،

ما ریښتیا غلا کوله ما دلیک غلا ، د هغه لیک غلا چې ما په خپل بکس کې راوړی وو اوس رانه غورځیدلی وو خو د لیک پورته کول راته دیوې لویې غلا څخه هم ډېر لوی کار وو خو دا غلا ما په داسې وخت کې وکړه چې د زاهد راباندې پام شو ، ډېره لویه غلا افسوس چې په پټه مې کړې وای چې زاهد نه وای لیدلی زه زاهد ولیدم راته یې وویل څنګه لیک ته په ړډو ، ړډو ګورې زاهد را ټېټ شو چې لیک راواخلي خو ما یې لیک د لاس څخه دومره په زوره کش کړ نږدې وه چې لیک مې پرې کړی وای، زاهد هم حیران وو چې په حمید څه وشول،

په حمید څه شوي، دا دې څه لیک دی، ولې یې دومره په زوره زما د لاسه څخه کش کړ، حمید له ما نه څه پټوې، لیک مې په جیب کې کېښود زاهد همداسې په ړډو ، ړډو راته کتل زاهد راته وویل حمیده ته کوم څه له مانه پټوې ماته نه وایې خپل غم د زما سره شریک کړه که وس مې وي زه به درسره مرسته وکړم که زما سر دې په کار وي هم زه به یې له تا ونه سپموم ما زاهد ته هیڅ ځواب ورنکړ د ورځې لمن تېوله شوه د شپې لمن وغوړېده.


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما او زاهد چې د ماخستن ډوډۍ او خوړه سمدستي مې د ماخستن لمونځ وکړ او په خپل ځای ښملاستم، زاهد خپل کتابونه راوخیستل د کتابونو په لوستلو بوخت شو ، ما ته خوب چېرې راتلو کله په یو اړخ اوړم کله په بل د لسو پنځلسو دقیقو لپاره پړمبېنی وړی وم، ما چې سترګې پرانیستې زاهد ګروپ مړ کړی وو او ویده وو ، زه زر راپاڅېدم له جیبه مې د لیک پاکټ راویست لیک مې د پاکټ څخه خلاص کړ یو په کې لیک وو بل په کې د وړانګې تصویر لومړۍ مې تصویر ته ښه زیر زیر وکتل بیا مې په زړه پورې جوخت .ونیو

د وړانګې تصویر مې سترګو ته نږدې کړ تصویر ته مې خبرې شروع کړې وړانګې، ای وړانګې ته زما یې ته بالکل زما یې که خدای کول ، که خدای راسره مل وو ته به زما وې وړانګې ته هیڅ فکر مه کوه ، وړانګې ای وړانګې ! زه له تاسره دومره مینه لرم چې څه درته ووایم زما خبرې د وړانګې له تصویر سره دومره په . زوره شوې نږدې وو چې زما په خبرو پسې زاهد له خوبه ویښ شي

زه هیڅ په ځان نه پوهیدم ډېرې په زوره سره خبرې مې کولې خو مخکې له دې چې زما خبرې نور هم زور واخلي زاهد په کټ کې په اړخ واوښت او ستنګی وکړ زه د زاهد ستنګي د فکر او خیالونو څخه رابهر کړم زر مې تصویر جیب کې کیښود دا چې زاهد ګروپ مړ کړی وو لیک سم نه ښکاریده غلی پاڅېدم ګروپ مې روښانه کړ قرار ، قرار خپل ځای ته بیرته راغلم او د لیک په لوستلو مې پیل وکړ د لیک په سر لیکل شوي وو جانه ای جانه ! د جان د نوم په ویلو سره مې بیا وړانګه سترګو ته ودریده وړانګې ډېر عجیبه الفاظ د لیک پر سر لیکلي وو جانه ای جانه ! ما چې لیک لوستو ماویل که پخپله وړانګه راته غږ کوي. زه . دې جانه کلمې د عقل او زړه کش مکش کې اخته کړم

یوې خوا راته مور، پلار ،ورونه او خویندې سترګو ته کېدې او له بلې د وړانګې سوزوونکي عشق زه داسې کړی وم چې د هغې په مقابل کې ما هیڅ نه شول کولی. یو ځل بیا مې له ځان سره ښه وژړل له ډېرې ژړا وروسته په ځان نه یم پوهېدلی خوب راباندې غلبه کړېوه ویده شوی وم. سهار مې چې سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانیستې زاهد له ما څخه د مخه پاڅیدلی وو ما چې څنګ ته وکتل لیک مې څنګ کې پروت وو ، لیک مې سره راټول کړ جیب کې مې کیښود زه ډېر سخت وویرېدم ما ویل هسې نه چې لیک زاهد له سر تر پایه . ټول لوستلی وي او بیا یې بیرته زما په خوا کې ایښی وي او ځان یې ناګاره اچولی وي

زه به زاهد ته څنګه ستر ګې ورغړوم که یې لوستلی وي زه به زاهد ته څنګه ورمخامخ کیږم زاهد به وایي چې حمیده تاخو له ما سره دوستي او ملګرتوب ددې لپاره کاوه زما د فکر کشتۍ د سمندر په څپو کې وه چې زاهد راباندې غږ کړ حمیده نن لکه چې ډېر وختي پاڅېدلی وې؟ ما ویل نه نه یم پاڅېدلی زاهد وویل بیا د څنګه پښې د کټ څخه لاندې ځوړند وې او سر د په بالښت ایښی وو زه په خپل نه ځواب باندې . پیـــښمانه شوم

ځکه ما چې کله لیک پرانیست په کټ کې ناست وم پښې مې له کټ څخه لاندې ځوړند کړې وې ما په لیک کې یوائې د جان کلمه لوستلی وه ، فکرونو پرمخه کړی وم او ویده شوی وم زاهد ته مې وویل یو ځل پاڅېدم خو چې ساعت ته مې وکتل وخت ډېر وو بیرته کټ کې کښېناستم په ځان هم نه یم پوه شوی بیرته اوده شوی وم ، زاهد وویل خا ، خا مینه ما ما ،ستا په شان ډېر مینان په ناستي خوبونه کوي، او د جانان سره په خوبونو کې پټ پټوني کوي،

زه سخت خفه شوم ما خو دا ګمان وکړ چې زاهد خو لیک لوستلی دی ځکه خو یې راته وویل چې مینه ما ما زاهد په لمانځه باندې ودرېده، زه د اوداسه لپاره حمام ته لاړم د زاهد خبرې مې لا همغسې په مغزو کې انګازې کولې، کله مې چې اودس لمونځ وکړ د چای ښنبلو څخه وروسته زاهد وویل زه ځم ښوونځي ته ، ته به لږ په ارام وروسته راشې ما وویل څنګه دومره وختي ښوونځي ته ځې لا خو وخت ډېر دی زاهد وویل چې د کیمیا استاذ راته د نوټ ویلي وو ،

سبا ته وختي راشه زه به نوټ درکړم ما وویل که ناوخته ورشې نوټ در کوی شي ،که وختي ورشې هم، زاهد وویل چې استاذ د څه ضروري کار لپاره په څو ورځو رخصتۍ کور ته ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زاهد ښوونځي ته لاړ ما سره د وړانګې د لیک د لوستلو ډېره اندېښنه وه ما څو ځلې لیک راخیستی وو خو لوستلی مې نه وو د لوستلو وخت مې نه وو پیدا کړی زاهد به هر وخت راسره وو ، نن ما ته موقع په لاس راغلې وه لیک مې له جیب څخه راویست خلاص مې کړ زه تر ډېره په دې فکرونو کې وم چې دا لیک به وړانګې په خپلو لاسونو کې نیولی وي بیا به یې سره ټول کړی وي ، وروسته به یې په دې پاکټ کې اچولی وي ، لیک مې له پاکټ څخه راویست د لیک په لوستلو مې شروع وکړه د لیک په سر لیکل شوي وو .

جانه ای جانه

له همدې لیکې لاندې لیکل شوي وو

زه له تا سره مینه لرم

جانه سلامونه مې په ځان قبول او منظور کړه ، جانه خدای دې وکړي چې لیک ستا سې لاسو ته درشي ، نه دې زاهد لاسو ته

جانه خدای شته چې نن ورځ زما لپاره تر ټولو ورځو سخته ورځ ده ، ځکه چې زه ستا جامې په خپل لاس تیاروم ، او تا رانه نن بیلتون جدا کوي ، جانه دومره راباندې ګران یې چې دومره ګرانښت به ما د خپلې مور او پلار هم نه وي لیدلی ، جانه ستا څخه جلا ژوند ماته اسانه کار نه دی ، جانه که ته نن له ما څخه ځې ، خو ګوره جانه یوه هیله لرم ، زما وروستۍ هیله له تا څخه دا ده چې ما هېره نه کړې ، او زما یاد ته د زړه په یو کنج کې ځای ورکړه ، جانه هغه سندره به دې اوریدلې وي چې وایي ،

بیلتون ، بیلتون هــی ، هـــی یار مــــــانه وړي

زمالدار مانه وړي

زړګی می چوي زما د خوږ زړګي قرار ما نه وړي

هـــی ، هــی یار مـــانه وړي



WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دلـــــــدار مانه ورې .

جانه په کومه ورځ چې ته تلې، په هغه ورځ دغه سندره د یوې سیمه ایزې رادیو څخه خپرېده، ما دا ګمان وکړ ما ویل که د راډیو څخه زما لپاره خپرېږي، جانه چې کله مې د ستا جامې په بکس کې اچولې دې ........سندرې دومره ژړولې یم چې

خیر له نورو خبرو تیرېږم، کله چې لیک ولولې ما ته خامخا ټیلیفون وکړه، او دا وعده راسره وکړه چې زه به ستا یم او په ژوند کې به تا هیره نه کړم، یو ځلې بیا وایم جانه ای جانه !زه له تا سره مینه لرم، ستا وړانګه

کله مې چې لیک ولوست د وړانګې هرې خبرې به مې په مغزو کې انګازې کولې زړه به مې بیا بیا غوښتل چې لیک ولولم ما هم لیک بې لوستلو پرېښی نه دی خو خو ځلې مې لیک ولوست په هر ځل لوستلو کې به یې بېل خوند او بېل درد پروت وو کله مې چې ساعت ته وکتل د ورځې لس نیمې بجې وې زه په ځان هم نه ووم پوه شوی چې دا دومره وخت په ما څنګه تېر شو ،

له ښوونځې هم پاتې شوم فکر مې وکړ چې باید هم دا اوس وړانګې ته تیلیفون وکړم ،هسې هم د ښوونځې د تګ نه پاتې شوی یم زاهد هم نشته، هم دا یې موقع ده موبایل مې راواخیست د وړانګې نمبر مې په کې ډایل کړ، د دویم دریم زنګ تېرېدو وروسته له هغې خوا نه نرم پوست او خوږ غږ راغی . الو !الو جانه ! زما چې ژبه بنده بنده کېده غږ کې مې د خوشالې ورځې ژړا ملتیا کوله ورو مې وویل ګرانې څه......څنګه یې ښه خویې

وړانګې بې له ځنډه وویل، شکر دی جانه روغه جوړه یم وړانګې چې زما خبرې واورېدې وړانګه هم په ژړا شوه او ویې ویل :

د ورځې تورې سترګې ګرځم د شپې په لپو ، لپو اوښکې تویومـــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما له عمره سره ســــــــمه          میرات شي غمه په خندا دې تېرومــــــه

ستا یارانه د ونو ســــیوری          کله پرما کله په نورو خــــــلکو ویـــــــــنه
ته به په کوم هیواد کې ګرځې          زه ستا د مخ تصویر په غاړه ګرځومــه
ترڅو به داسې جدایي وي          خوښه دې نه ده چې ځان سور په وینو کړمه

.

ما پرې غږ وکړ، وړانګې هیله کوم بس کړه د خدای لپاره ژاړه مه ،دا زمونږ خپل بخت او قسمت دی،
وړانګې وویل جانه څه وکړم زه نه ژاړم زه ، زه نه ژاړم زړه مې ژاړي ،
په خوله مې لاس کېږدی عالمه

کني ناري راڅخه شي خلک خبره ومه

ما دې وړانګې د ډاډګېرنې لپاره وویل ،وړانګې زه خو دومره لرې نه یم لاړ، نه چا په زوره در څخه جدا کړی
یم زما او ستا په مینه کې څوک خنډ نشته، وړانګه لږه شیبه غلي وه بیا یې وویل، جانه څومره وخت
وروسته به راشې ما ورته وویل که خیر وي څلور پنځه میاشتې وروسته وړانګې یو سوړ اسویلی وکړ او
غلې شوه، بیا یې یو ناڅاپه وویل جانه هغه زما لیک د ولوسته کنه؟ ما ورته وویل بلې ګراني هغه مې دا
اوس ولوست ،اوس هم په لاس کې راسره دی ،د لیک د لوستلو تړوله کیسه مې ورته وکړه ما او وړانګې
ډېرې خبرې سره وکړې ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل وړانګې په مبایل کې مې یو نتې ختمیږي وړانګې یو اځې وویل ،جانه ګوره چې ما هیره نه کړې ستا د لیدو په هیله کله چې وړانګې اړیکه پرېکړه له ځایه پاڅېدم په کوټه کله یوې خوا کله بلې خوا ځم په ژړا مې زړه ښه یخ کړ زه په کوټه کې د کوټې په کونج کې کښېناستم چې د سترګو اوښکې مې وچې کړې او سترګې مې خلاصې کړې بیا پاڅېدم لا دروازې ته نه وم رسېدلی چې له هغې خوا زاهد راغی ، سترګې د زاهد شوې سترګې زما زاهد بې له واره وویل حمیده ! بیا څه درباندې شوي دي دا سترګې دې داسې سرې اچولې دي؟ زه غلی شوم، زاهد بیا وویل ګوره حمیده دلته یو اځې زه او ته او سپږو نور څوک نشته که ته ماته هر هغه څه ونه وایې چې تا ځوروي ،نو چاته به یې وایې ته خو یو ځلې ما په خبره پوه کړه چې خبره څه ده، ما بیا هم زاهد ته څه ونه ویل همغسې غلی پاتې شوم ،

اتم څپرکی

ورځې تېرېدې مرګې ته شپې او ورځې لنډې دې، د امتحانو شپې او ورځې تېرې شوې، د دولسم ټولګې نه له خیره فارغ شو ، زاهد کورته په رخصتیو لاړ، زه همدلته پاتې شوم ما نه غوښتل چې د وړانګې په زړه بیا هم مالګې وشیندم زړه مې ډېر کیده خو ما ویل که اوس لاړ شي بیا چې راځې وړانګه به بیا څه کوي ، په وړانګه به څه تیرېږي ،
زه یوه ورځ د باندې د چکر لپاره راووتم ،غوښتل مې چې د لوبو د میدان په لورې لاړ شم ،په لاره کې راسره عبدالله ملګری شو ،عبدالله رانه ډېرې پوښتنې وکړې ،چ ولې په رخصتیو کې کورته نه یې تللی؟ او بل دې رنګ زیات تغیر کړی دی که تا راباندې غږ نه وی کړی خدای خبر چې ما به پیژندلی وای، ما ورته د کور نه تګ ټوله کیسه وکړه ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله زما د کیسي په اوربدو زیات خفه شو ، راته یې وویل له نن نه وروسته به ته زما سره اوسیږې، ما چې عبدالله ته هر څه وویل نو عبدالله نه منله زما بستره یې له کمرې راواخیسته ماته یې وویل چې ته د لوبو میدان په لورې درځه زه هم ستا بستره کور ته وړم بیرته راځم، زه د لوبو میدان ته لاړم د کریکټ لوبې ننداره مې کوله چې عبدالله بیرته راغی ،ما او عبدالله تر ډېره د لوبو ننداره وکړه، ماښام نږدې کیدونکی وو چې د عبدالله د کور په لور روان شوو ، کله چې د عبدالله دوی کور ته ورسېدو ما ویل چې عبدالله به اوس د حجرې دروازه بیرته کړي ،خو عبدالله راباندې غږ کړ، راځه اودربږه مه، په کور کې نور څوک نشته یوا ځې زه یم یوه مې مور ده او بله کوچنۍ خور زړه نازړه غلی په عبدالله پسې کور ته دننه شوم،
د عبدالله مور مخې ته راغله ستړې مشي یې راکړه، ما فکر کاوه چې اوس به له مانه پوښتنه کوي ،چې زویه څوک یې او څنګه راغلی یې ؟خو داسې نه وه عبدالله زما په هکله هر څه ورته ویلي وو ، د عبدالله مور امنې ادې راته وویل زویه ! راځه دلته په کټ باندې کښېنه، د زوې د نوم په اوربدو دومره خوشاله شوم ما ویل که خپلې مور راباندې غږ کړ چې زویه راځه دلته په کټ باندې کښېنه ،ماته مې خپله مور پلار وروڼه او کوچنۍ خور سترګو ته ګډې شوې ، یو یو به مې له سترګو تېرېده زما د فکر مرغه اوس په خوست کې وزرې رپولې ،
چې د عبدالله مور امنې ادې راباندې غږ کړ، زویه کیدای شي زما په لیدو تاته خپله مور یاده شوې وي، خو ګوره زویه ما به هم له خپلې مور نه کمه نه ګڼې، لکه څنګه چې عبدالله راباندې ګران دی او عبدالله ته چې زه په کومه سترګه ګورم همدا شان ته هم راته د عبدالله نه کم نه یې ،د عبدالله ورور نشته دا دی خدای په تیاره ورور ورکړ ،
زه او د عبدالله  مور امنه ادې لا په خبرو وو چې د عبدالله خور غږ وکړ ،مورې وا مورې زیمنه په کې وکړم که یخنې په کې جوړه کړم؟ امنې ادې ورغږ کړ پلوشې لورې یخنې په کې جوړه کړه یخنې به روغه وي، ما هیڅ نه شول ویلی زه تر ډېره غلی وم امنې ادې بیا وویل، زویه کله چې عبدالله راغلو راته یې وویل چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګ تا چې د يوه ښه ميلمه په نوم ساتلی د هغه چرګ وار راغلی ،هغه چرګ حلال کړه هيله ده زويه چې دغه ميلماستيا زموږ څخه قبوله کړې،

ما ورته وويل ادې څه چې تيار وي هغه د يار وي له دې وروست چې تاسې څه خورئ هغه به زه خورم، له تاسو خو زه زيات نه يم د عبدالله مور امنې ادې وويل زويه ! تردرو ورځو پورې خو ميلمه يې له هغې وروسته چې څه وايې موږ يې درسره منو،

ماخستن شو تراوسه د عبدالله خور ماته د ستړي مشي لپاره نه وه راغلې، کله چې د ډوډۍ وخت شو د پلوشې مور د باندې لاړه د دروازې سره خوا کې مې لږ پسپسې واوريده ،خو پرې پوهيدم نا عبدالله د باندې وراغلو زما په ګمان چې د عبدالله مور امنې ادې پلوشې ته ويل چې ستړي مشي ورکړه ،خو پلوشه شرميده ،نه راتله لومړۍ د عبدالله مور ورپسې عبدالله او په وروستيو کې يې خور پلوشه قراره قراره چې ډيره شرميده ستړي مه شي راکړه، او زر د باندې لاړه امنې ادې وويل پلوشه لور مې ډيره شرم ګيره ده ،

ډوډۍ راوړل شوه ډوډۍ مو اوخوړه د خملاستې او د لمانځه لپاره د باندې حجرې ته لاړو، مونځونه مو وکړل او ويده شو سهار چې کله له خوبه راپاڅېدم د لمانځه اوداسه څخه وروسته د چای څښلو لپاره کور ته لاړو، کله چې چای څښلو ته کښيناستو عبدالله وويل حميده وروره ستا لپار ما يو کار ليدلی خدای دې وکړي چې هغوی بل کار کوونکي ته نه وي ورکړی، د عبدالله مور وويل زويه څه ډول کار دی ګران کار خو به نه وي؟ عبدالله وويل نه مورې،

اسانه کار دی يواځې به چوکۍ کې به ناست وي لس دولس زره به اخلې د عبدالله مور وويل دا څنګه کار دی حميد زوي خو تر اوسه پوهنتون نه دی خلاص عبدالله وويل چې دا کار په پوهنتون پورې اړه نلري ،حميد کمپيوټر لوستلی د کمپيوټر څو پروګرامونه يې ويلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه او عبدالله دواړه د چای ښنبلو څخه وروسته د باندي حجري ته لاړو عبدالله وویل زه به د هغه دفتر په لوري لاړ شم کوم دفتر کې چې کار کوونکي ته ضرورت وو زه همدلته په حجره کې کښېناستم کتاب مې له ځان سره ملګری کړ .

نهم څپرکی

کله چې عبدالله بیرته راغلو ما ته یې وویل چې قسمت دې روغ دی.سبا به انشاء الله په خپله وظیفه باندې پیل کوې ما له عبدالله څخه مننه وکړه چې زما په خاطر د ځان دومره په تکلیف کړ عبدالله وویل له نن نه وروسته ته باید ماته د ملګري په سترګه ونه ګورې، د یو ورور په سترګه به راته ګورې نور به ماته د ملګري نه ، نه وایې زه ستا ورور یم او ته زما ،

زه په یونیسیار په مؤسسه کې په دنده وګمارل شوم ښه معاش مې اخیسته، دمیاشتې مې دولس زره روپۍ اخیستې، په هغه وخت کې دولس زره روپۍ ډېر شی وو کله به مې چې معاش واخیست د کور لپاره به مې ډېره سودا واخیسته او پاتې ټولې پیسې به مې د عبدالله مور امنې ادې ته ورکړې ،

شپې او ورځې تیرېدې د کانکور ازمویني وخت راورسېد ما هم ثبت نام وکړ، نوم مې ثبت کړ ،د کانکور ازموینه ډېره ښه تېره شوه زه د ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شوم ، زه به سهار پوهنتون ته تلم او د ماسپښین لخوا به خپلې وظیفې ته د پوهنتون د شروع کېدو نه خلورمه ورځ وه خو زاهد تراوسه نه وو راغلی نه یې راته فون کړی وو ، سهار چې کله له خوبه پاڅیدم موبایل مې راواخیست ،یو ځلې مې د زاهد نمبر په کې ډایل کړ وروسته مې زر قطع کړ،

ما ویل راځه د وړانګې نمبر ته فون وکړه هم به ترې د زاهد په اړه معلومات واخلم، هم به مې له وړانګې سره خبرې شوي ،وي وړانګې سره به د زړه خواله وکړم د وړانګې نمبرمې ډایل کړ تر ډېر ځنډه چا موبایل نه پورته کاوه خو وورسته موبایل د وړانګې مور پورته کړ په بنده بنده ژبه مې وویل ســــــ ،

ســــــ،ســــــ سلام علیکم ! له هغې خوا ځواب راغی وعلیکم السلام ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو ځوک خبرې کوئ له چا سره مو کار دی ما زر ځواب ورکړ د ورانګې مورې حـــــ ، حـــــ ، حمید یم
هغې یو ناڅاپه غږ کړ حمیده ! ته څنګه یې حمیده ما دې هرې خبرې ځواب لنډ ورکاوه ورته مې وویل چې
شکر دی روغ یم تاسو څنګه یې د ورانګې مور وویل چې نور ټول روغ او جوړ دي خو د کومې ورځې نه چې
ته او زاهد پیښاور ته تللي یې له هغې راوروسته ورانګه لورکې مې روغه نه ده ،
ما چې د ورانګې د ناروغۍ واورېدل په ځان نه یم پوه شوی چې د ورانګې مور به نور څه ویلي وي ما په زړه
کې د غم ټکانونه احساس کړل یو ناڅاپه مې پام شو چې د ورانګې مور همغسې نارې وهي ، الو ، الو
! حمیده ! حمیده زویه
په تاڅه وشول خبرې ولې نه کوې و حمیده زویه ما غلي غلي وویل د ورانګې مورې دلته کله کله شبکه
خرابه شي اواز دې بند بند کیږي اواز د نه راتلو د ورانګې مور وویل ښه زویه اوس مې خبرې په سمه توګه
. اورې ما وویل هو اوس دې خبرې په سمه توګه اورم
د ورانګې مورې ورانګه اوس څنګه ده هغې وویل چې زویه ګذاره کوي دلته خو مو په ټولو ډاکټرانو
وګرځوله خو کوم فرق یې ونه کړ زاهد هم ځکه وځنډېده کني هغه به اوس درغلی وای سبا یا بل سبا یې له
خیره پیښاور ته درولو ګوندې هلته یې لږ صحت جوړ شي، د ورانګې مور دې خبرې ماته زیات خوند راکړ
له ځان سره مې وویل چې ما په اسمان غوښته چې خدای په ځمکه راکوي زه به شکر او باسم که خدای کول
ورانګه دیدن هم دلته راپسې راورې زما او د هغې خبرې ډېرې په اوږدو شوې ځومره چې خبرې اوږدې دې
لا خوږېدې،
کله مې چې اړیکه پرېکړه په کټ کې پرېوتم لاسونه مې ترسر لاندې کړل او سترګې مې د کوټې په چت کې
. ګنډلې وې د خوشالۍ نه په جامو کې نه ځایېدم نږدې وه چې د خوشالۍ نه مې د خولې چیغې ووځي
خو چې ساعت ته مې وکتل د پوهنتون د تګ وخت پوره وو زر زر مې کتابونه راواخیستل او د پوهنتون په
لورې لاړم په ټوله لار په مزل نه یم پوه شوی کله چې پوهنتون ته ورسېدم د ژب پوهنې پښتونو استاذ


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولګي کې ولاړ ووو د ټولګي د ننوتلو اجازه مې وغوښته زما په ګمان چې استاذ له نورو محصلینو پوښتنې کړې وې کله چې ټولګي ته داخل شوم استاذ وویل: چې دنورو خو وار تېر شو خو یو شاغلی پاتې دی .
استاذ وویل: چې حمیده څنګه د ناوخته کړ خیر خو وو؟ ما وویل هسې استاذ لږ ناوخته شوم استاذ وویل ښه حمیده ته راته ووایه چې د ژبې څو تعریفونه مو کړي وو؟ ما وویل چې استاذ دوه استاذ وویل چې کوم کوم دي ما وویل ژبه هغه اوازونه دي چې انسانان یې د خپلو افکارو ، خیالاتو د ښکندولو په خاطر په یو خاص نظم او سیستم کې د خولې څخه راباسي، او په همدې توګه د یو بل سره رابطه پیدا کوي، او بل دا چې ژبه اقتصادي او میثاقي سمبول دی چې د یوې ټولنې وګړي یې د افهام او تفهیم لپاره استعمالوي،
استاذ وویل: شاباس کښېنه کله چې استاذ په نوي درس پیل وکړ د سره تر پایه د استاذ په یوې خبره هم سم نه یم پوه شوی چې استاذ څه وویل، ټول فکر مې د وړانګې د راتګ په اړه وو ، چې وړانګه راشي زه به څنګه ورسره وینم که ماته خبر رانکړي ،وړانګه را هم شي، او بیرته لاړه هم شي تر ډېره په همدې فکرونو کې وم چې ساعت بدل شو ، او د لارغوني متون استاذ ټولګي ته راغلو خو زه لا همغسې د وړانګې په فکرونو کې وم ترهغې چې رخصتي شوه ،
د پوهنتون چې رابهر شوم، د خپلې دندې په لور روان وم چې مور او پلار وروڼه او خویندې مې سترګو ته ګډې شوې مبایل مې راوخیست د ورور نمبر مې په کې ډایل کړ د دریم زنګ د تېرېدو وروسته مې ورور مبایل اوچت کړ سلام حمیده وروره !څنګه یې زما خپل سکه مشر ورور موبایل اوچت کړی وو ما وویل خدای دې رضا شي زه رضا یم شپې او ورځې دي تیریږي .
ورور مې ډېرې پوښتنې وکړې د پیسو ، همداشان د درسونو په اړه ما ورته هم ټوله خبره وکړه ورور مې ډېر خوشاله شو ما ورته وویل په کور کې یې که په کوم بل ځای کې چې له ادې همداشان له کوچنۍ خور سره خبرې وکړم، ورور مې وویل په کور کې خو نه یم چې کله کور ته لاړم زه به بیا زنګ درته وکړم په خبرو خبرو کې د یونیسیار دفتر ته ورسېدم له ورور سره مې اړیکه پرېکړه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په دفتر کې ټولو کارکوونکو د ورور په شان سلوک راسره کاوه ټولو باندې ډېر ګران وم، زه په خپل کار باندې مصروف وم چې د مؤسسې مشر راغی راته یې وویل چې زما لپ ټاپ کمپیوټر د اسې ویروس نیولی که هغې ته انستالیشن او پارټیشن وکړې ډېره به ښه وي که کار درباندې ډېر وي سبا ته یې وکړه او که وخت دې پیدا کړ که نن جوړ شي ښه به وي ،
ما ورته وویل: انجینر صاحب بې غمه او سیږه خپل کار مې ډېر په بیړه بیړه خلاص کړ، د انجینر د کمرې په لوري ورغلم انجینر هم زما هرکلی وکړ راته یې وویل چې څنګه کار دې خلاص کړ ما ورته وویل بلې ،انجینر صاحب راته وویل چې راځه همدلته په چوکۍ کښېنه په ارامه به یې وکړې ما ورته وویل که خوښه دې وي اوس ناوخته دی، یو دوه ساعته وخت نیسي له ځانه سره به یې کور ته یوسم همغلته به یې په ارامه وکړم انجینر هم راسره او منله کمپیوټر مې په بکس کې کېښود او د خپل کور په لورې روان شوم ،خپل کور خو مې نه وو خو ما د خپل کور نه کم نه ګڼه عبدالله راته ورور ویلې وو ،مور یې راته زوی ویلې وو د عبدالله دوی کور نه لېرلرې وم، لس دقیقې لاره به راته پاتې وه، چې د وړانګې زنګ راغی زیات خوشاله شوم ،مبایل مې اوکې کړ په قراره ارام غږ راغی، جانه سلام، ما خوله لا خبرو کولو ته جوړوله، ویل مې چې ته څنګه یې، هغې خبرو ته پرې نه ښودم خبره یې راپرېکړه، جانه هیله ده چې د مانه خفه نه وې ،جانه هیله کوم چې بل ډول ګمان ونه کړې جانه زه ویده وم چې تا زنګ کړی وو مور مې خبرې درسره کړې وې ،ما وویل دا خو کومه خبره نه ده،
د نورو خبرو به سره تېر شو ،اوس څنګه یې وړانګې وویل چې ځه مې کوې، د حال احوال پوښتنه مې مه کوه ته خو ظالمه چې ، چې ، چــــــــــــــــې یو ځلې لاړې، بس لاړې زه دې هېره کړم، یو ځل خو به راغلی وای، د کومې ورځې چې له مانه بېل شوی یې ښه ورځ مې نه ده لیدلې، په خوست کې په هر ډاکټر وګرځولم خو دوی څه خبر دي چې زما د بیمارۍ درمل چېرته دي یا له چا سره دي. هسې یې بې ځایه ځانونه ستړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرل زاهد خو مې نن مور ته ویل چې سبا به له خیره پیښناور ته ځو ، د پیښناور د نوم په اوریدو زه هم لږ غوندې ښه شوي یم ،
لږه طمعه مې پیدا شوې ده ، چې یو ځلې خو به دې بیا اوګورم ،ما وویل ګرانې خدای مهربانه دی، ګوندې سره ووینو ، دومره بې صبري مه کوه ، وړانګې په داسې حال کې چې په غږ کې اوس ژړا ملتیا کوله ، ووېل جانه ،ای جانه ته څه خبر یې چې په ما څه تیریږي ، په ما څه تېر شول نه یې خبر جانه که خبر شې بیا به راته نه وایې چې بې صبري مه کوه .
وړانګې وویل :

زه د سپرلي د ګل تازه وم
ستا په بیلتون کې لکه پاڼه زیړه شـــــومه

زخمي زړګی مې د کتو دی
څومره داغونه پرې بیلتون راکــــــړیدینه
تادبیلتون جامې په ځان کړې
بیلتونه غبرګ زامن دې مړه شه .

چاړه راواخله ما حلاله کړه میـــــــــــــنه
چې ته غمجن شې ګوندې زه دې هېره شمه

وړانګې دا لنډۍ دومره په سوي غږ کې وویلې چې که بل چا اوریدلی وی د هر لنډۍ په اوریدو به یې له خولې یوه یوه کریغه وتلې واي، ما ځان ډېر ټینګ کړی وو ، یو خو لاره وه او بل کور ته روان وم، ما وویل وړانګې اول زه هم یو څه خفه شوم چې مور د راته وویل چې وړانګه لورکۍ مې ناروغه ده وروسته خوشاله شوم، وړانګې یو ناڅاپه وویل چې څـه ، څـه ولې خوشاله شوې ما وویل خوشاله په دې شوم چې مور د راته وویل چې سبا یا بل سبا یې هلته پیښور ته درولو ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګې زه تا ته ډېر شرمنده یم چې ته له ما سره دومره مینه لرې چې اوس پیښور ته د ناروغۍ د درملنې په پلمه راروانه یې خدای دې وکړي چې زه او ته په خپله هڅه کې بریالي شو وړانګې وویل چې آمین ، ما او وړانګې ډېرې خبرې وکړې او سره رخصت شو کله چې کور ته ورسېدم عبدالله هم راروان وو لږ هغه ته تم شوم ترڅو چې عبدالله راورسیږي او یو ځای به کور ته د ننه شو ،
عبدالله چې راورسېد کور ته یو ځای دننه شو امنې ادې سپیلنې راته لوګې کړل شکر خدایه چې د عبدالله زوي مې ورور نه وو خدای په تیاره ورور ورکړ زه هم د عبدالله امنې ادې او پلوشې خور سره زیات خوشاله وم ما بیخي دا احساس نه کاوه چې دوي پردي دي ځکه چې څنګه یې عبدالله ته کتل همغه ډول یې ما ته هم کتل د شپې مو ډوډۍ یوځای اوخوړه او د خوب کولو لپاره حجرې ته لاړو عبدالله ډېر زر ویده شو زه کله په یو اړخ او کله په بل اړخ اووښتم کله کله به تېرې پېښې په دې فکرونو کې وم که وړانګه پیښور ته راهم شي ، زاهد یې کوم بل لور ته بونځي هسې نه چې هغوی راشي او ما ته فون ونه کړي وړانګه بې دیدنه رنځوره رانه لاړه شي ،
زه وم ، د وړانګې یادونه وو ، او څلور کونجه کوټه وه ، کله ، کله به مې له جیب نه د وړانګې تصویر راوخیست ،او د مبایل په رڼا به مې ښه په ځیر ځیر ورته وکتل ، وړانګې ته خدای ډېر ښائست ورکړی وو ، دنګه پوزه نرۍ وریځې ، وړانګین مخ دلوړه ونه تر ډېره مې د وړانګې تصویر ته کتل ، په کتو کتو کې ویده شوی وم ،سبا چې عبدالله را باندې غږ کاوه عبدالله له ځانه سره یو ډول غلې غلې خندا کوله غلی به له ځان سره موسکی شو ،
حمیده وروره پاڅه د لمانځه وخت دی مونځ درڅخه قضاء کیږي ، زه زر پاڅېدم اودس مې وکړ خو زما له یاده وتلي وو بیګاه چې ما د وړانګې تصویر ته کتل په کتو کتو کې ویده شوی وم ، تصویر رانه کټ کې غورځیدلی وو ، زر زر د کټ په لوري راغلم عبدالله په هر څه پوه شوی وو زه یې د سترګو په کونجونو څارلم زه څه خبر وم چې د وړانګې عکس د عبدالله لاس ته ورغلی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه کله عبدالله ته مخ ورواړوم بیا ژر ،ژر کمبله کله یوې کله بلې خوا واړوم راواړوم د کټ بالښت مې پورته کړ د هغې لاندې مې وکاته د هغې لاندې هم نه وو ماغوښتل چې د کټ لاندې مې یو ځلې سرپسې دننه کړې وای چې وو یې ګورم ما چې کټ ریجایې پورته کړه ،عبدالله راباندې غږ کړ حمیده څنګه داسې غلې غلې پلټنه کوې لکه غل ؟څه شی درنه ورک دی؟ زه ورخطا شوم وه مې ویل نه څه ، څه څه نه دې رانه ورک بیګاه چې ویده کیدم خت (کالي) مې نه وو یستلی همداسې ویده شوی وم قلم رانه ورک دی ،
ما ویل په کټ کې به رانه غورځیدلی وي، عبدالله غلی شان موسکی شو ، راته یې وویل ته دېخوا راشه یو قلم خو ما هم پیدا کړی دا خو به نه وي، زه په سستو قدمونو د عبدالله په لور و روان شوم ورته مې وویل تا کوم قلم پیدا کړی ؟عبدالله وویل ته خو یو ځلې کښېنه څه درنه تېنتم خو نه د عبدالله سره ، څنګ ته کښېناستم عبدالله وویل لومړی راته د قلم نښې او نښانې ووایه چې قلم دې څه ډول رنګ لري زه غلی شوم ځکه له ما نه خو قلم نه وو ورک د وړانګې تصویر رانه ورک وو ورته مې وویل عبدالله رنګ یې څه کوې ته یو ځلې قلم راوښایه که زما قلم وي وبه وایم چې زما دی که زما نه وي وبه وایم چې نه دا زما قلم نه دی ،عبدالله لومړی یو قلم له جیبه راویست چې دا خو به نه وي ؟ما وویل نه ما غوښتل چې پاڅم عبدالله د لاسه ونیوم راته یې وویل کینه یو بل مې هم پیدا کړی عبدالله څنګ جیب ته لاس کړ په قراره ، قراره یې راویست نه ګورم چې د وړانګې تصویر په لاس کې ورسره دی رنګ مې تک زیړ لکه کورکمان وتښتېده خوله مې وچه شوه ،
په امبور به هم زما د خولې ځخه خبره نه وی راویستلی زما په خوله کې چې کومې لاړې وې سره سرېښ شوې وې په ډېره سختی مې له ستوني تیرې کړې، زه د عبدالله نه سخت خفه شوم ما عبدالله ته دروغ ویلي وو چې له مانه قلم ورک دی عبدالله وویل ستا نه لکه چې د غه قلم ورک شوی دا ډول قلم خو ما تر اوسه نه وو لیدلی دا څه ډول لیکل کوې ما خو هسې هم خبرې نه شوې کولی خو د عبدالله د خبرې نور هم پسې خراب کړم په ډېره سختی مې وویل عبدالله بخښنه غواړم ام ، ام همدغه قلم له مانه نه ، نه همدغه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوير له مانه ورک دی عبدالله چې زه ورخطا ولیدم نورې خبرې يې ونه کړې تصوير يې راکړ يوائې دومره يې وويل چې بل ځای فکر کوه چې درنه ونه غورځيږي.
عبدالله پسې زياته کړه ښه اوس راته ووايه چې دا د کومې شمعې تصوير دی چې تا يې لمبو ته ځان نيولی زه چې هرڅومره ټينګ شوم چې عبدالله ته بۀ دزړه حال نه وايم خو دده ډير ټينګار مجبور کړم چې شوې خبرې ورته وکړم عبدالله وويل ته چې د خپل ورور نه خبره پټه ساتې نو چا ته به يې وايې له دې خبرې مجبور شوم چې د الف نه تر ياء پورې ټولې خبرې عبدالله ته وکړم.
عبدالله ته مې ټوله کيسه وکړه دومره مې هم ورته وويل چې نن ورځ هغه شمعه چې ما يې ځان لمبو ته نيولی او زه په هغې ځان قربانه وم هغه شمعه نن د ناورغۍ په پلمه زما ديدن ته د افغانستانه را روانه ده هيله لرم چې د هغې په ليدو کې له ما سره مرسته وکړې عبدالله وويل زه بۀ څه ډول مرسته وکړم زه يې چې کولی شم زما سر له تانه قربان ما وويل کيدای شي چې دوی راشي ماته تليفون وکړي دوي به شپې او ورځې زمونږ په کمره کې کوي که ته دومره مهرباني راسره وکړې چې زه هغوی دلته د څو شپو د تيرولو لپاره راولم که تاسو ته تکليف نه وي عبدالله سخت غصه شو او ويې ويل خپل کور دننه د تګ څوک اجازه نه غواړي چې بيا درنه دا ډول خبرې وا نه ورم .
مونږ چې د چای څښلو لپاره کورته لاړو له چای څښلو څخه وروسته مو امنې ادې نه دعاګانې واخيستې او خپلو کارونو ته روان شو زه لومړی لاړم پوهنتون ته او د ورځې ۱۲:۳۰ بجې وې چې له پوهنتونه رخصت شوم سيده لاړم د يونيسيار دفتر په لورې هلته رارسېدو سره سم راته زاهد تليفون وکړ سلام حميده ! چيرته يې؟ په کمره کې خو نه ښکارې ما ورته وويل بس څو شيبې صبر وکړه زه درغلم زه دومره خوشاله وم له زاهد مې پوښتنه هم ونه کړه چې څنګه له خيره راورسېدی کوم تکليف بۀ په لاره کې درته نه وو.
اړيکه مې پرې کړه زر زر مې عبدالله ته زنګ وکړ عبدالله تليفون پورته کړ ورته مې ټوله کيسه وکړه چې زاهد او زما مينه دواړه راغلي په کمره کې دي زمونږ کمرې ته ځان راورسوه زه هم د مؤسسې دفتر کې يم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رسيږې زه هم درسيدی شم عبد الله وويل سمه ده ښېغمه او سه اړيکه يې پرې کړه دفتري کار راخخه نن پاتې شو په بيړه راووتم له سړکه مې يوه ټکسي په کرايه کړه او سيده خپلې کمرې په لورې لاړم کله چې ورسديم عبد الله له ما څخه مخکې هلته ولاړ وو ما ټکسی والا ته پيسې ورکړې زه او عبد الله په بيړه دويم پوړ ته پورته شو کله چې خپلې کمرې ته ورسيدو عبد الله لږ پښه نيولی شو پښه يې ونيوله زه کمرې ته ور د ننه شوم ما زاهد سره سترې مشې وکړه ما چې کله د کټ په لوري سترګې واړولې وړانګه په کټ پرته وه وړانګې غلی غلی څګيروی کاوه د وړانګې هر څګيروي زما په زړه کې کرښې ايستې زاهد ته مې وويل زاهده نورې خبرې به بيا وروسته کوو خو اوس زما سره مې ورور راغلی د باندې ولاړ دی زاهد وويل کوم ورور ما وويل عبد الله ورور زاهد وويل هغه د څه لپاره راغلی ما ورته وويل چې ولی ته کمره نه وينې يوه بستره کمه ده زاهد وکتل او ويې ويل چې اوه سمه ده زما بيخي پام شوی نه دی د ستا بستره چيرې ده ما وويل چې په کومه ورځ چې ته لاړې په همغه ورځ زه د باندې راووتم روان وم د لوبو ميدان ته چې له عبد الله سره مخامخ شوم عبد الله زه خپل کور ته بوتلم اوس له عبد الله سره په کور کې يو ځای اوسيږم عبد الله د دې لپاره راغلی چې تاسې دا شپې همغلته تيرې کړی نه دلته ما او زاهد خبرې هم کولې او قرار قرار د باندې روان وو .

زاهد او عبد الله دواړو ښه سترې مشې سره وکړه ما عبد الله ته وويل چې ته او زاهد درځئ کور ته وړانګه اوس ويده ده هرکله چې وينښه شي زه او وړانګه به وروسته درشو اوس يې وينښول مناسب نه بولم .

زاهد چې ډير ستړی وو نه او نو يې ونه کړل او د عبد الله سره روان شو ،ما دروازه پورې کړه قرار د وړانګې خواته ورغلم د کټ په بازو کښېناستم، وړانګې اوس هم غلی غلی څګيروی کاوه، ما چې زړه هر څومره د کانې کړو بيا مې هم زړه تم نشو کړای له سترګو مې مرې اوښکې راتويې شوې او ګريوانه ته لاړې له ځانه سره مې وويل رښتيا چې سپوږمۍ يې، ستا نوم وړانګه دی ،په رښتيا چې وړانګې شيندې، زه ستا تماشه کوم، ته رڼا او وړانګې شيندې ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو نابلده لامبوزن یم، لامبو وهم، لامبو مې نه ده زده، او ته زما لارښود یې، ته لکه ورځ روښانه ځلیږې ،زه لکه غمجنه شپه ،ته زړونو ته خوشالي ورکوې ،که هر څومره غمجن ستا مخ ته او ګوري غم او فکر به یې ورک شي، ته غمجنو ته خوشالي ورکوې، زه تر ډېره له ځان سره اخته وم، زړه مې صبر ونه کړ، که تاسو یې بې ادبي نه بولۍ ،غلی لکه غل ورتېت شوم ،د وړانګې په مخ مې شونډې کېښودې او ښکل مې کړه، د وړانګې پرمخ ګېډۍ ، ګېډۍ زلفې پرتې وې. آه څه د خوند ډکه شیبه ده ،

وړانګې چې دواړه لاسونه یې په کمبله کې پټ کړي وو لاسونه یې له کمبلې راوییستل ځان یې وغزاوه لکه یو ښه سترې کارګر چې ښه سترې وي لا یې سترګې نه وې پرانیستې، په سترګو کې یې سوک واهه او غږ یې کړ ،زاهده وروره حمید ته به دې زنګ نه وي کړی ؟کله یې چې د خپلې پوښتنې ځواب وانه ورېده ،سترګې یې پرانیستې چې زه یې ځان سره خوا کې ناست ولیدم، هکه پکه شوه په خپلو سترګو یې باور نه کېده، په سترګو کې یې یو ځل بیا سوک وواهه، ما ته یې په ځیر ځیر وکتل بې اختیاره یې وویل حمیده زما جانه دا خوب وینم که ریښتیا دي ؟

بې اخیتاره یې زما په غیږ کې سر کېښود تر ډېره یې ورپې سلګۍ کولی ،وروسته یې سر را پورته کړ او ویې ویل ته کله راغلی یې او زاهد څه شو؟ ما ورته د زاهد ټګ کیسه وکړه او ورته ومې ویل چې زه وختې راغلی وم ته ویده وې د ویښولو زړه مې دربانديې ونه شو، تا خپل ځان د خوب دنیا ته سپارلی وو زلفې د پرمخ خورې ورې پرتې ما ستا ښکلي مخ ته کتل زه ستا ښکلا مست او له ځانه پردی کړی وم مګر افسوس چې دا وخت ډېر پاتې نشو ته لکه د سهار دلمر وړانګه چې غلی کوتې ته رادننه شي را ویښه شوې ما له تانه په ناخبرۍ کې یوه...... زه غلی شوم وړانګې وویل ولې غلی شوې ولې د خبره نیمګړې پرېښوده ماوو یل لومړۍ راته بخښنه وکړه بیا به درته خبره وکړم وړانګې وویل    جانه دا ته څه ډول خبرې کوې ولې داسې وایې زه او ته به دې یو بل په خطاییو پسې نه ګورو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دي خبله خبره وکړه چي څه خبره ده ما وويل ته چي کله ويده وې زه ستا سر ته تر ډېره ناست وم صبر مې ونه شو لکه عـــــــ ، عـــــــ غل راتېښ شوم او ، او ،لا ،لا تانه مې مچکې واخيسته ،وړانگه وشرميده سر يې ټيټ کړ تر يوې شيبې پورې زه او وړانگه دواړه چپ وو ، چې د زاهد زنگ راغی سلام حميده ولې دومره وځنډيدې، ما ورته وويل زاهده بس دادی درغلو وړانگه تر اوسه ويده وه، اوس له خوبه وينښه شوه، زاهد وويل سمه ده زر راځی،زاهد اړيکه پريکړه وړانگې ته مې وويل زر کوه چې روانيږو هسې نه چې زاهد راباندې شکمن شي ،

زه او وړانگه دواړه په موټر کې کښېناستو او د عبدالله د کور په لور روان شوو دا زما لومړی ځل وو چې د وړانگې سره څنگ په څنگ کښېناستم که تاسو چيرې مينه کړې وي او يا چا درته ويلې آيا له دې نه به د خوشالۍ ځای چيرته وي چې عاشق او معشوق دواړه سره څنگ په څنگ له ډېرې جدايۍ څخه وروسته يو ځای ناست وي ما ته خو له دينه بله لويه خوشالي نشته زه وړانگه دواړه د عبدالله کور ته ورسيدو چې ما اوس خپل کور گڼلو موټروان ته مې پيسې ورکړې چې کله دروازې ته ورسيدو وړانگې ما ته کتل چې حميد به اوس رانه گرځي او د حجرې په لور به ځي ،

زه وړانگې ته مخکې شوم وړانگې ته مې وويل راځه ، راځه دا داسې دی لکه زما خپل کور هغوی ما ته ورور ويلي کله چې انگړ ته ورسيدو پلوشې غږ کړ ادې وا ادې هغوی راغلل پلوشه مخې ته راغله لومړی ما ته ستړي مشي راکړه وروسته له وړانگې سره غاړه غاړی شوه وړانگې پلوشې ته غاړه ورکړه، دلته به ما ويل چې اخ بختورې په لومړي ځل يې تا ته غاړه درکړه دا څومره بختوره يې چې وړانگه په غيږ ستړې مشي درسره کوي،

پلوشې او وړانگې په ولاړې خبرې کولې چې امنه ادې هم راغله او غږ کړ حميده زويه !زما خو دې زړه پښو ته اوغورځاوه ما ورته ويل څه درباندې شوي نه وي عبدالله ځوی مې او بل انديوال دې راغلل ته ورسره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وې د عبدالله زوي نه مې پوښتنه وکړه چې حمید دې څه کړ هغه راته وویل دوی لږ وروسته راځي خو زما زړه نه منله خو ښه شوه چې راغلې ،
امنې ادې ورانګې ته سترې مشې ورکړه په انګړ کې تیار ځایونه اچول شوي وو هلته کښېناستو ، زاهد او ورانګې ډوډۍ نه وه خوړلې دوي ته یې د ډوډۍ بندوبست نیولی وو ښه ډوډۍ یې ورته تیاره کړې وه د یو شي کمی هم نه وو پکې زاهد او عبدالله د باندې په حجره کې ناست وو زما د ورانګې نه زړه نه کیده ، ورانګه ډېره خوشاله معلومیده موږ لا په خبرو بوخت وو چې عبدالله پیغام راولیږه سلام وروره د ورانګې په لیدو دې موږ هیر کړو .
د باندې حجرې ته راشه زاهد درباندې پوهه نشي ریښتیا چې دوه مینان سره یو ځای شي په نورو خلکو د ړندو ګمان کوي زر حجرې ته راشه ستا ورور عبدالله زه هم زر زر پاڅیدم غوښتل مې چې حجرې ته لاړ شم د امنې ادې او پلوشې نه مخکې را باندې ورانګې غږ کړ په خوله کې یې د جان نوم راخیستی وو خو زر یې خوله بنده کړه بیا یې وویل حمیده چیرې ځې؟ ما ورته وویل چې ځم حجرې ته تاسو په خپلو کې خبرې او خولکت کوئ.
کله چې حجرې ته راغلم عبدالله به پټ پټ له ځان سره موسکی شو غلې غلې به یې ماته راکتل موږ په خپلو کې په خبرو بوخت وو چې پلوشې راغږ کړ عبدالله وا عبدالله ډوډۍ تیاره ده عبدالله وویل سمه ده دادی . درغلم پلوشې خورې
ډوډۍ راوړل شوه ډېره خوندوره ډوډۍ وه دومره خونده وره ډوډۍ ما هیڅکله نه وه خوړلې د ډوډۍ خوړلو وروسته زاهد وویل چې عبدالله جانه کوم ډاکټر به روغ وي چې خور مې ورولم؟ عبدالله لږ شانتې غلی وو بیا یې وویل چې رضوان الله خټک ته بې یې ورولو ډېر پوه او هوښیار ډاکټر دی رضوان الله خټک ته د ورتګ پرېکړه وشوه په هماغه ورځ خو نه ورغلو سبا سهار څلور واړه د رضوان الله خټک د شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیک په لوري وخوځیدو . موږ چې هلته ورسېدو ډېر بې روبار او رش وو تر سبا ورځې پورې به هم موږ . ته نوبت نه وای رسېدلی

زه زیات خوشاله وم ماویل چې شکر دی چې رش (ګڼه ګوڼه )زیاته ده وړانګه به د یوې شپې نه زیاته راسره پاتې شي خو عبدالله وویل خفه کیږئ مه نوبت اسانه دی زه ورسره پیژنم له ټولو نه به موږ مخکې کې کړي عبدالله چې روانېدو غلی مې پسې غږ کړ ورته ومې ویل دا ته څه کوې پرېږده چې وځنډیږي یوه شپه چې اضافه ورباندې وشي هم ښه ده عبدالله وخندل او ویې ویل ما ددې لپاره فکر کړی ما وویل څه ډول فکر عبدالله وویل چې هغه به وروسته درته ووایم او روان شو زه هم غلی شوم نور څه مې ونه ویل عبدالله زر بیرته راغی یو څو دقیقې لا نه وو ولاړ په دروازه کې غږ وشو چې د عبدالله په نوم څوک شته عبدالله غږ وکړ بلی شته کله چې کلینیک ته داخل شو له معاینې څخه وروسته ډاکټر صاحب وویل چې کومه ناروغي نه لري خو یوه ناروغي چې زه یې له نورو ناروغیو سخته بولم هغه تشویش او فکر کول دي ستاسو ناروغ تشویش او فکر ته مه پریږدئ.

تاسو باید د هغی پام ډېر غلط کړئ ستا سو ناروغ تشویش او فکر تر دې ځایه رسولی او بل کمزورې شوې زیاته ده زه بۀ درته دوا ولیکم ډاکټر دوا راته ولیکله زه او عبدالله په دوا پسې لاړو وړانګه او زاهد د باندې د ناروغانو په تم ځای کې کښېناستل مونږه چې کله دوا راواخیسته د کور په لور روان شو کله چې کورته ورسېدو زاهد وویل که خوښه مووي راځئ چې د پوهنتون په لورې لاړ شو عبدالله خو ورسره وومنله چې ځنګه چې ستا خوښۀ وي همغسې زما خوښۀ خو زه ترې انکاري شوم ورته مې وویل زه به دفتر ته لاړ شم د انجینر صاحب کمپیوټر مې راوړی هغه بۀ هم راسره یوسم څو ځله مې له ځانه سره یووړ ،

خو انجینر صاحب به نه وو راغلی زاهد هم نوره راسره ټینګ نه شو زاهد او عبدالله دواړه د پوهنتون په لورې لاړل زه یوازې د خپلې مینې په خاطر ترې پاتې شوم ما ویل راځه چې یو ملټ یې خوا کې وې هم بس ده خدای خبر بیا بۀ کله سره وینو ریښتیا چې د مینې نه خوږ سپیڅلی او په زړه پورې بل شی نشته ،


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریښتیا چې مینه دهغه ریښتینو رڼاوو څخه دی چې د روحونو پیوستون یې په رڼا کې وجود مومي ریښتیا چې مینه هغه نه اټکل کیدونکی احساس دی چې تر نن ورځې پورې نه چا ښکاره کړه او نه یې څوک ښکاره کولو لپاره الفاظ لري ،زه ډېر په ماتو ګوډو پښو کورته دننه شوم وړانګې چې زه یوا ځې ولیدم زیاته خوشاله شوه د غرمې د ډوډۍ وخت وو ، د عبدالله مور امنې وویل چې د ډوډۍ وخت دی عبدالله او دوړانګې لورکۍ ورور په کومه لاړل ؟تاسو ته ډوډۍ راواخلم که هغوی ته انتظار کوی؟ ما سمدستي عبدالله ته فون وکړ ورته مې وویل چې تاسو دډوډۍ لپاره راځی که مونږه ډوډۍ وخورو ؟ عبدالله دیوې شیبې لپاره غلی وو ،د زاهد سره یې څه وویل بیا یې وویل نه تاسو ډوډۍ وخورئ مونږ ډوډۍ همدلته خورو ما, وړانګې,پلوشې او امنې ادې یو ځای ډوډۍ وخوړه، له ډوډۍ خوړلو څخه وروسته مې وړانګه په اشاره کې پوهه کړه چې زه حجرې ته ځم ته راپسې راشه،

امنې ادې ته مې وویل چې زه به حجرې ته لاړ شم هلته به لږ ارام وکړم، زه چې پاځیدم وړانګې هم وار خطا نکړ هغې سم دستي وویل زه هم درسره ځم حجره به هم ووینم لږ به مې پام هم غلط شي او د خوست خبرې به هم درته وکړم، ما هم ددې لپاره چې امنه ادې او پلوشه راباندې پوهه نشي ما وویل وړانګې ته ناروغه یې لږ ارام به وکړې، وړانګې وویل نه اوس روغه یم زه او وړانګه د حجرې په لورې راغلو کله چې د حجرې په دروازه باندې داخل شوو وړانګه رانه مخکې شوه ماته یې مخ راواړوه زه مخ پر قبله روان وم وړانګه په شا روانه وه ماسره یې خبرې کولې غلی غلی قدم یې پورته کاوه ماورته وویل هسې نه چې پښه د زمکې سره ولږېږي ونه غورځې ،

وړانګه همغسې په شا روانه وه او سترګې یې په ما کې ګنډلې وې خبرې یې کولې زما خبره ریښتیا شوه یو څو قدمه چې نوره هم لاړه د چپلکې پونده یې ورغبرګه شوه ،کله چې غورځېده لاسونه یې زما له غاړې تاؤ کړل غورځیدلو ته خو ما هم نه پرېښودله، خو ما چې ځان د هغې نیولو ته برابراوو نو هغې مې وړاندې


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسونه په غاړه کې واچول تا به ويل که وړانګې په رضا پونده په څمکه ووهله وړانګې تر ډېره سر زما په ټټر پورې جوخت نيولی وو ،
وړانګې زما په ټټر پورې سر داسې ټينګ نيولی وو لکه يو ماشوم چې په ژاړه دمور غېږې ته په ارمان ورولوېږي تر ډېره زما او وړانګې ترمنځ چپه چوپتيا وه ما نور هيڅ شي اوازنه اوريده بغير زما له ساه څخه پرته چې په شور کې دی ټوپونه وهي نور ټول ځايونه چوپتيا نيولي وو تا به ويل که دوی ټول زمونږ ننداره کوي ،نه پوهيدم چې ولی نه شم کولی چې زړه قرار ونيسم ،نه پوهېږم چې ولی مې زړه هر درب لړزوي، نه پوهېږم چې ولی سرتر پښو لړزې اخيستې يم ،نه پوهېږم چې ولې مې شيبه په شيبه د زړه ناقراري زياتيږي، د روح په ژورو کې مې يو مرموز غږ پرله پسې غږيږي،
او وايي چې ځوانه نن خو د خپل محبوب سر په ټټر پورې جوخت نيولی که سبا درنه جدا شي بيا به څه کوې ما ټکان وخوړو دوړانګې سرمې په دواړو لاسونو له ټټر څخه راپورته کړ، وړانګې سترګې تکې سرې اچولې وې اوښکې يې د ملغرو په څير په مخ رواني وې ،ما وړانګې ته د تسلې په دود وويل وړانګې هيله کوم ژاړه مه، سترګې دې پاکې کړه په ژړا هيڅ نه کيږي، وړانګې په ژړا کې وويل جانه که په ژړا څه نه کيږي،ته ماته وايې چې سترګې پاکې کړه خير زه ، زه خو به –زه خو به سترګې پاکې کړم خو تا –تا بياولې سترګې سرې اچولې ته –ته –اخير ته ولې ژاړې چې ماته وايې ،
وړانګې ژاړه مه په ژړا څه نه کيږي زه غلی وم وړانګې بيا وويل جانه !–ای جانه ! زما –زما د زړه څخه د غمونو د کميدلو يو ته يې چې که –که هر څومره غم مې په زړه وي جانه چې تاووينم هرڅه مې هېر شي او بله جانه همدا ژړا ده چې د غمونو په کميدو کې راسره مرسته کوي زه او وړانګه تر ډېره همغلته ولاړوو وروسته وړانګې دحجرې څخه دوې چوکۍ راوخيستې په يوه باندې زه او په بله بلاندې خپله وړانګه مخامخ راته کښېناسته ما او وړانګې ډېرې خبرې وکړې .


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګه به په خبرو خبرو کې په ژړا شوه کله چې پاڅیده کورته تله نو مخ یې راواړوو راته یې وویل جانه هغه زما تصویر درسره شته که غورځولی دې دی ته یې په جیب کې ګرځوې که سوزولی دې دی، ما وویل ګرانې ته ووایه چې ما به غورځولی سوځولی وي که راسره به وي وړانګه موسکی شوه څه یې و نه ویل ما له جیبه تصویر راویست وړانګې ته مې ورښکاره کړ، وړانګې چې تصویر پرهمغه شان تروتازه ولید چې څومره ښه یې ساتلی زیاته خوشاله شوه او غلي، غلي قدمونه یې پورته کړل ما بیا ورباندې غږ کړ وړانګې ! ای وړانګې ! وړانګې چې مخ راواړاوه ما د وړانګې تصویر شونډو ته نیږدې کړ او ښکل مې کړ وړانګه غلي شان موسکی شوه او کورته دننه شوه.

وړانګه چې کورته دننه شوه زړه مې ډیر تنګ شو یوه شیبه مې زړه د وړانګې څخه جدا یې نه غوښتله وړانګه اوس له مانه ډیره لرې نه ده یواځې د کور په دیوالو رانه پناه ده دهغې هره خبره مې په زړه د سپوږمې د وړانګو په څیر د خنجر په څیر لړیږي د وړانګې هغه خبره خو مې بیخي زیات زړه تخنوي چې جانه ای جانه زه له تاسره مینه لرم یوه شیبه خو مې له ځانه سره غلي غلي وژړل ما ویل وړانګه خو دا دوه شپې دلته ده سبا یا بل سبا به ځي بیا به څه کوم.

د وړانګې بیلتون اوس راته ډیر سخت وو له ما یې هرڅه اوس هیر کړي وو کله به مې سر په زنګون کیښود کله به پورته شوم په حجره کې بۀ مې قدم واهه زړه مې هیڅ قرار نه کاوه یو ځل بیا په دواړو پښو کښېناستم سر مې د زنګنو په منځ کې کیښود بې اختیاره مې دخولې دا لنډۍ را بهر شوې.

زړه مې نري درزونه وکړل لکه دیوال چې زلزلې وهــــــــــلی وینه
زړه مې دوراني کلا برج دی
دغم چنچڼې په کې ځـــالي جوړوینه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنور چې تود شي اخر سوړ شي                زړه چې مين شي هميشه لمبې وهينه
مينې دې دا سې ليونی کړم                لکه سوالګر ديوال ته شپې سبا
.                کومه

ماته به د وړانګې سپوږمۍ ته ورته خيره ، لمر ته ورته تندی ،له نشې ډکې سترګې ،پسرلي ته ورته موسکا ، تکې تورې شپې ته ورته زلفي ،له خماره ډک بانړګان سترګو سترګو ته کيدل يوه شيبه مې هم له زړه او ذهنه ايخوا ديخوا نه کيده وړانګې زه د ژوند په معنی پوه کړم وړانګې ماته مينه اوښوده وړانګې زه د ژوند په خوږو ترخو پوه کړم زه لا په همدې سوچونو کې وم چې عبدالله او زاهد دواړه حجرې ته را دننه شول ما جيب ته لاس کړ دسمال مې راويست سترګې مې پاکې کړې خو بيا هم زما سرې سترګې دوي وليدې که له اوښکو مې پاکې کړې هم له زاهد نه عبدالله پوښتنه کې مخکې شو او ويې ويل حميده بيا دې سترګې ولې سرې دي خير خو دی؟ ما يواځې وويل خير او خيريت دی عبدالله وويل چې خيرا و خيريت وي زه ستا سرې سترګې نه شم ليدی ولې ژاړې ما دا ځل ورته سرخوږي پلمه کړ چې سرمې هم خوږيږي او بيګاه شپه مې خوب هم نه دی کړی عبدالله غوښتل چې نور څه هم ووايي خو ما سترګې ورته ټينګې کړې چې ګني زاهد دی پوه بۀ شي عبدالله سمدستي د خپلو ټولو پوښتنو ځواب پيدا کړ غلی شو نور يې هيڅ ونه ويل.

لسم څـپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وړانګې سره مې دا څو شپې ډېرې ښې تېرې شوې هيڅ په ځان نه يم پوهيدلی چې دا درې څلور ورځې څنګه تېرې شوې لکه يو ساعت داسې ، شپې وې چې د ژوند ټولو خوږو اوترخو نه ماته زياتې بختورې وې، نن هغه سهار راغی چې وړانګه به بيا رانه دخوست د ښکلې سيمې په لور يوسي خو مګر افسوس چې دا ښکلی سلوک ،او د زړه رپيدل پای ته ورسيدل ، د سترګو جنګ خلاص شو ، دوړانګې په هره خبره کې هرڅه وو اررزو وه ، مستي وه ، ځواني وه، هيله وه ، جذبه وه ، فکر او خيال وو ، مينه وه او بيا هم مينه ، خدايه تا په دنيا کې هر څه پيدا کړي تاسره ديو شي کمی هم نشته ،خو يو شی کم دی، خدايه چې مينه د راليږله خدايه چې عاشقي د راليږله خدايه نو بيلتون د بيا ولې راليږه بيلتون د زړه سمسور باغ په خزان وهلي باغ بدلوي ،بيلتون د زړه په سمسوره دښته په شنه اسمان ګلۍ اوراوي ،

بيلتونه کور دې نغری شه
چې پښتانه درباندې باندې کړي ديګونه

د سهار ۷:۳۰ او نيمې بجې وې چې زاهد وويل حميده که خوښۀ مو وي نوره بۀ مونږ لاړ شو ماوويل چې زما په خوښې پورې به اړه ونه لري خوښۀ وړانګې ته ورکړه ، که وړانګه روغه وي لاړ بۀ شئ که روغه نه وي يو څو ورځې ايسار شئ، ما دا خبره ددې لپاره وکړه چې وړانګه ګوندې وو ايي چې يو څو ورځې د نور هم دلته پاتې شو خو له وړانګې نه زاهد په ځواب کې مخکې شو او وويل وړانګه چې ګورم اوس روغه ده ، ماله ځانه سره ووې ظالمه څه خبر يې اوس خو خود هم روغه ده خو چې کله يې خوست ته ورسوې کورته له خيره ورسېدې بيا بۀ درته معلومه شي چې وړانګه روغه ده که ناروغه ،څوک چې کوم طبيب ته ناروغ ورولي طبيب ورته درمل ليکلي نو ناروغ درمل له ځانه سره وړي، خو ته ناروغ بيايي او درمل همدلته پريږدې ،زه په سوچونو کې وم چې زاهد راباندې غږ وکړ چې حميده ! بيا کومې خوا تللې يې په مونږ ناوخته کيږي ما هيڅ ځواب ورنه کړ زما ورخطايي ته دعبدالله او وړانګې دواړو فکر وو زما پرځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبد الله ځواب ورکړ ورته يې وويل چې سمه ده بسم الله کړئ، چې پاتې کيږی نه بيا در باندې ناوخته کيږي
دوي پاڅيدل د دروازې په لورې روان شول زه لا همغسې ولاړ وم لکه په ځای پورې چې ميخ شوی وم
. عبد الله د څنګل په سر وخوځولم
دفکرونو او خيالونو له دنيا څخه يې رابهر کړم زه هم په بيړه د دروازې په لورې روان شوم زه عبد الله او
زاهد له دروازې څخه د باندې راوتو دروازه خلاصه وه امنې ادې چې وړانګې ته رخصت ورکوو دوه ځلې
يې په تندې ښکل کړه د امنې ادې سترګې له اوښکو ډکې وې کله چې پلوشې رخصت ورکوو دواړه په ژړاه
شوې تر ډېره يې ديوبل په اوږو سرونه ايښې وو کله يې چې رخصت سره واخيست يوې او بلې ته يې ډېر څه
په سترګو کې وويل زه, عبد الله او زاهد يو ځای روان وو وړانګه
په موټر پسې شاته روانه وه ما به چې کله شاته مخ واړوو پلوشه لا همغسې په دروازه کې ولاړه وه زمونږ په
لور يې راکتل وړانګې په هم زر زر مخ وراړوو او لاس به يې ورته پورته کړ کله چې د سړک غاړې ته
ورسېدو يو تکسي موټر يې ودراوو
.ورته يې وويل چې د تل اډې په لورې ځو
موټروان هم موټر راتاؤ کړ زاهد دموټر په وړاندې سيټ کښېناستو وړانګه چې کله موټر ته ختله پښې يې
سستې سستې کيدې غلی يې راته وويل جانه د خدای په امان کله چې موټر حرکت وکړ ماته سمدستې هغه
سندره ياده شوه چې وړانګې په ليک کې راته ليکلې وه بې اختياره مې له خولې ووتل

هی هی يار مانه وړې زما دلدار مـــانه وړې
زړګی مې چوې زما د خوږ زړګې قرار مـانه وړې هی ، هی يارمانه وړې زما دلدار مــــــانه
. وړې
نور نو زه په ځان نه يم پوهيدلی چې څه وشول خو چې کله مې سترګې پرانيستې ګورم چې سرته مې امنه
ادې او پښو ته مې پلوشه او مخامخ راته عبد الله په چوکۍ کې ناست دې ماغوښتل چې پورته شم خو چې


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ته مې پام شو د سروم ستن چې په لاس کې وه د امنې ادې او پلوشې دواړو په سترګو کې اوښکې وې
عبدالله چې زما سترګې خلاصې وليدې غلی موسکی شو په ماباندې دوهم ځل بيا بې هوشي يا خوب غلبهٔ
کړې وه خو چې په دوهم ځل مې سترګې پرانيستې نه عبدالله وو نه د عبدالله مور يواځې مې خوا کې د
عبدالله خور پلوشه ناسته وه غلې يې راته وويل :
حميده وروره ! اوس خندګه يې زه له ځان سره غلی موسکی شوم لږ وشرميدم ورته مې وويل چې اوس شکر
دی روغ او جوړ يم پلوشې وويل حميده وروره خفه کيږمه ستا ټوله کيسه ماته وړانګې وکړه وړانګې راته
ستا په نوم يو ليک هم راکړی ما وويل نو بياخه ته ګوري ليک راکړه پلوشه پاخيده الماری نه يې ليک
راواخيست او ماته يې راکړ کله چې پلوشې ماته ليک راکوو راته يې وويل ليک بهٔ درکړم خو په يو شرط
ما وويل يو نه دوه شرطونه خو اووايه پلوشې وويل وړانګې که په ليک کې زما په باره کې څه ليکلي وي
هيله کوم چې نه يې وو منې ما وويل په دواړو سترګو پلوشې زما چې له وسه کيږي انشاءاله ته بې غمه
اوسه مونږ لا خبرې کولې چې عبدالله او دعبدالله مور امنه ادې هم راغله عبدالله چې روغ وليدم زيات
خوشاله شو د ليک لوستلو موقع مې د لاسه ورکړه ليک مې په جيب کې کېښود دا ورځ ټوله په ما په
بې هوشي کې تېره شوې وه د ماخوستن د ډوډۍ وخت وو عبدالله راته وويل چې راځه عاشقه اوس خو بهٔ
. روغ يې ډوډۍ وخوره د سهار راهيسې دې څه نه دي خوړلي
ما وويل سمه ده د باندې په انګړکې تيار دسترخوان او اروو ماته پلوشې لاسوته او به راوا چولې کله چې
په ډوډۍ کښيناستو امنې ادې وويل چې زويه نن درباندې څه شوي وو مور او پلار درياد شول؟ د زاهد
او وړانګې په تګ که کومه بله خبره وه ؟ما وويل نه ماته همدلته خدای مور هم راکړې او ورور يې هم
راکړی ،
چې عبدالله دی او خورکۍ يې هم راکړې چې پلوشه جانه ده امنې ادې وويل چې مور پلا رورونه خوندې هم
د راته نه وې يا دی شوې نو بيا ولی يو ناڅاپه په تا داسې وشول ما ورته وويل چې امنې ادې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیمګړی دی انسان په یو حال نه دی کله مو چې ډوډۍ وخوړه نو د لمونځ او استراحت لپاره حجرې ته لاړو لمنځونه مو وکړل او ځملاستو ماته خوب چیرې راتلو خوب چیرې وو توره تیاره شوه خلک ټول دخوب درنې فریښتې د وزرونو لاندې ویده شول په خوب کې د هر چا برخه وه ما هم په تلوار سره ددې درنې سپیڅلې او مهربانه فریښتې په لورمنډه واخیسته خو مګر هلته زما برخه نه وه هلته زما لپاره ځای نه وو ټوله شپه خیالونه او سوچونه وو ،

وړانګه کومه کوډګره او که جادوګره وه نه پوهیږم چې وړانګه به مور دې دنیا زما لپاره راوړې وي که د کوم بل چا لپاره کدای شي وړانګۀ خدای زما لپاره پیدا کړی وي بیابه مې وویل نه نه هغه وړانګه نه شي کیدای زه دومره بختور نه یم زه ، زه ډیر بدمرغه یم زه لا په همدې سوچونو او خیالونو کې وم چې د سیمې ملا آذان . وکړ ډیر مینان بۀ یې دخپل محبوب له غیږې بیل کړي وي د ملا آذان سره ماته هغه لنډۍ ذهن ته راغله آذان په ځنډ کوه طالبه

. زه د جنان غیږې له اوس رغلی یمه

ټوله شپه مې سترګه پټه نه کړه د سهار لمانځه او چای څښلو نه وروسته د پوهنتون په لور روان شوم پوهنتون ته په لاره وم چې د وړانګې لیک مې ذهن ته راغلو لیک مې له جیب څخه راویست د لیک په سر لیکل شوي وو

جانه غواړې څه درته ولیکم ،

جانه څه غواړې څه درته ووایم ،

جانه نه پوهیږم چې له کومه یې راپیل کړم

جانه تامې روح ته خوشالي راکړي،



WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته مې روح يې، ته مې ساه يې، ته مې ژوند. ته مې مينه ،او ته مې په وجود کې خوره وينه. په تا مې ټول رګونه شريانونه او وريدونه چليږي، جانه زه پنځه وخته لمانځه څخه وروسته لاسونه خداى تعالى ته پورته کوم،
خدايه ما او جان دواړه يو ځاى کړه، دا سوال کوم د خداى نه چې موږ هيڅکله له يو او بل څخه مه جدا کوه،
نه په ژوندانه او نه پس له مرګه، کاش کې جانه چې ته پوه شې چې زه څومره مينه درسره لرم، ته څه پوهيږې
جانه که دا زړونه د سينې څخه بهر واى، تا ته به هر څه معلوم واى جانه ته زما د وجود په رګ رګ او د روح
پرخپه ،خپه او د زړګي په اړخ، اړخ انځور شوى يې، پرته له تا څخه زه په هيڅ نه پوهيږم ،له خدايه هيله لرم
چې ما او تاسره يو ځاى کړي، تا زما د غاړې هار کړي چې هميشه مې په غاړه کې وې، له خدايه هيله لرم
چې ستا ژوند زما ژوند ، ستا مرګ زما مرګ، او ستا ابديت زما ابديت کړي،
. ستا وړانګه
دوړانګې نوم لاندې ليکل شوي وو ، دويمه برخه جانه ستا اود عبدالله د پام وړ، هيله کوم چې پام ورته وکړى،
جانه په لنډو الفاظو کې وايم ډېرېې نه اوږدوم ،
جانه د عبدالله خور پلوشه چې تا همدا شان ما هم خپله خور او بلله پلوشه د ترور په زوى باندې مينه ده او له
هغې سره مينه کوي پلوشه غواړي چې خپل ژوند يو ځاى له هغه سره تېر کړي، عبدالله او مور يې
غواړي چې پلوشه کوم بل چاته ورکړي پلوشه نه شي کوي چې مور او ورور ته دا خبره وکړي شرميږي هيله
کوم چې د پلوشې سره په دې کار کې مرسته وکړى په ورستيو کې د پلوشې د مين نوم درته ليکم چې
پلوشې مينه ورسره لرى او ورسره واده کوي د پلوشې محبوب ايوب
پاى ستا وړانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله مې چې لیک پای ته ورساوه ما غوښتل چې له همدې ځایه ستون شم او له عبدالله سره دا خبره شریکه کړم، پوهنتون له دروازې نه څو قدمه لرې زړه نه زړه ولاړ وم چې پوهنتو ته داخل شم او که بیرته ستون شم ما لا فیصله نه وه کړې چې د لیک پوهې استاذ راباندې غږ کړ حمیده ! څنګه په دې درسي وخت کې د باندې ولاړه یې تولګي ته ولې نه ځې ما چې ساعت ته وکتل ریښتیا رسمي وخت وو ما ډیر وخت په لار کې د لیک په لوستلو تېر کړی وو.

اخیر مې دا فیصله وکړه چې پوهتون ته داخل شوم اول ساعت نه تر اخیر ساعت پورې په دې نه یم پوه شوی چې استاذ څه راته وښودل او څه یې وویل کله چې له پوهنتون نه رخصت شوم بهر لاړم د خپل دفتر په لورې کله چې د یونیسیار دفتر ته ورسېدم انجینر صاحب ډېر وختې راغلی وو کله یې چې زه ولیدم راغږ یې کړ حمیده زما کمپیوټر د جوړ کړی کنه؟ ما ورته وویل چې په همغه ورځ مې جوړ کړی هره ورځ یې له ځان سره راوړم او بیرته یې وړم ځکه چې کمپیوټر به مې راوړ ته به نه وې او بیا به مې له ځانه سره یوووړو ،

کمپیوټر مې انجینر ته ورکړ او ورته مې وویل چې انجینر صاحب زه که یو څو ورځې را نه غلم هیله ده چې بې پروا مې وه نه بولې لږ مصروفیت لرم ،انجینر صاحب وویل ولې خیر خو دی؟ رنګ د هم داسې بدلون کړی ما وویل خیر او خیریت دی، انجینر صاحب وویل تر هغې چې د کار خلاص نه وې هیڅ کله هم مه راځه ،کله چې کار خلاص کړې بیا راشه زه زیات خوشاله شوم

او بیرته له خپل دفتر څخه کور ته تګ په لاره کې مې درې څلور ځلې بیا د وړانګې لیک ولوست په هر ځل لوستلو کې به یې بیل خوند پروت وو زه چې کور ته ورسېدم پلوشه او امنه ادې هم پاڅیدې له سترمشې وروسته یې وویل حمیده زویه نن څنګه دومره وختي راغلې خیریت خو دی ما وویل خیر و خیریت دی هیڅ نه شته نن په دفتر کې دومره زیات کار نه وو هغه مې خلاص کړ او راغلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې عبدالله راغلو د عبدالله سره مې تړوله کیسه شرکیه کړه کوم څه چې راته وړانګې په لیک کې لیکلي وو عبدالله غلی وو هیڅ یې نه ویل ما وویل عبدالله که ما په ریښتیا د ځان ورور ګڼې باید زما خبرې ځمکې ته ونه غورځوې عبدالله که نور نه پوهیږې

وړانګۀ خو دې پخپلو سترګو ولیده چې دهغې څه حال دی عبدالله وویل مور, همدا شان ما خو ورته کوم بل انتخاب کړی وو خو چې ته وایې زه بۀ یې خبره له مور سره شریکه کړم چې هغه څه وایي عبدالله ته مې وویل عبدالله په دې برخه کې ستا زیاته پاملرنه غواړم وروسته له خبرو نه مې د وړانګې لیک هم ورکړ ورته مې وویل دادی لیک په خپله ولوله عبدالله چې لیک ولوسته سر یې وخوزاوه ما ښآم د لمانځه نه وروسته کله . چې د ډوډۍ وخت شو پلوشې لاسوته اوبه اچولې د پلوشې په لاس کې کوزه    رپ رپې اخیستې وه د پلوشې لاسونه سرتر پښو ښوربدل د عبدالله هم ورته پام وو خو څه یې وه نه ویل د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته زه او عبدالله دواړه لاړو حجرې ته د لمانځه څخه وروسته دواړه قرار ځملاستو ماته تر ډېره خوب نه راتلو د وړانګې تصویر مې راوخیست دا چې تیاره وه سم نه ښکاریده د حجرې لیټونه مو مړه کړي ول مبایل مې راوخیست د مبایل په رڼا مې د وړانګې تصویر ته تر ډېره کتل ما به د وړانګې تصویر ته ویل، وړانګې که اوس د پاکستان حکومت راشي مابندي کړي مانه په وهلو وهلو ساه واخلي، ماته کمزوري راکړي هرڅه چې دوي غواړي راباندې ویې کړي ،خو مګرګراني زما مینه چې له تاسره یې لرم ،هیڅکله نه شي راڅخه اخیستلی ماله وړانګې تصویر سره خبرې کولې، چې مبایل ته مې زنګ راغی اول خو مې فکرورته نه وو،

ځکه مبایل مې خفیه یا سایلنټ وو خو چې د مبایل سکرین(پرده ) یو ځلې تور رنګه او بیا به یې رڼا وکړه نو زه متوجې شوم چې موبایل ته مې زنګ راغلی موبایل ته مې چې وکتل د وړانګې نمبر وو غلی له کټه څخه راښکته شوم چې عبدالله راپسې ویښ نه شي د باندې برنډې ته چې راووتم د مبایل اوکې تڼی مې کېکاږله زه لومړی غلی وم خو چې دهغې خوا زړه لړزونکی اواز راغی ،سلام جانه خدای د وکړي چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبه مي نه وې ایستلی ما وویل وعلیکم سلام ګرانې ته ولې دا ډول خبرې کوې ستا خبرې ما – ماته نور سکون او ارام رابښي تا به زه ولې له خوبه ایستلی وم وړانګې دا ځل خبرې په داسې انداز کولې چې په غږکې یې ژړا ملتیا کوله وړانګې وویل جانه – ای جانه د خفه کیدو زړه خو مې نه درباندې کیږي، خو څه وکړم مجبوره یم چې درته ووایم وړانګې تر ډېره سلګۍ وهلې څه یې نه ویل زما زړه هم راپړسېدلی وو وړانګې بیا د زړه په زور خبرې پیل کړې جانه پلار مې دا څو ورځې کیږئ چې مور ته مې او هـ هـ همدا شان مشر ورور ته مې وایي چې زه مې لور واده وم زه ، زه مې نوره پېغله لور په کور کې نه شم ساتلی دواده خبره نه وه سم د آسمان تندر وو چې په ما راپریوتو یوه چیغه مې د خولې ووته،

وړانګې نه دا نه شي کیدای ،

ته ، ته یوازې زما یې پلار به دې ډېر بد وکړي چې تا بل چاته ورکړي، زما نه چیغه دومره په زوره وتلې وه چې عبدالله له خوبه راپاڅیدلی وو د حجرې په دروازه کې ناست وو په سترګو کې یې اوښکې راغلې وې ما چې عبدالله ته پام شو ځان مې لږ کنټرول کړ ما چې خوله خبروته جوړوله وړانګه راڅخه مخکې شوه او ویې ویل جانه زما زما سترګې یوازې الله ته دې او بل تاته دې جانه هیله کوم چې زر راشه او ماله دې عذابۀ وژغوره جانه زه ، زه نه شم کولی چې نور صبر وکړم و جانه زر راشه عبدالله چې لا تراوسه د حجرې په دروازه کې ناست وو نو ما له شرمه غلې وویل ګرانې سبا مو وروستۍ د امتحان پرچه ده نور ټول خلاص شویدي : سبا نه بله ورځ به زه درځم وړانګې بیا وویل

جانه ما مې په زړه مالګې دوړوه ما ، ما ، ما به ددې امتحانه ژوک خلاصه کړي دتاخو د امتحان پرچه ده زر بۀ یې حل کړې ما بۀ ژوک له امتحانه خلاصه کړي دا چې مور په موبایل کې ډېرې خبرې وکړې ما ویل چې یو نتېي ختم نه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ويل ګرانې که چيرې ته په ريښتيا له ما سره مينه لرې نو ځان د بيرته زړور کړه او له خپل ټول توان او ذهني فکر څخه کار واخله ډېر پام کوه چې د پلار درته پام نه شي ګرانې په دې ډاډه اوسه چې هيڅ ډول تکليف به ما ستا له مينې څخه وانه ړوي.

هيڅ شی به په دې قادرنه شي چې ما له تا څخه بيل کړي زمونږ مينه پاکه ده ترڅو چې ژوندی يم ادامه به لري زه حاضر يم ستا په خاطر هرڅه وکړم. تر ډېرو خبرو وروسته مې اړيکه وروسره پرې کړه پدې خبرې سره پرې شوه چې وړانګې وويل جانه ستا دليدو په هيله ماهم وويل ګرانې زه هم ستا دليدو په هيله ما مبايل جيب ته واچوه عبدالله راپاڅيدو سترګو کې يې اوس هم اوښکې ښکاريدې راته يې وويل ستا ټولې خبرې ماواوريدې حميده وروره ! د بې صبری څخه کار مه اخله صبر کوه دصبر ميوه خوږه وي ماوويل عبدالله

صبر په هر څه کې په کار دی
په عاشقۍ کې بې صبري مزه کوينه

. عبدالله څه وکړم وڅه وکړم زړه مې خوږيږي

سر راباندې دروند شو ځمکه ټوله راباندې چورليده عبدالله تکيه راکړه اوکټ کې يې کښېنولم عبدالله ډېرې خبرې وکړې چې داسې خوره داسې ښځه داسې کوه داسې مه کوه ما وويل عبدالله چې يو غم خو نه دی چې په سړه سينه يې وکړم له کوره پټ راغلی يم درسونوته مې بيل زړه خورم مور پلار ورونو ته بيل د وړانګې غم مې بيل ځوروي

څه وکړم؟ وا عبدالله ته ووايه څه وکړم؟ عبدالله هيڅ وه نه ويل ما وويل عبدالله ولې نه دې دي اوربدلي چې وايي،

ياري د شنې لښتې ګوزار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چې خوړلی رنګ يې ځای ته نه راځينه
يو زخم نه دی چې بۀ جوړ شي
هزار زخمونه مې په زړه دي مړ به شـمه
يو د غريب پيدا کړم خدايه
بل د مين په زوراورو خلکو کـړ غم
که له غمه شرميدلی
په ما بۀ نه راتلی جوړه جوړه غـمونه

عبدالله وويل هيله کوم چې نور غلی شه ولی په خبره نه پوهيږې؟ له ځانه ليونی مه جوړه هوښياران وايي که غر لوړ دی په سر لاره لري هرڅومره سخت کار چې وي د حل لار ورته پيدا کيږي ولی دومره ورخطا يې؟ ټوله شپه عبدالله په نصيحتونو راته تېره کړه موږ لا په خبرو وو چې د سهار ملا د لمانځه لپاره آذان وکړو عبدالله وويل حميده بسم الله وايه راپاځه اودس وکړه هر څه بۀ خدای اسانه کړي ما او عبدالله چې کله مونځونه وکړل د سهار چای ښځلو لپاره کورته لاړو کله مو چې چای وڅښنه د باندې راووتو عبدالله ته مې وويل :
راځه چې په بيړه لاړ شو پوهنتون ته ګوندې څه چاره راته جوړه شي عبدالله وويل لونی کيږه مه امتحان ورکړه په قراره به لاړ شو ورځې هسې هم لويې دي ما چې هر څومره نا او نو وکړل عبدالله ونه منل اخر مجبور شوم چې پاتې شو عبدالله ته مې وويل که زاهد اوس دلته واي په کور کې نه وای پاتې شوی له ما سره چې په ټولګي کې وای بيا زما لپاره دومره نه وه مشکله عبدالله وويل ولې؟
ما وويل ځکه هغه د ژبپوهنې بنسټونو استاذ سره پيژني کيدای شي همداسې يې نمرې راکړي وای د زاهد سره يې ډېره راشه درشه وه له هغه سره يې له نږدې نه پيژندل عبدالله وويل او زاهد ماهد پريږده د سهار اته بجې وې چې د پوهنتون په لورې لاړو اته نيمې بجې امتحان اخيستل کيده کله چې پرچې ته


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېناستم په هیڅ نه پوهیدم، ناست د امتحان پرچې ته خو د خیال مرغه مې په خوست کې د وړانګې په کور کې پروازونه کول په هیڅ نه پوهیدم کله چې استاد د امتحان په صحنه کې ګرځیده زما خواته . راورسېده زما پرچې ته یې وکتل غلی شو څه یې ونه ویل

ما نه هم نوره لاره ورکه وه ټول فکر مې دوړانګې سره یو ځای وو یو ائې دومره مې وکړل چې د پرچې په شا باندې مې ولیکل استاذه ښېنه غواړم د ځینې ستونزو له امله چې زه یې لرم د هغې له امله نشم کولی چې ستا پوښتنو ته په سمه توګه ځواب ووایم ، که د زړه سوي وړ دې اوبللم کامیاب مې کړه کني ناکامیږم خوهسې هم استاذ ته زما د زده کړې معلومات هسې هم وو چې حمید تمبل دی او که تکړه د ټولو مخکې ما پرچه ورکړه استاذ هک حیران شو زه چې دوه قدمه ترې لرې شوم استاذ راغږ کړ حمیده ای . حمیده ! ته اودریږه

استاذ چې تر ما راورسېدو راته یې وویل چې څه خبره ده لومړی خو غلی شوم وروسته مې په لنډو لنډو خبره ورته تیره کړه استاد یو ائې سروخوځاوه راته یې وویل ورځه ،

عبدالله د باندې د موټرو په تم ځای کې ناست وو زه یې چې ولیدم راته یې وویل څنګه دا سې زر راووتې ورته مې وویل د پرچې د حل کیدو سره یې کار وو پرچه مې حل کړه نور څه کوم استاذ نور څه رانه غواړي عبدالله نور څه ونه ویل دواړه د کور په لورې روان شو کورته چې ورسېدو دواړه غبرګ کورته دې ننه شوو پلوشې او امنې ادې چې ولیدو دواړه حیرانې شوې دوې هیڅکه دواړه یوځای دومره وختې نه وو سره لیدلې عبدالله به چې سهار لاړو ماښام به راتلو او هم دا شان زه هم د عبدالله مور امنې ادې وویل زویه له خیره څنګه دومره وختې راغلې اغه هم دواړه خیریت خو دی

عبدالله وویل خیراو خیریت دی خو ، د خو په ویلو سره یې خوله بند شوه مور یې نوره هم اندېښمنه شوه .زویه ولی غلی شوې څه خبره ده عبدالله وویل مورې نور هیڅ نشته خو حمید روان دی ځې کورته


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالله مور چې دا خبره واوريده خوله يې وازه پاتې شوه هيڅ يې نشو ويلی عبدالله وويل مورې ولې ولاړه يې د حميده سامان برابر کړه چې ناوخته کيږي مور يو ناڅاپه ټکان اوخوړ لکه چا چې په زور سره خوځولې وي د عبدالله مور رامخکې شوه زه يې په دواړه مخه ښکل کړم راته يې وويل حميده زويه دا هر څه ريښتيا دي ته ريښتيا له مونږه ځې ؟عبدالله ريښتيا وايي ؟ما چې د امنې ادې همداشان د پلوشې سترګو ته وکتل د دواړو په سترګو کې اوښکې راغلی وې ما زړه ښه نشو کړای چې ورته ووايم عبدالله چې څه وايي دا هر څه ريښتيا دي زه ترډېره غلی وم د امنې ادې د زړه تڼاکه نوره وچاودې ده زه يې له دواړو لاسونو ونيوم په ژړا کې يې وويل بيا بيا ، بياولې راتلې چې اوس رانه روان يې ولې د زمونږ سره ليدل عبدالله به ! بيا بې وروره شي مونږه .... چاته پريږدې و حميده زويه

امنه ادې يو ځل بيا سلګو واخيسته ترډېره سلګو نه پريښوده چې خبرې وکړي ترډېرو سلګو او ژړا وروسته لکه ليونۍ بيا په خبرو پيل وکړ ته ، ته به نه ځې ، ته به نه ځې ، ته به هيڅ کله نه ځې ته ، ته ته يوائې ، ته يوائې د عبدالله ورور يې د ستا نور وروڼه نشته ما عبدالله پلوشې هم زړونه ټينګ نه شوو کړای مونږ هم په ژړا پيل وکړ ترډېره چوپتيا وه يوائې به د پوزې د کش کولو اواز راغی چې پوزه به يې . پورته کش کړه او خاموشي به يې ماته کړه

پلوشې ته مې چې وکتل هغې هم په سترګو کې ډېر څه راته وويل امنه ادې او پلوشه همغسې په خپل ځای ولاړې وې هيڅ يې نه ويل زه او عبدالله پخپله لګيا شوو چې خپل سامان برابر کړو لومړی مې خپل کالي راواخيستل هغه مې په بکس کې واچول عبدالله بلې کوټې ته په څه شي پسې لاړو پلوشه راغله راته يې وويل وروره ته ځې ما چاته پريږدې ته خپلې مينې ته په درنه سترګه ګورې زمونږ مينې ته نه ماورته وويل پلوشې خورې ستا ټول کار مه خلاص کړی ټوله خبره مې عبدالله ته کړی عبدالله اوس بې خبره نه دی هغه ستاسو په مينه خبر دی اوس چې زه ځم دوه ليکونه ورکوم . عبدالله ته وايم چې يو ته ولوله او بل پلوشې ته ورکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشي وويل نه دا سې ونه کړې ورور به مې مړه کړې ما ته خپل ليک پخپله راکړه ما وويل چې تاته يې ځکه نه درکوم چې ته يې بيا نه منې چې حميد زما لپاره څه نه دي کړي مونږ همدا خبرې کولې چې امنه ادې راغله په لاس کې څه ورسره وو ماته يې راوړاندې کړل ما چې ترې واخيستل ومې کتل پيسې وې ما چې هر څومره انکار ترې وکړ ويې نه منله .

زما بکسونه او جامې چې برابرې شوې له امينې ادې نه مې چې رخصت اخيسته امينې ادې کلک په زړه پورې جوخت نيولې وم دومره يې وژړل چې دومره ژړا به په ماپسې خپلې مور هم نه وې کړې د امنې ادې نه مې رخصت واخيست د پلوشې په سترګو کې هم ډنډ اوښکې ولاړې وې هغې ته مې لاس وراوږد کړ ورته مې وويل پلوشې خورې خفه کيږه مه زه بيا راځم.

ستا کار مې خلاص کړی عبدالله لړ زما نه وړاندې ولاړوو ورغږ مې کړ عبدالله وه,عبدالله دا ليکونه واخله يو ستا دی او بل د پلوشې خور ته ورکړه عبدالله وويل سمه ده پلوشې ته مې مخ راواړوو دهغې په شونډو کې مې موسکا وليده چې غلې له ځانه سره موسکۍ شوه زه او عبدالله دواړه روان شو او روستي ځل لپاره مې مخ بيا وروا ړه وو نه ګورم چې پلوشه او مور يې دواړه همغسې په دروازه کې ولاړې دي زه يې چې وليدم دواړه لاسونه يې پورت کړل ماهم چې زړه مې ډېر ټينګ ساتلی وو لاس ورته پورته کړ له سترګو مې اوښکې دګريوان په لورې تويې شوې.

سرک ته چې ورسېدو عبدالله ته مې وويل ته نور مه راسره ځه همدومره بس ده چې راسره راغلې خو عبدالله وه نه منله په يوټکسي موټر کې سپاره شو په پېښور کې يې د ټل اډې ته يوړو هلته له موټره ښکته شوو ټکسۍ وان ته عبدالله کرايه ورکړه هلته تيار د سرحد يابونډري موټر ولاړ وو فلائنکوچ موټر وو ځو سپرلۍ يې کمې وې سپرلۍ چې پوره شوې ما عبدالله ته وکتل دعبدالله په سترګو کې اوښکې ډنډ ولاړې وې يوه به يې ګريوانه ته نه وه رابهيدلې چې بلې اوښکې به يې د مخ په اننګو لار جوړه کړه ما او عبدالله تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره یو بل ټینګ په غیږ سره نیولي وو عبدالله نه چې مې رخصت واخیست ورته مې وویل عبدالله ما چې کوم لیک د کومې خبرې لپاره درکړ او څه چې مې په کې لیکلي هیله کوم چې په هغې عمل وکړې.

عبدالله ووې ته بېغمه اوسه موټر ته چې وختم عبدالله راغږ کړ ګوره حمیده چې مونږ له یاده وه نه باسې موټر روان شو عبدالله تر ډېره همغلته ولاړ وو د عبدالله امنې ادې او پلوشې نه راتګ ماته دومره سخت وو لکه دخپل کورنه چې کوم د بل هېواد ته په سفر روان وم سترګو ته بۀ مې کله دعبدالله مور امنه ادې شوه چې ویل به یې ریښتیا ځې حمیده زویه عبدالله ریښتیا وایي ما چې ورته وویل بلی زه په ریښتیا ځم امنې ادې په ژړا پیل وکړ راته یې وویل .

بیا ولی راتلې ولی –ولی دې له مونږ سره لیدل عبدالله زوی به بیا بې وروره پاتې شي هغې تر ډېره ژړل خبرې یې نه کولې وروسته یې بیا وویل ته– ته بۀ نه ځې ته بۀ هیڅکله نه ځې ته نور ورونه نه لري د ستا یوا ځې عبدالله ورور دی ته به نه ځې ، ته به نه ځې کله بۀ مې سترګو ته پلوشه ودرېده چې راته ویل یې حمیده وروره زما د مینې کیسه چې ته په مخ بونه ځې نو څوک بۀ یې بوځي زه خو مې ورور نه شم خفه کولی ځکه چې له موره یودی مور ته مې هم نه شم ویلی که ما کوم بل چاته ورکړي زما ژوند بۀ ډېر تریخ شي ما به ډاډګیرنه ورکړه او پلوشه بۀ لږه ارامه شوه.

همدا شان عبدالله مې هم سترګو سترګو ته کیده موټر چې کله کوم جمپ ته بریک وواهه نو زما د خیال مرغه بۀ یې په لومه کې راګیر کړو وزرونه بۀ یې لنډ شول خو چې کله به سمې ته شوو د خیال مرغه بۀ مې بیا وزرونه پیدا شول دلو مې نه بۀ یې ځان خلاص کړ لنډه دا چې په لاره کې کومه ستونزه نه وه اخر بوندړی ته راورسېدم موټروان ته د کرایې ورکولو وروسته د خوست د موټر په لور روان شوم کله چې سرحدي پولیسو ته راورسېدم تلاشي یې راڅخه واخیسته د پاکستانه به چې کوم خلک یا مسافر راتلل دهغې بۀ د پاکستان مالیشی تلاشي نه اخیسته .


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغې نه دافغانستان سرحدي پوليسو اخيسته که دافغانستان نه بۀ کوم سورلی پاکستان ته تله دهغې نه بيا دپاکستان ماليشی تلاشي اخيسته او دخوست ښار په موټر کې کښېناستو له دعا ويلو څخه وروسته موټر حرکت پيل کړ دا چې ما داڅو ورځې خوب نه وو کړی موټر دکړاپ کړوپ او موټر د ډېرې ښوريدا له امله زه بيا هم ويده شوی وم سترګې مې پټې شوی وې په هغه وخت کې لاري نه وې جوړې کنډ کپر وې له ډير مزل څخه وروسته چې مې سترګې پرانيستې په هواره دښته کې روان وو.

يو خواته يې غر او بل خواته هم سيمې ته چې ښه زير شوم ومې پيژنده موټر اوس د توراوبو سمې ته رارسيدلی وو زه يو ځل بيا خيالونو او فکرونو په مخه کړم وړانګه مې سترګو ته نيغه ودريده راته ويل يې چې جانه ستا خو دامتحان پرچه ده در به يې کړې حل به يې کړې ما به له دې امتحانه څوک خلاصوي .

زما سترګې خو اول الله ته دي او بيا تاته زړه مې راډک شو او رڼه رڼه کړم څاڅکو مې پرمخ لاره وکړه اوښکې مې دخولې ترکونجونو راوبهيدی داوښکو څاڅکی دمالګې په څير تروه وو زما سره په څنګ کې بوډا ټوخی وکړ زما پام يې ځان ته واړوه دخيالونو دينا يې رنګه کړه اوښکې مې پاکې کړې ديو څو دقيقو مزل څخه وروسته خوست ښار ته ورسيدو دا چې دغرمې وخت وو د لمبيده او غسل څخه وورسته مې دموبايل څخه دپاکستان شبکې سيم کارت لری کړ دافغانستان سيم کارت مې په کې واچوو يونټو ته مې چې وکتل يونټې يې تړل شوی وې دکريډت کارت له جمله کيدو څخه وروسته يونټې خلاصې شوې ورور ته مې زنګ وکړ.

ورور مې چې مبايل پورته کړ لومړی خو يې نه پيژندم وروسته يې راته وويل خبرې خو دی حميد ته ورته دي حميد خو نه يې ما ورته وويل ولې نه حميد يم ورور مې ښننه وغوښته راته يې وويل حميده وورره ښننه غواړم خفه نه شی په لومړي سلام باندې ماته شک پيدا شو چې حميد دی خو وروسته فکر راغی چې هغه خو په پيښاور کې دی دا خو د داخل نمبر دی ما وويل خدای د وبښه دې کې د ښښنې څه ضرورت دی ښه دا راته ووايه چې کور ته درشم که څنګه وکړم مشر ورور مې وويل اوه بابا بيغمه راځه اوس مه ويرېږه زمونږ


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمیرانه ورونیو سره بیلتون شوی د بیلتون کلمې مې زړه وچ وچ وخوړاوه خو وروسته مې وویل ښهٔ ده چې سره بیل شو ترڅو به مود بل دلاسو لاندې ژوند کوو ورور ته مې وویل بس داده ځو شیبې وروسته به زه در ورسیږم اړیکه یې پرې کړه سیده لاړم دموټرو تم ځای په لور موټر کې کښېناستم څو تنه سپرلي کمې وې کله چې سپرلي پوره شوې له دعا ویلو وروسته موټر حرکت وکړ زیات خوشاله وم چې له ډېرې مودې وروسته به خپل کور ته داخل شم مور به مې څومره راته خوشاله شي ما چې اتم ټولګی په خوست ولایت کې ولوست له هغې وروسته لاړم پیښاور ته دادی اوس مې یو کال د ادبیاتو پوهنځی هم لوستلئ او کورته . روان یم

موټروان ټیپ ته کله یو کیسټ ورواچوې خوند ورنه کړي کله بله موټروان له کیسټ نه وو انتخاب کړی چې ورور مې بیا تلیفون راته وکړ راته یې ووې که موټر ته ختلی نه وې د نوي کلي په موټرو کې راشه زمونږ کډې اوس زاړه کلي نه نوي ته وتلې هلته یو اوس. ماورته وویل زه اوس زاړه کلي ته نیږدې یم څنګه وکړم .ورور مې وویل خیر دی پروانه کوي زاړه کلي ته چې سرک ګرځیدلی په هغې باندې ترې کوز شه زه به موټر سایکل باندې درشم ماویل سمه ده ورور مې اړیکه پرې کړه زه سخت خفه شوم ځکه په کوم کلي کې چې مې مینه او سیده دهغې کلي نه زمونږ کډه تللې وه موټروان له همغسی په کیسټو کې اخته وو کیسټې یې خوښې نه شوې

راډیو یې چلان کړه د راډیو څاپې یې په

څاپو برابر کړې دراډیو نه هغه سندره راوانه وه چې87.5

په کومه ورځ چې تازمونږ دکلی کـوروړ دی

. په هغه ورځ رانه د مستو ټپو شور وړی دی

سندره مې خوښه هم شوه خو خفه یې هم زیات کړم خفه یې ځکه کړم چې زمونږ کډه د وړانګې دکلي نه تللې وه د وړانګې دیدن راته ګران ښکاریده په زاړه کلي کې چې وو هم زمونږ او دوړانګې کوره سره لرې وو . د


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګې کور د کلي په يو سر کې وو زمونږ کور د کلي په بل سر کې خو بيا هم د وړانګې ليدل راته سخت نه وو ځکه چې يو کلی وو اوس ويرېدم ما ويل هسې نه چې په ليدو کې راته کومه ستونزه پيدا شي.

زه لا په همدې فکرونو کې وم چې موټروان راباندې غږ وکړ وروره زه لا همدې ځايه پورې وم دا زمونږ وروستی ستاپ دی موټروان ته مې پيسې ورکړې زه د سرک په غاړه کښېناستم وړانګه مې ډېره سترګو سترګو ته کيده موبايل مې راواخيست او د وړانګې نمبر مې په کې ډايل کړ د لږ انتظار څخه وروسته اواز راغی کومه شميره چې تاسو ډايله کړې داوس لپاره لاس رسی نه ورته کيږي او يا له ساحې څخه بهر ده زړه مې له دې خبرې سره نور هم بې صبره شو.

ماويل راځه لومړی به د وړانګې ديدن وکړم بيا به کورته لاړشم ما له فيصله نه وه کړې چې د موټر سايکل اواز مې تر غوږ شو چې مخ مې واړاوه په ورور مې سترګې ولږېدې د لرې نه يې راته خندل ورور مې موټر سايکل د سړک په پورې غاړه ودراوو ماته يې لاس وخوځاوه چې د سړک نه راپورې شه ماهم په سړک کې دواړو خواوو ته سترګې واړولی چې په سړک کې به موټر نه وي بيا په سړک پورې وتم ورور رانه کلکه غېږه . تاوکړه له ستړي مشي او جوړتازه څخه وروسته دواړه د کور په لور روان شو

په لاره کې ما او ورور مې ډېرې خبرې وکړې کله چې کورته ورسېدو انګړ په لويه دروازه کې چې مور کوچنی خور او د کور نور غړي ولاړ وو کله چې له موټر سايکل ښکته شوم د مور مې صبر ونه شو له دروازې نه د باندې راووته کلک يې په سينه پورې ونيوم په مخ او تندي يې ښکل کړم له دروازې د ننه مې کوچنۍ خور ولاړه وه خور مې د خوشاله ورځې راباندې خوارېه پلي او داسې نور څه وشيندل د خور په سترګو کې مې د خوشالي ورځې ډنډ اوښکې ولاړې وې ما چې کوچنۍ خور او د کور نورو غړو سره ستړي مشي وکړه زه د کور په کتلو بوخت وم مور مې راباندې غږ کړ حميده زويه راځه کور به بيا پسې ګورې ډوډۍ او خوره وږی شوی به يې دادی ساعت1:30بجې ته نيږدې شوی رېښتيا چې زه سخت وږی شوی وم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د خپل کور ورڼو خویندو او د مور په لیدو رانه تنده اولوږه هیره شوه ما ووي موري دادی دراغلم خو مبارکي له همدې ځایه درکوم مور مې وویل زویه خوشاله شی خدای د عمر په کې اوږد کړه کله چې ډوډۍ تیاره شوه کوچنۍ خور مې چې چاینک چلمچي او لاس پاک یې په مټ اچولي وو راغله لاسونو ته یې اوبه رااچولې ډوډۍ ته کښېناستو لومړۍ زه یواځې وم خو وروسته زما په ټینګار مور کوچنۍ خور او ورور هم راسره کښېناستل ټولو یو ځای ډوډۍ وخوړه.
ماله ډېرې مودې وروسته په ارامه توګه په ارام زړه ډوډۍ وخوړه ما دخپل کور د ډوډۍ ډېر ارمان کړی وو زه په اتم ټولګي کې وم چې په پټه په ډک زړه او خفه له کوره وتلی وم
ما نن ورځ خپل ټول ورڼه همدا اشان
د بآندې مې میرانه ورونه هم ولیدل خو زما په خپلو ورونو کې یو رورکی وو هغه مې تر ماخوستنه پورې تر سترګو نه شو ما یې هم پوښتنه ونه کړه ما وویل یا به دې ماماګانو کره تللی وي یا به یې دکوم انډیوال کره شپه کړې وي.

یوولسم څپرکی
شپه تېره شوه سهار شو دسهار د چای څښلو څخه وروسته مې له ځانه سره کلک هوډ وکړ چې نن به خامخا وړانګه ګورم زړه مې صبر نه کاوه زړه مې ویل نن چې په هرڅومره قیمت کیږئ هم باید وړانګې دیدن رابآندې وکړې دمور ورور او همدا اشان زما په زړه کې بلا خبرې وې چې په خپلو کې مو سره شریکې کړې وې په لومړی شپه خو راته ورور او مور ټولې خبرې ونه شوې کړای ځکه چې زه ډېر ستړی وم ما چې د ماخوستن ډوډۍ وخوړه لمونځ مې وکړ او څملاستم ټوله شپه په ځان نه یم پوه شوی چې شپه څنګه تېره . شوه سهار چې راباخیدم د زړه زور راباندې بروو ویل یې چې نن باید خامخا د وړانګې دیدن وکړم سهار مو چای وڅښه اته یا اته نیمې بجې به وې چې د بآندې راووتم د وړنګې نمبر مې اوکې کړ له دریم زنګ څخه وروسته مبایل پورته شو دمبایل دپورته کیدو سره مې زړه لړزونکی غږ راغی سلام علیکم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثوک ما په بنده ژبه وویل و –آ– وعلیکم السلام وړانګې ګرانې زه– زه یم حمید وړانګې وویل جانه نمبر خو دې داخل د افغانستان دی څنګه راغلی خو بئه نه یې ما ورته وویل ولی نه وړانګې راغلی یم خو- خو غواړم چې نن ورځ له تاسره ووینم څنګه د خوښئ ده وړانګې وویل جانه زه– زه دې په ددین پسې ړندیږم او ته وایې چې څنګه د خوښئ ده.

ما بیا په بنده ژبه وویل زاهد او اغه- اغه بل ورور دې داسې ښه- ښه نوم یې دی رانه هیر شو اغه– اغه مشر ورور په کور کې بئه نه وي وړانګې د خپل مشر ورور نوم واخیست او ویې ویل چې فلانی یادوې ما وویل هو اغه شته که نشته وړانګې کټ ، کټ وخندل او ویې ویل جانه نه شته بېغمه راځه وړانګې نور څه هم ویل خو لکه چې مور یې پرې راغله په لنډو یې وویل جانه نورې خبرې به بیا وروسته کوو مور- مور مې راغله د خدای په امان کله یې چې اړیکه پرې کړه ما وویل که له اوږو مې غر کوز کړې یوه شیبئ له ځانه سره غلی کښېناستم ما ویل که مور یې لاړه شي ګوندې بیا تلیفون راته وکړي .

ثو دقیقې وروسته ته مې مبایل ته بیا زنګ راغی چې ومې کتل د وړانګې نمبر وو زما اټکل سم وو د اوکې تنې مې کیکاړله وړانګې د سلام نه وروسته په لنډو ، لنډو ټکو کې وویل جانه مور پسې ورور راغلی خپل کورته یې بیائي د ثو شپو لپاره پلار مې دا ثو ورځې کیږي چې کابل ته تللی په کورکې یوائې زاهد و مشر ورور مې پاتې دي هغوی هم چې سهار له کوره ووځي مابنام بیرته راځي زه به دې حجرې کوچنۍ دروازه درته خلاصه کړم حجرې ته راشه زه ستا انتظار کوم جانه زه مې اوس مورته جامې برابروم ستا . دلیدو په هیله د خدای په امان

وړانګې چې اړیکه پرې کړه ما ویل اوس چې مې وزرونه پیدا شوي وی په هوا مې هلته ځانه رسلوی وای په دې یوائې خدای او زه پوهیږم چې زما په زړه کې څه تیریږي یو ځلې مې فکر وکړ چې له ورور نه موټر سایکل واخله په موټر سایکل به لاړ شم که بیا مې وویل که په موټر سایکل لاړ شم کیدای شي هلته راته مزاحمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیدای شي چې خپل موټرسایکل راته غمازګر شي دموټر سایکل نه په پښو روغ یم داړه کلي لاره مې ونیوه پوره یو ساعت مزل بۀ مې کړی وي چې وړانګې کلي ته ورسېدم. ښائسته په زړه پورې هوا چلېده ټول وجود مې په ترنم کې وو بندونه مې سست سست کیدل او ځان مې دجنت په هوا کې لیده دحجرې دروازې ته چې نیږدې شوم دروازه مې غلی خلاصه کړه لکه غل په قراره مې سر حجرې ته دننه کړ لومړی مې ښې خوا ته نظر واچوه څوک نه تر سترګو کیدل، بیا مې کیڼې خوا ته سترګې واړولې، په وړانګه مې سترګې ولږیدې د ګلونو په منځ کې ولاړه وه ،کله یو ګل ته لاس ورتېر کړې غواړې چې له ډنډره یې راپرې کړې خو خوند ورنه کړي بیرته لاس راټول کړي د بل ګل په لور ورشي وړانګه د ګلونو یوه ګیډۍ جوړه کړي،

د حجرې په برنډې کیني او پښې لاندې وغزوې ما نور انتظار ونه شو کړای، د پښو څخه مې چپل لرې کړل قرار ، قرار چې د پښو اواز مې نه اوریدل کیده خواته ورغلم د برنډې په ستنه مې ځان پناه کړ وړانګه راپاڅیده د دروازې په لورې لاړه سر یې له دروازې څخه بهر کړ ایخوا دیخوا یې سترګې واړولې څوک یې ترسترګو نه شول بیرته را راوانه شوه پۀ بیرته راتلو کې یې دا لنډۍ له ځانه سره ویلې

.

جانه د ستا خاطر لپاره

تلي مې سوزي په غرمو ولاړه یـــــــــــــــمه

خدای دزما په شان مین کړه | چې ناسته پاسته دې له غمه سره وینه

مبارکي راکړۍ علمه | چې پرې مینه یم هغه کلي ته راځـــینه

وړانګه بیرته خپل ځای ته راغله کښېناسته له ځان سره یې څه ویل خوزه نه پرې پوهیدم نوره مې د صبر . کاسه ډکه شوه د براندې ستنې نه غلی راد ېخوا شوم اوس زه د وړانګې شاته ولاړ وم وړانګې د څنګ جیب ته لاس کړ مبایل یې راواخیست زما نمبر یې په کې ډایل کړ وړانګې چې مبایل غوږ ته ونیوه زما هم نور وار خطا شو ما ویل اوس خپل موبایل حال درپسې وایي ماهم زړه د زمري کړ په وړانګه مې سترګې پټې


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې د هغې لاس نه مبايل لاندې ځمکې ته ګوزار شو      د مبايل تخته په يوې لاړه او بيټري يې په بله
وړانګه ترډېره غلې وه زما نوم خوېي نه شو اخيستی ځکه ويرېده د خپلې خور سيمه نوم يې واخيست
دا سې نور څو نومونه يې واخيستل خو زه همغسې غلی وم کله مې چې سترګې ورخلاصې کړې زه يې
.وليدم بې اختياره يې له خولې ووتل لکه خوله چې دوړانګې په واک کې نه وي
آه – جانه ته ! له همدې ويلو سره يې ځان زما غيږې ته تسليم کړ تر ډېره يې سر زما په مټ را ايښی وو له
سترګې مشې او پوښتنې څخه وروسته يې وويل چې زه خودې دومره وويرولم چې د سر وينې مې پښو ته او
د پښو وينې مې سر ته لاړې. وړانګې وويل جانه ښه شوه چې را غلې زه ويردم ما ويل هسې نه چې رانشې
ما وويل ګرانې څنګه چې ستا په زړه کې يم همدا شان زما په زړه کې هم يې نو په همدې اساس يوه دقيقه هم
له ما څخه نه يې لرې شوې که څه هم په زړګې کې د بيلتون چنجې چيچلم بيا هم له خدايه راضي يم چې دا
دی بيا يې هم تاته راورسولم او ته مې مخ ته ولاړه يې وړانګې وويل جانه زړه مې ډېر خفه وو ښهٔ شوه چې
راغلی جانه ستا زړه خفه کوی هم نه شم خو بيا هم که پټه يې وساتم کيدای شي چې زما او ستا لپاره تاوان
. ولري
ما وويل ولې ګرانې زما او ستا په مينځ کې خو يوه خبره هم پټه نه ده وړانګې ګرانې ته بايد يوه خبره هم له
ما نه پټه نه کړې خبره څه ده وړانګې وويل جانه ته چې په پيښاور کې وې تليفون مې درته وکړ هلته مې نه
شول درته ويلی چې پلار مې په بن ورکوي ما ويل هسې نه په تاڅه ونه شي پلار مې نيت کړی چې ما د رحيم
ګل اکا ته ورکړي د رحيم ګل د نوم په اوريدو مې زړه پښو ته وښوئيده په بنده ، بنده ژبهٔ مې وويل وړانګې
ګرانې اغه - اغه دوه ودونه يې چې دي اغه رحيم ګل اکا يادوې وړانګې په سترګو کې اوښکې راغلی جانه
. همغه بدبخته يادوم دوه ودونه يې کړې خو ، خو خدای پرې يو لور او ځوی هم نه دی لورولی
دا څو اونۍ کيږي چې له پلار سره مې حجرې ته راځي خدای خبر چې پلار ته به يې د څومره پيسو د ورکړې
ويلي وي پلار مې د پيسو ډېر شوقي دی هغه ته پيسې ډېرې خوند ورکوي جانه ته مې ځکه مخکې خبر


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې چې يو ځل اوبه له ورخه تېرې شي بيا بيرته نه راګرځي، جانه بيا بۀ ته راته وايې چې زه به دې مخکې خبر کړې واى،

ما وويل وړانګې د پلار سره د مور اوورونه هم مني، وړانګې وويل جانه هغوى خو تر اوسه نه ده منلې خو پلار مې چې يو ځلې کومه خبره وکړې په هغې ډېر ټينګ ولاړ وي بيا يې نه بدلوي، جانه يو ځل بيا وايم چې د دنيا په مخ ټول انسانان زما ورونه دي يو به هم زما د خاوند په نوم ياد نشي بغير له تانه ،کله چې وړانګې خبرې پاى ته ورسولې زه په خيالونو او فکرونو ډېر زور تللى وم په هيڅ نه پوهېدم د وړانګې خبرو ډېر سربدله کړى وم د وړانګې هرې خبرې په زړه بيل بيل تاثير کاوه،

له سترګو مې مړې اوښکې راتوى شوې وړانګې ته مې وويل چې وړانګې ګرانې ته فکر مه کوه تر هغو چې ستا پلار بيرته له کابله راځي زه به يو څه وکړم وړانګې هم زما خبره وکړه جانه تر هغې چې مې پلار له کابله راځي ته بايد ډېر څه وکړې ما او وړانګې په خپلو کې ډېرې خبرې وکړې ما د راتلونکي خبرې لپاره لاړې ! تيرې کړې خو له مانه وړانګه مخکې شوه ويې ويل جانه

زه به نوره لاړه شم کورته هسې نه چې سيما يا کوم بل څوک راباندې راشي ماوويل سمه ده وړانګې ته مې رخصت ورکړ زه په ناهيلي قدمونو له حجرې راووتم دوړانګې د پلار خبرو چې وړانګې ماته وکړې بيخي .سربدله کړى وم د زاړه کلي نه ترنوي کلي پورې هيڅ په لاره نه يم پوه شوى چې ما څومره مزل وکړ

کورته چې ورسېدم مور مې راته وويل زويه رنګ دولې داسې زيړ اوښتى او دا دومره ورځ چيرته وې دا دومره ورځ دې چيرته تېره کړه؟ ما وويل مورې رنګ به مې هيسې زيړ وي ډېر وخت کيږئ چې په پښو مزل مې نه دى کړى ما دمور ديوې پوښتنې ځواب پريښود ورته مې ونه ويل چې مې ورځ چيرته تېره کړه مور مې بيا وويل زويه راته ودې نه ويې چې ورځ د چيرته تېره کړه چيرې تللى وې؟ ورته مې وويل مورې دزاهد . دوى کره تللى وم او ټوله ورځ مې هم هلته تېره کړه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور مې راته وويل څنګه زاهد ولیده کنه څنګه وو ،ماورته وويل نه مورې زاهد خو مې وه نه لیده خو.....
مور مې وويل خو څه، ما ددې لپاره چې مور مې رابانديې پوه نه شي په بنده بنده ژبۀ مې وويل مورې زاهد
چيرې تللې وه خو اغه ، اغه دزاهد دخور څه نوم دی ،خدايه رانه هیر شو داسې ښۀ نوم يې دی ودريږه.مور
مې خبره راپرې کړه راته يې وويل حميده زويه له تانه د زاهد دخور نوم هم هير شوی دی دزاهد خور وړانګه
نو میږې ماوويل او همدغه يادوم وړانګه له وړانګې سره مې ولیدل،
مور مې راته وويل ښۀ نو څه يې ويل زه دمور دې پوښتنې لږ ورخطا کړم ما ويل اوس څنګه ځواب ورکړم
چې وړانګې څه ويل. ما وويل هیڅ نه د خپلې ناروغۍ نه يې سر شکوو چې ډېره سخته ناروغي رابانديې
تیره شوه چې دلته مې چا علاج نه شو کوی بالاخره مجبور شول چې پيښور ته مې يوسي ما له مور نه خبره
بدله کړه په دروغو مې ورته وويل چې وړانګې ماته دخپلې ناروغۍ په اړه وويل مور مې هم خبره تائید کړه
راته يې وويل زويه ریښتیا ده وړانګه ډېره سخته ناروغه وه د ټول کور يې ورته زړه خفه وو هسې نه چې
ځوانه وړانګه رانه مرګی واخلي خو اوس د پخوا په پرتله ډېره ښۀ شوې ده ما او مور مې خبرې کولی چې
دماښام اذان وشو ما مې مورته وويل مورې زه به لمانځه لپاره لاړشم جوماته مور مې هم وويل سمه ده زويه
. لاړه شه خو چې څنګه لمونځ وکړې ژر بیرته راځه وخت ډېر خراب دی
زه جومات لاړم د لمانځه کولو څخه وروسته سمدستي کور ته راروان شوم ځکه زمونږ کله نوي راغلی وه
او بل زه له ټولو نه وروسته راغلی وم د چاسره بلد نه وم کورته چې راغلم درې واړه ورونه مې په انګړ کې یو
ځای ناست وو مشر ورور مې چې ولدیم زیات خوشاله شو ځکه هغه بله ورځ کورته نه وو راغلی راپاڅیدو
له ښه هرکلي او ستړي مشي نه وروسته رانه د درسونو په اړه پوښتنه وکړه ما هم ورته ټوله کیسه وکړه چې
څومره درس مې ویلی او څنګه مې خپلې زده کړې تر دې ځایه رارسولې مور مې کوچنۍ خور ته غږ وکړ
لورې وا لورې ډوډۍ تیاره ده لاسونه ته اوبه ورواچوه کوچنۍ خور مې چلمچي او بګنۍ (لوټه) په لاس
. راغله مونږ ته يې لاسونو ته اوبه راواچولې ډوډۍ راوړل شوه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ چې ډوډۍ وخوړه زه د درس د ويلو په پلمه د مور کوټې ته لاړم هلته په کټ اوږد وغزيدم تر ډيره په دې فکر کې وم چې له مور سره څنګه خبرې وکړم او د زاهد دوی کور ته يې په مرکه وليږم خو يوې خبرې ته مې زړګی ډېر خفه وو هغه دا چې ما وي که زه مې مور په مرکه وليږم که د زاهد دوی کورنۍ يې ونه مني او نه وو ايي ،ما هم خبره ونه ځنډوله دهماغې ورځې په سهار مې له مور سره خبره شريکه کړه مور مې زما مشر ورور سره خبره شريکه کړه وور مې هم پرته له کومې خبرې په خوښۍ سره ومنله مور مې وويل وړانګه هم ښه نجلۍ ده.

انشاء الله چې دوړانګې مو ربه نه راته و نه کړي خلور پنځه ورځې وروسته مې مور مشر ورور او کوچنۍ خور د زاهد دوی کورته په مرکه لاړل مازيګر څلور نيمې بجې به وې زه په انتظار وم چې کله به يې مور بيرته راځي هغوی به ورته څنګه ځواب ورکړی هو به يې ويلی وي که نه به يې ويلي وي ما په خپله له ځانه سوال هم وکړ او ځواب به مې هم په خپله ورکوو زه دمور په کوټه کې ناست وم چې د لوی دروازې اواز-مې ترغوږ شو له کتابه راپاڅيدم د کوټې له کړکي نه مې د لوی دورازې له لورې نظر واچاوه نه ګورم چې کوچنۍ خور او مور مې دواړه په دروازه رادننه شوې ورور مې ورسره نه وو زه په منډه له کوټې راووتم مور او کوچنۍ خور مخې ته مې ځان ورسوه ، مخکې له دې چې زه دوی

ته ستړې مشي ووايم ساه مې بنده ، بنده کېده له مور نه پوښتنه وکړه مورې اغوی- اغوی څه وويل نه خو به يې نه وي ويلي مور مې غلې وه ځواب يې رانه کړ ما بيا وويل مورې و مورې له ډېر انتظاره مې سترګې دې دروازې په لورې سپينې شوې اوس راته ته ، ته هم ځواب نه راکوې مورې ځواب راکړه کنه اغوی درته هو ويلی که نه يې وايلی مور مې خبره راپرېکړه حميده زويه ته خو لږ صبر وکړه کوټې ته د ورسيږم ارام د وکړم په ارام سره به ټوله کيسه درته وکړم ما ورته وويل مورې دومره خبرې د وکړې يو اځې آو او نه نه شې راته ويلی ښه دادی زه هم لاړم ته چې راته ا ، او نه جواب نه راکوې زه بۀ اوس په خپله هغې ته .....خبره مې بنده کړه.


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ويل هسې نه چې مور راباندې پوهه شي چې زوی مې له وړانګې سره په تليفون خبرې کوي هسې نه چې
په وړانګ کوم بل ډول ګمان وکړي مور مې وويل زويه نا يې نه دي ويلي خو.... مور مې نوره غلي شوه ويې
ويل راځه نوره خبره به کوټه کې درته وکړم زما زړه لړ ارام شو ماويل شکر نه خويې نه دي ويلي خو دا خو
. يې له بيا څه مور مې خبره ولی په خو باندې بس کړه
دوولسم څپرکی
مور مې خبره داسې پيل کړه حميده زويه کله چې مونږ هلته ورسېدو له ښه راغلاست او سترې مشي څخه
وروسته کله چې ما دوړانګې غوښتنه ستا لپاره وکړه لومړی خو دوړانګې مورهيڅ ځواب نه راکاوه خو لږ
وروسته د وړانګې مور او زاهد دواړه د باندې لاړل او زر بيرته راغلل زما په ګومان چې دوي په خپلو کې
کومه مشوره سره کوله د وړانګې مور رحمت بي بي وويل وبښی خورې چې تاسې خفه نه شی ما خو
وړاندې درته وويل چې حميد دخپل زوي زاهد غوندې راباندې ګران دی خو زه مې اوس لور نه شم درکولی
نه درته آ او نه درته هو ويلی شم زما زړه صبر ونه کړ مور ته په خبرو کې ورولويدم ورته مې وويل مورې تا
.پوښتنه ورنه ونه کړه چې علت يې څه دی
هو او نه ځواب ولی نه شې راکولی؟ مور مې وويل زويه ته خو لږ خبرې ته وار کوه همد ي خبرې ته زه راځم
ما وويل سمه ده مور مې وويل حميده زويه ما ورته وويل چې اوس ولی دهو او نه ځواب نه شې راکولی د
وړانګې مور رحمت بي بي وويل ځکه مونږ اوس د آ او نه ځواب نه شو درکولی ترڅو اغه دوړانګې پلار له
کابله راغلی نه وي کله چې دوړانګې پلار راغی مونږ به خبره سره شريکه کړو د هو او نه ځواب بۀ کورته
درولیږو مور يې وويل ما هم نوره ټينګار ورسره ونه کړ مور مې چې خبرې پای ته ورسولې ما هم د ارامی
.ساه واخيسته ومې ويل شکر خدايه که آ يې ورته نه دي ويلي
نو نه يې هم ورته نه دي ويلي ګوندې د زړه ارمان مې پوره شي ځکه دنيا په اميد خوړل کيږې شپې او ورځې
تيرېدې زما فکر به تر ډېره د وړانګې سره وو او هيڅ نه پوهيدم چې څه وکړم د مور راتګ څخه مې پوره يوه


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونۍ تیره شوه خو دوړانګې دکور نه د هو او نه ځواب رانه غی زما په فکر کې همیشه، په پرلپسې ډول
دوړانګې نوم ،د وړانګې خیال ،دوړانګې د مخ انځور نړدې والی او لرې والی ګرځې خدای شاهد دی چې
زه دوړانګې سره ځومره مینه لرم خو نه پوهیږم چې دغه مینه بۀ زما په نصیب شي کنه د وړانګې تصویر به
. مې همیش په زړګې پورې کلک نیولی وو
ځومره به چې زه د خپلې مینې دګرانې وړانګې دخپل ځان په فکر کې وم همدومره به راسره دپلوشې غم هم
وو په اونۍ کې بۀ مې دوه درې ځلې اړیکه ورسره نیوله دپلوشې عبدالله دعبدالله مور امنې ادې سره به مې
هم خبرې کولې خو ډیرې خبرې به مې له زاهد سره وې دپلوشې دواده په اړه نن مې بیا په موبایل کې
دپلوشې نمبر رواړوو او داوکې کولو څخه وروسته کله چې زنګ تېر شو له دویم زنګ له تیردو څخه
وروسته پلوشې تلیفون پورته کړ پلوشه زیاته خوشاله معلومیده ساه یې ډوبه ، ډوبه کیده ما ترې وپوښتل
پلوشې څنګه د ساه داسې ډوبه ، ډوبه کیږې پلوشې په بنده بنده ژبه وویل حمیده وروره اغه ، اغه ده ، زه
، زه خپل مطلب ته ورسېدم ما خپله مینه ترلاسه کړه دا ، دا ټول ستا برکت که ته نه وی خدای خبر چې زه
. بریالۍ کیدم
ما او پلوشې ډیرې خبرې وکړې اړیکه مې ورسره پرې کړه څنګه چې ما اړیکه پریکړه هغه لنډۍ خولې ته
.راغله چې
نصیبه وسوزې یره شې
تندیه مات شې په تایې څه لیکلې دینه .
پلوشه څنګه زر خپلې مینې ته ورسېده زما څنګه نصیب دی زما په تندې یې څه لیکلې دې زه یو ځلې بیا
فکرونو په مخ کړم له خپله ځانه مې پوښتنې شروع کړې وې هغوی تراوسه نه د هو او نه دې نه ځواب راکړ
علت یې څه دی؟ ایا دوې نه غواړې چې وړانګه دې زما په نوم یاده شې ؟ایا دوې نه غواړې چې زما اود
وړانګې د زړه ارمان پوره شې؟ ایا د دوو زړونو پیوند بد کار دی؟ زه تر ډیره په همدې کش مکش کې وم په


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيڅ نه پوهيدم چې اخير څه وکړم زړه مې نور انتظار نه شو کولی او وړانګې نمبر مې په مبايل کې راواړه اوکې مې کړ، د مبايل د ځواب په انتظاروم

الو ! الو ! وړانګې غږ ډېر خوږ راباندې ولږيده هغې وويل سلام عليکم ! ما وويل وعليکم السلام هغې څه ويل خو خبره مې ترې ونيوه ورته مې وويل دا ولې ؟ ولې د مور داسې وکړل ؟اغې، اغې خو هيڅ ځواب راونه ليږه پلار دې نه دی راغلی که ولې ځواب نه راليږې؟ وړانګې ووې جانه زه څه وکړم زه نه پوهيږم چې هغوی ولې داسې کوي پلار خو مې د همغې ورځې په سبا راغی ،ما وويل مور او ورور د خبره ورسره شريکه کړه کنه؟ وړانګې وويل جانه مو راو زاهد خو خبره ورسره شريکه کړه خو، خو پلار مې هيڅ ځواب ورنه کړ نه پوهيږم چې پلار مې ولی داسې کوي. وړانګه تر ډېره غلې وه ما وويل ګوره وړانګې په يو اځې ځان څه نه کيږي ته هم لږ څه وکړه چې داځل مور درولېږم چې نا ونه وايې وړانګې وويل جانه ته خو پوهيږې چې په پښتنو کې جينۍ دا ډول کار نه شي کولی زه به څه وکړم زه خو هيڅ نه شم کولی ما وويل ګرانې وړانګې په ما کې څه غلطي ده اغوی ولې داسې کوي ؟اغوی ، اغوی ځواب ولې نه راکوي ؟ګوره وړانګې زما واده بغير له تانه د بل چاسره ګران دی زه له تاسره مينه لرم زه دومره مينه درسره لرم چې د خپلې مينې او ستا ستاينې الفاظ نه لرم زه ، زه...... خو وړانګې خبره راپرې کړه جانه ته مه ورخطا کيږه .هرڅه به سم شي ما وويل وړانګې ما ، ما څه ورخطايي کړې

ای ! هی جانه نه پوهيږم چې ته ولې داسې غږيږې ما لومړی ځل درته ويلي چې ستا نه بغير په دنيا کې زما د خاوند په نوم هيڅوک ياد نه شي پوه شوې کنه ما وويل وړانګې ګرانې هغه به هم ښايسته ورځ وي چې ستا د سمال يې راوړی وي دې خبرې سره وړانګه غلې موسکۍ شوه څه يې ونه ويل پښتنې حيا اجازه ورنه کړه .چې څه يې ويلي وای ما بيا وويل وړانګې زه ، زه غواړم چې مور مې بيا په مرکه درولېږم

ستا څنګه خوښه ده وړانګه يو څو شيبې له حيا غلې وه بيا يې وويل جانه زه ، زه به په دې کې څه ووايم .ته دې خپل زړه ته ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل زما خو دا سې خوښه ده چې يو ځل بيا مرکه درليږم ځکه پښتنانه ټول داسې دي چې په لومړي ځل چاته خور لور نه ورکوي.
خوګوره که دا ځل هم ونه شي زه به ليونی شم زما زړه به پړک وچوي، د وړانګې زړه خفه شو هيڅ يې ونه ويل يو اوږد اسويلی يې وکړ ما وويل ګرانې بخښنه غواړم خفه مې کړې خفګان مې درورساوه وړانګې وويل . چپ، چپ جانه داڅه وايې ته له مانه بخښنه غواړې
دا خو هيڅ خبره نه ده
.ما وويل څه خيردی هر څه به خدای اسانه کړي
وړانګې وويل جانه زه ، زه له تاسره مينه لرم ما هم وويل وړانګې زه هم له تاسره مينه لرم
ما به چې هرڅومره زياتې خبرې له وړانګې سره کولې هغومره مينه به مې له وړانګې سره زياتيده زړه مې نه غوښتل چې يوه شيبه هم ترې لرې شي. ما چې کله اړيکه پرې کړه سيده لاړم د مور کوټې ته مور ته مې بيا د وړانګې د غوښتلو وويل مور مې هم راسره وومنله هيڅ يې ونه ويل يوازې دومره يې وويل چې نه پوهيږم .چې دوړانګې پلار نه دی راغلی که هغوی ځواب ولی راونه ليږه
په مور باندې زه سخت ګران وم زما هيڅ خبره يې ځمکې ته نه غورځوله هره خبره به چې ما وکړه مور به راسره منله تراوسه يې نه نه دي راته ويلي خدای دزما مور ته اوږد عمر ورکړي ما باندې شپې او ورځې ډېرې په سختۍ سره تيريدې نور مې انتظار نه وو نه بله مور ته يې يو ځل بيا وويل مورې څنګه په مرکه نه ځې مور مې وويل زويه ځم زما هم له ياده نه يې وتلی د هغې ورځې په سهار مې مور ځان تيار کړ چې په مرکه لاړه شي خو په کورکې مې نور ورونه نه وو هغوی ټول سهار وختي له کوره وتلي وو ما ددې لپاره چې مور مې پاتې نه شي ماورته وويل مورې دپاخه سرک پورې به زه درسره لاړ شم له هغې وروسته خو په خپله . هم تلی شي مور مې هم خبره راسره ومنله زه مخکې شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنۍ خور او مور مې راپسې شاته رواني وې کله چې پاخه سړک ته ورسېدو مور او کوچنۍ خور مې د وړانګې کورته رواني شوې      زه بیرته راستون شوم په لاره چې تلم کله کله به پښه نیولی شوم ماویل راځه . تر هغې همدلته کښېنه ترڅو چې مور او کوچنۍ خور بیرته راغلې نه وي
کله به روان شوم کله به ودریدم په ارام سره کور ته راورسېدم زمونږ په کور کې د توت یوه لویه ونه وه د توت ونې لاندې مې کټ واچوه د مور او کوچنۍ خور راتلو په انتظار کښېناستم زه د مور او کوچنۍ خور په انتظار وم چې اوس په څه ډول خبر راوړي چې یو کارغه راغی د توت ونې په سر کې کښېناسته په کاغ کاغ یې شروع وکړه زه چې کوچنۍ وم د زړو ښځو نه مې اوریدلي وو چې کارغه د بدو زیرۍ راوړي خدای خبر چې هرڅه ډول وي خو ماا وریدلي ول ښه راباندې ونه لګیده پاڅیدم تیږه مې واخیسته ګوزار مې پرې وکړ د توت ونې څخه والوت په دیواله کښېناستو زه بیا پاڅیدم له دیواله نه مې هم پسې واخیست پنځه شپږ دقیقې نه وې تیرې چې بیرته بیا راغی ډیر نل سترګی و زه سترړی او مجبور شوم چې انګړ پریږدم او کوټې ته لاړ شم ترڅو د کارغه مردار غږ وانه ورم په کټ کې اوږد وغزیدم هیڅ مې فکرنه بدلیده د وړانګې .تصویر مې رواخیست یو دوه ځلې مې ټینګ په زړه پورې ونیوه بیا مې رالرې کړ
سترګو ته مې مخامخ ونیوه دوړانګې له تصویر سره مې خبرې شروع کړې اوله خدایه مې دا سوال کاوه چې اې خدایه ما او دغه وړانګه چې مایې اوس تصویر مخ ته نیولی له یو بل څخه مه بیلوه خدایه که بې ځایه خبره نه وي زما او دوړانګې روحونه سره جوخت کړه خدایه ستا په اشاره تل پاتې کیدای شي خدایه موږ مه بیلوه ، خدایه مونږ دواړه یو ځای ولره مالا دعا  پای ته نه وه رسولې چې مور مې کوټې ته را دننه شوه ورته مې وویل مورې سترړې مشې په خیر راغلې مور مې وویل زویه خیر یو سې مور مې داخل لږه پریشانه معلومیده  سترړې هم زیاته وه څه مې ورته ونه ویل د مور چې ښه د مه جوړه شوه ترې و مې پوښتل مورې خوشاله راغلې یې که خفه مور مې غلې شوه څه یې نه وویل زه یوه شوم چې نا یې ویلي خو بیا مې هم مور ته وویل، مورې و مورې ، مور مې چې خوله یې خبرو کولو ته جوړه کړه څه یې نه شو ویلی ما وویل مورې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ده خبرې ولې نه کوې راته ووايه چې څه يې ويلي مور مې وويل زويه نوره جينۍ هم ډېرې دي داسې ښايسته جينۍ به درته وکړم چې وړانګه به دې هېره شي ما وويل مورې هيله کوم .

چې د وړانګې په اړه څه مه وايه د وړانګې سره څوک په ښايست کې کې نه شي سميدی دوړانګې نه بغير زه يوې نجلۍ سره هم واده ته تيار نه يم ماته خبره وکړه چې هغوی څه ويلي مور مې وويل زويه دوړانګې ورونو دوړانګې مور خوښه وه خو چې کله يې خبره پلار ته ورسېده هلته د دوی په مخ کې خو يې څه راته ونه ويل دهغوی نه يې ګوښې کړم راته يې وويل وړانګه پسې نن راغلي يی بيا چې راشې په لاس دې نيسم په کومه چې راغلې يې په هغې به ځې پوه شوې اغه مې رحيم ګل اکاته ورکړې پوه شوې که نه خوګوره چې دا خبره دې دخولې بهر نه شي ،

چې وړانګه يې رحيم ګل ته ورکړې دا معامله ما او رحيم ګل په پټه کړې هيڅوک پرې خبر نه دي پلار يې دومره ظالم انسان دی چې د پيسو په مقابل کې يې څوارلس کلنه لور وړانګه رحيم ګل اکا ته چې دوه ودونه لري هم ، خو خدای يوزوی هم نه دي پرې لور ولی هغې ته يې ورکړې خدايه داسې پلار چاته مه ور کوې،

ما وويل مورې دا ، دا ، ته څه وايې ، وړانګه زما ده وړانګه بغير له مانه د بل چانه شي کيدای وړانګه زما ده زه همداوس ځم چې وړانګه خبره کړم مور چې راپسې نارې کړې حميده زويه اې ، اې حميده زويه له ځانه ليونی مه جوړوه نوره نجونې خو څه کمې نه دي ولې له ځانه ليونی جوړه وې خو ما د مور خبرو ته غوږ کينښود دباندې راووتم وړانګې ته مې تليفون وکړ وړانګې سرله واره وويل جانه بخښنه غواړم پلار مې ډير ظالم دی پوهيږم چې بيا به يې ورته نا ويلي وي خو جانه زما ژمنه ژمنه ده زه په خپله ژمنه ولاړه يم ما وويل وړانګې ، وړانګې ګرانې غلطي ستا نه ده زه پوهيږم چې ته،ته په خپله ژمنه ولاړه يې خو ، خو اغه ، اغه پلار دې ژمنې پوره کولو ته نه پريږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار دې مخکې له دې چې ته یا ستا کورنۍ خبره شي ته یې په پټه هماغههه، هماغه لعنتي ته ورکړې یې
وړانګه په ژړا شوه تر ډېره یې وړې وړې سلګۍ کولې ما ورته ډاډ ګېرنه ورکړه چې زه هم زاهد ته تلیفون
کوم ورته وایم چې زه له وړانګې سره مینه لرم د وړانګې نه بغیر ژوند نه شم کولی ته هم ورته وایه چې زه هم
د حمیده سره مینه لرم کیدای شي چې زاهد ما او تا سره مرسته وکړي وړانګې وویل دا څنګه کیدای شي
. چې په دې کار کې زاهد زما سره مرسته وکړي

ما ورته ووې وړانګې کوم کار چې ستا پلار او رحیم ګل کړی په دې باندې هیڅوک خبر نه دي که خبر هم وي
په دې باندې څوک باور نه کوي وړانګې راسره ومنله ما چې له وړانګې نه اړیکه پرې کړه سمدستي مې
زاهد ته تلیفون وکړ زاهد وار له واره وویل سلام بچو د چا حال احوال هم نه اخلې ما په قراره وویل زاهده له
دې خبرو به تېر شو اوس مې تلیفون دیو سوال لپاره کړی هیله کوم چې اول د خدای په دربار او بیا ستا په
.در منظور شي

زاهد وویل حمیده دا څه ډول خبرې کوې ما وویل زاهده خبرې به لږې ترخې وي ستا لپاره خو دا خبرې د
وړانګې او زما ژوند ژغورلی شي زاهد وویل ستا په مطلب پوه نه شوم ما وویل زاهده زه ، زه غواړم چې
دوړانګې سره واده، واده وکړم پلار ظالم دې وړانګه رحیم ګل اکا ته ورکړې خو نور څوک پرې خبر نه دي ته
کولی شې چې له ما سره مرسته وکړې

زاهد وویل زه له تا سره هیڅ مرسته نه شم کولی تا ته د هغې مړه کیدل او ژوندي پاتې کیدل هیڅ مهم نه دي
پوه شوې کنه زما زړه راډک شو ومې ویل کاشکې چې همدا سې وای چې دوړانګې ژوند او مرګ ما ته مهم
نه وی خو ، خو اوس ما او وړانګه له دې بلا نه خلاص کړه زاهده هیله کوم زاهد وویل ته څه خبر یې چې
. وړانګه له تا سره مینه کوي د کومې خوا غریبې

ما وویل زه ، زه پوهېږمه زاهده وړانګه ، وړانګه هم همدا غواړي ته، ته له هغې نه هم پوښتنه کولی شې
زاهد یو دم غلی شو په ارامه یې وویل ته چې دومره کلک یې زه به د هغې نه پوښتنه وکړم که رېښتیا دا سې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه زه کوم مخالفت نه لرم ماوویل زاهده ډېره مننه خیر یوسې دخدای په امان زاهدهم وویل دخدای په امان ما یو ځل بیا وړانګې ته تلیفون وکړ او ددې خبر زیرې مې پرې وکړ اوس زه تر ډېره په دې فکر کې وم چې زه به د ورونو سره خبره څرنګه شریکه کړم پوره یوه اونۍ تېره شوه خو زاهد له خوا کوم خبر رانه غی زړه مې ډېر بې صبره و ورونو راته وویل ته لږ صبر وکړه چې د زاهد دوي کورنۍ نه څه ډول خبر راځي بیا مونږ پوه شه او کار مو ته ترې خلاص یې.

خو ما بیا هم د ورونو خبره ونه منله وړانګې ته مې تلیفون وکړ او هغې ته مې دلیدو وویل چې نن شپه باید ما او تا خامخا سره ووینو وړانګې ووي سمه ده په داسې وخت کې راشه چې د کورنۍ ټول غړي مو ویده وي لږ ناوخت راشه دماښام اذان چې وشو مور ته مې وویل مورې زړه مې خفه دی غواړم چې نن شپه دماماګانو کره یوسم مور مې وویل زویه اوس ناوخته دی لارې هم خرابې دي اوس څه غواړې سبا ته به لاړ شې ماوویل نه مورې په زړه مې بوج بیخي زیات دی ګوندې هلته لږ کم شي مور مې وویل ښه لاړ شه خو د ورور نه دې موټر سایکل واخله په هغې لاړ شه لږ به زر ورسیږې.

ما وویل نه مورې همداسې په پښو ځم پام به مې هم غلط شي مور مې په نه زړه راسره ومنله او روان شوم هلته چې ورسېدم ډېر په ویریدلو قدمونو حجرې ته دننه شوم ښه و بخت مې بیدار و په حجره کې هیڅوک نه وو په برنډه کې کښېناستم زه ډېر ویریدم ما ویل هسې نه چې زاهد دګاونډیانو حجرې ته تللی وي دهغې خوا راباندې رانه شي. دڅو دقیقو انتظار څخه وروسته وړانګه راغله په لومړي ځل یې چې په ماسترګې ولږېدې لړه پښه نیولي شوه ځکه توره شپه وه څه سم نه ښکاریدل ماغلی ورغږ کړ وړانګې زه یم راځه ماتر ډېره وړانګې ته او وړانګې ماته کتل ما په ټوکو وویل ای بې وفا زه لا تراوسه ستا په یادونو کې خپلې ورځې شپې او شپې ورځې کوم لاتراوسه مې ستا ښکلی انځور چې ترابده به مې دزړه په سپینه پاڼه انځوردي نه دی پاک کړی.


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګې ژوره ساه واخیسته او ویې ویل ستا هره خبره په مه ښه لږي زه خوستا په خبرو نه مړیږم ته چې څه وایې وایه یې زه په خپله ځو که باندې پیښمان شوم وړانګه مې په زړه پورې ټینګه ونیوه وړانګې وویل جانه په ما دځانه زیات باور ولره د ژوند هیڅ ډول ستونزې به ماله تانه بیله نه کړې ، وړانګې په غیږ کې دومره مینه دومره وفا او دومره صداقت و چې زه یې په خپله کړې خبره پښمان کړم چې مادې له هغې سره دا ډول ځو که نه وای کړې ما ددې لپاره چې دوړانګې خفګان لرې کړم ما وویل وړانګې ګرانې تا دزاهد سره خبره شریکه کړه که نه ،

هغې ووې ولې نه ما چې هغې ته خبره وکړه په لومړیو کې خو غلی و وروسته یې راته ووې خورې ته مه خفه کیږه زه ستا ترڅنګ ولاړیم وړانګې بیا وویل مور مشر ورور او زاهدزما په طرف ولاړ دي پلار مې ګوښې دی ما وویل وړانګې که خدای کول زه او ته کامیاب یو ماوړانګې ته ووې نوره څه کور ته لاړه شه شپه سبا کیدو ته په نیږدې کیدو ده وړانګې د رخصت لپاره لاس راوږد کړ ماتر ډېره د وړانګې لاس په لاس کې نیولی و چې زاهد راباندې راغی زه او وړانګه دواړه سخت وویریدو او وړانګې په مخ کې خو وینه نه وه رنګ یې تک زیړ واوښت خو چې کله زاهد سترې مشې راکړه راته ویې ویل ویریږی مه ما ستاسو ټولې خبرې واوریدې بیا وړانګه چې څنګه له کوره راووته زما ورته پام شو زه پسې راووتم ما وویل چې راځه ته اوګوره چې وړانګه څه کوي او چیرې ځي د وړانګې رنګ نور هم زیړ شو ستونې یې وچ و هیڅ یې نه شول ویلی.

.زاهد وویل چې پلار ته مې چې هر څومره وویل هغه ونه منله پلار مې په خپله خبره ټینګ ولاړ دی

زاهد وویل حمیده زه یو تصمیم لرم چې زه به یې له تا سره شریک کړم ته به یې په کور کې ورونو ته ووایې چې ستا ورونه څه وایي دغه تصمیم ما ، مشر ورور او مور مې نیولی مونږ دا تصمیم لرو چې ته او وړانګه دواړه کوم بل ولایت ته دیو څه وخت لپاره لاړ شی هر کله چې خبره حل شي بیا به بیرته راشی ته به دا خبره ورونو ته وکړې که درسره وه یې منله ما ته به تلیفون وکړې جامې او داسې نور ضروري سامان به درسره


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخلی او سرک ته به ځان راورسوي ما اوورانګي چې دا خبرې واوريدې مونږ هيڅ دا باور نه کاوه چې دا خبرې به زاهدکوي د زاهد نه يې په سترګو سترګو کې مننه وکړه په بيړه د کور په لور روان شوم دا چې لږه تياره وه او بل خدای خبر زه به په کومو فکرونو کې روان وم چې د اوبو ډنډ ته مې پښه وروښوييده او ډنډ ته وغورځيدم ترنيمايي نامه پورې اوبه راغله ډنډ په تل کې ډېرې سريښناکې خټې وې په ډېره سختۍ له .اوبو څخه راپورته شوم يوبوټ مې هم په اوبو کې پاتې شو

کله چې راروان شوم دا سې معلوميدم لکه ګوډ چې په لاره راروان وي ځکه يوه پښه کې مې بوټ و اوپه بله کې نه و رېښتيا ده چې يو بوټ دې پښو وي او بل نه سړی دا سې معلوميږي. لکه ګوډ چې په لاره روان وي ما هم په بيړه د بوټ مزی خلاص کړ هغه بل بوټ مې همغلته پريښود تورې پښې د کور په لور راروان شوم د سهار اذان نه مخکې کورته ورسېدم دروازه مې چې وليده بنده وه په بيړه مې دوه درې ځلې ووهله د لږ ځنډ څخه وروسته مې مور دروازه بيرته کړه مور مې دومره په بيړه راغلې وه چې د ټکري يوه پيڅه يې په سر وه او بله په ځمکه ښوئيده مور چې زه تورې ( ييلي )پښې په اوبو لوند خيشت او په خټو ککړ وليدم نارې يې کړې زويه دا چا داولې ، ولې تورې پښې راغلې ولې، جامې لندې خيشتې او له خټو ککړې دي زويه کوم ځای به دې خوږ نه وي؟ د دوي لاسونه مات کړې مور ماته د خبرو وار نه

راکوو ما وويل مورې وموري نه خو ماته هم غوږ کيده زه روغ اوجوړيم او يو ډنډ کې ولويدم مور مې وويل نه نه دا په ډنډ کې نه يې لويدلی خامخا چا درته څه ويلي دي د اوبو په ډنډ کې چې لويدلی يې بوټان دڅه کړل مور مې چې کله ښه ارامه شوه ما ورته ټوله کيسه وکړه ورته مې وويل چې ورونه مې لمانځه ته پاڅيدلي که نه مور مې ووې پاڅيدلي په کوټه کې دي ته راځه اول جامې بدلې کړه بيا به له هغوی سره ووينې ما هم دا ښه وبلله جامې مې بدلې کړې دمور کوټې ته راغلم ورونو چې زه وليدم راته يې وويل ته خو ماماګانو کره نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تللی ما وویل تللی وم ورونو مې وویل نو بیا څنګه دومره وختي راغللې ماورته ټوله خبره وکړه چې زاهد د زاهد مور همداشان د زاهد مشر ورور په دې خبره سلا شوي چې ته او وړانګه دیو څه وخت لپاره بل ولایت ته لاړ شی مونږ بهٔ دلته خبره حل کړو بیا به راځی ورونو مې چې دا خبره واوریده زیاته یې خوښه شوه مشر ورور مې لږ غلی شو زما خوښهٔ ده خو په یو شرط ما وویل هغه کوم شرط دی وروره هغه وویل هغه دا چې که وړانګې ورونه یو لیکلی خط مونږ ته راکړي چې په هغې کې ستا ، دوړانګې، د زاهد ،د زاهد دمشر ورور امضاء یا ګوتې لګیدلې وي ما وویل وروره اوس په دې څه کوې ورور مې ویل حمیده ته لا وړوکی یې دومره خبرو باندې نه پوهیږې هسې نه چې وروسته بیا کومه لانجه راته جوړه کړي ما هم ورسره ومنله زاهد ته مې تلیفون وکړ او د ورور شرط مې ورته وړاندې کړ زاهد نه او نو ونه کړ راته یې وویل تاسو چې راځی ما به هرڅه لیکلي وي زما امضاء ، د ورور امضاء همداشان دمور ګوته به پرې لګیدلي وي صرف چې تاسو راشی امضاء په کې وکړی او لیکلی خط درسره واخلی مور مې جامې راته تیارې کړې یو ښه غټ بکس یې راته برابر کړ یو څو پیسې یې راکړې زه چې روان شوم تر دروازې پورې مور هم راسره راغله مور چې رخصت راکوو لومړی یې په دواړه مخه ښکل کړم بیا یې رخصت راکړ دمور په سترګو کې مې ډنډ اوښکې ولاړې وې لاسونه یې هواته پورته کړي وو شونډې یې رپیدلې او دعا یې کوله درې واړه په موټر کې سپاره شوو دزاړه کلي په لورې روان شوو کله چې سرک ته ورسېدو زمونږ څخه دمخه زاهد ، دزاهد مشر ورور او وړانګه په انتظار ناست وو.

مونږ چې څنګه له موټره ښکته شوو سترې مشې څخه وروسته زاهد سمد ستي لیکلی خط زما ورور ته ورکړ لومړی یې له ځان سره ولوست بیا یې خپله امضاء زما امضا هم په کې وکړه او جیب کې یې کیښود زاهد ،د هغه مشر ورور او مور ګوتې پرې لږیدلي وې زاهد ووې نور دلته ستاسو معطل کیدل ښهٔ کار نه دی مونږه وړانګه د کورنه دناروغۍ په پلمه رایستلې هسې نه چې پلار پرې خبر نشي ما او وړانګې د زاهد نه په سترګو کې مننه وکړه د وړانګې په سترګو کې اوښکې ډنډ ولاړې وې ما چې زاهد ،د زاهد مشر ورور


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا شان خپلو ورونو ته وکتل د دوي سترګو کې هم اوښکې ښکاريدې ده هم مخکې له مخکې د موټر غم خوړلی و مونږ موټر کې سپاره شوو له دعا ويلو نه وروسته مونږ حرکت وکړ دوي تر ډېره همغلته ولاړ وو.

دیارلسم څپرکی

مونږ چې ګرديز ته ورسېدو د ډوډۍ لپاره له موټره راښکته شوو ډوډۍ مو وخوړه له ځان سره مولږه ميوه او نور سامان راو خيستل مونږ اوس د تنګي وردګو په لور روان شوو د تنګي وردګو نه چې لږ تېر شي هلته مې د دوست کور و ما ويل هلته به څو شپې وکړو له هغې وروسته به د ځان لپاره يو کور په کرايه ونيسو.
زه او وړانګه په خپلو کې په خبرو بوخت وو کله کله به مو د شيشې څخه د باندې نظر واچوو وړانګې به کله يو شي ته اشاره وکړه کله بل ته هغه شی ګوره څومره ښکلی دی دا سيمه څومره ښکې ده کله به يې په هوا کې مرغانو ته پام شو کله په ونو کې ناستو مرغانو ته دا ځل يې د يولوړ نښتر په سر کې دوو مرغانو ته پام شو وړانګې وويل جانه اې جانه هغه د لوړې ونې په سر کې څومره ښکلي مرغان ناست دي.
په اغه د ښخوا منډه(څانګه) باندې دوه مرغان په خپلو کې يو او بل ته په خوله کې خواړه ورکوي وه دې ليدل ما مرغان ښه ليدلي وو خو وړانګې ته مې وويل نه ګرانې له مانه خو فناه دي زه په موټر کې ښې خواته ناست وم وړانګه ګڅې خواته وړانګې خپل ښی لاس زما په مټ کيښود راته يې وويل ته دمخ را ديخوا کړه هغه وينې د اولې ونې نه د ښخوا ما وويل اوو ، دا دی ا وس مې وليدل وړانګې وويل کاشکې جانه چې زه او ته.... سترګې يې چې پورته کړې په موټروان يې سترګې ولګيدې غلي شوه خبرې يې د پښتينې حيا له وجې نيمګړې پريښودې مونږ نوره وردګو ته نيږدې وو چې په لاره کې راته امريکايي ځواکونه مخکې شول امريکايانو پښه نيولی مزل کاوه کله چې تنګي وردګو ته نږدې شوو په لاره کې امريکايي ځواکونو ته طالبانو کمين نيولی و.


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکیانو او طالبانو ترمنځ سخته جګړه ونښته په موټرو کې ناستو ښځو او ماشومانو ژړا پیل کړه ,کله راکټ کله د هوان مرمۍ او کله وړې مرمۍ راځي زمونږ سره خوا کې لرې زمونږ لږ مخکې امریکایانو په غټې موټر باندې درې ځلور د هوان او راکټ مرمۍ ولږیدې ددی موټر په لږیدو سره د امریکیانو وار پار خطا شو کوم موټر چې ولګیدو ددی موټر نه مخکې د امریکیانو زغروال موټر ولاړو په هغې کې چې کوم پوځیان وو هغې د سپرلۍ په موټر وارونه وکړل درې ځلور موټریې وویشتل جنګ لږ ارام شو زمونږ موټروان غوښتل چې ځان یوې څنډې ته کړي له هغې خوا پرې زربه وشوه موټروان یې په لومړي زربې سره ختم کړ یو ځل بیا ډزې پیل شوې په دواړو غوږونو هیڅ نه اوریدل کیدل چې یو ناڅاپه مې غږ ترغوږ شو اخ .، اخ جانه ولږیدم دی غږ راباندې زړه اري اري کړ

وړانګه مې په غیږ کې راړنګه شوه ما چې وړانګې ته وکتل یو ګوزار ټټر ته لګیدلی وه وړانګه هیڅ نه ښوریده پرې ناري مې کړې وړانګې وه وړانګې ما ، ما چاته پریږدې وړانګې ای ، ای وړانګې سترګې وغړوه وړانګې یو زګیروی وکړ او ویې ویل جانه، با ، بخښنه غواړم ته له ما ا،ا ، ماسره دومره په تکلیف شوې،وی جانه ،وړانګه به دومره خوږو کې هم زما په غم کې وه جنګ پوره ۳ ساعته دوام وکړ جنګ قرار شو د امریکیانو لپاره چینوک الوتکې راغلی خپل مړي او زخمیان یې په کې واچول او د عامو خلکو لپاره دملي اوردو امبولانسونه راغلل ټول شهیدان او زخمیان یې تر روغتون ورسول.

وړانګه یې د عملیاتو خونې ته ننویستله ډاکټر ته مې ووې ډاکټر صاحب هرڅومره پیسې دې چې په کار وې زه یې درکوم خو چې هغه ژوندۍ پاتې شي ډاکټر وویل ځوانه مرګ او ژوند زما په لاس کې نه دی هغه دا لله په لاس کې دي زه به خپله خواري وکړم نجلۍ دې څه ده؟ ډاکټر ته مې سپینه خبره وکړه ډاکټر سروخوزاوه او د عملیاتو خونې ته د ننه شو ماته ځمکې ځای نه راکوو کله به د کلینیک یو سرته لاړم کله بل ته کله بۀ مې غوږو نه د عملیات خانې په دوارزه پورې ټینګ و نیول هیڅ مې زړه صبر نه کاوه د عملیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاني د دروازې مخې ته په دواړو پښو کښېناستم سرمې د زنګانو په منځ کې کېښود څومره مې چې ژړلې
شول هغومره مې وژړل.
ډاکټر دروازه پرانیسته راته یې وویل ځوانه ژاړه مه په ژاړه څه نه کیږي د ملګرې د وینه کمه ده ماورته
ده زما هم ډاکټر وویل ډېره ښه ده راځه کله چې عملیات O+ وویل زما وینه ورسره برابره ده دهغې هم
خاني ته ددننه شوم نیږدې وه چې له خولې مې چغې وتلې وای خو ځان مې سره کلک کړ ډاکټر وینه رانه
واخیسته زه یې بیا د باندې راوویستم د لږ ځنډ څخه وروسته ډاکټر راووتو په سترګو کې یې اوښکې وې
لومړی خو یې څه نه ویل.
خو چې کله ماورته وویل ډاکټر صاحب دخدای په خاطر ولی غلی یې ولی څه نه وایې په هغې خو به څه نوي
شوي ډاکټر صاحب، ډاکټر صاحب هیله کوم ډاکټر وویل ځوانه ما ډېره خواري وکړه خو، خو مینه دې
شهیده شوه ! هغې دوه ځلې نارې کړې چې جانه ! وه جانه ! راشه چې وروستی دیدن خو دې وکړم او روستۍ
چیغې سره یې غږ په ستوني کې بند شو کله مې چې ولیده ساه یې ورکړې وه ډاکټر مې له مخې لرې کړ په
عملیات خانې مې ورمنډه کړه نارې مې کړې وړانګې ای وړانګې دادی زه راغلم وړانګې سترګې پرانیزه.
بیلتونه کور دمولی رنګ کړه
په نور خلکو ورانوې ودان کـــــورونه
جانان مې مړ شو زه ژوندی یم باقي ژوندون به خدایه څنګه تیرومه
یارمې ، دخاورو مسافر شو مانه یې واخیستل په دې دنیـــا لاسونه
مرګیه ډیر تلورا د وکړو
. دیار په زړه کې خــــولا ډېر وو ارمانونه
ډاکټر صاحب له اوږې ونیوم دوړانګې نه یې راپاڅولم بلې کوټې ته یې بوتلم موبایل یې رانه واخیست راته
یې وویل ورور د څه نومیږې ما ورته د ورور نوم واخیست زما ورور نمبریې په مبایل کې راوړاوه هغه ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلیفون وکړ زما په ګمان چې ورور به مې غږ پرې کړی وي چې هلو حمیده له دې خوا ډاکټر ځواب ورکړ
بخښنه غواړم حمید نه یم د کابل کلینیک څخه د رسره ډاکټر خبرې کوم ورور مې ترې پوښتنه وکړه
څه خبره ده.

ډاکټر ځواب ورکړ چې وروره خفه کیږه مه د حمید مینه شهــــــــــــــــــــیده شوه ! کابل
کلینیک ته ځان راورسوه موبایل یې بیرته ماته راکړ ماغوښتل چې وړانګې ته ورشم خو ډاکټر نه پریښودم
ما چې هر څومره زاری ورته وکړې زما زاری یې ونه منلې د ماخوستن اووه بجې وې چې زما ورور
همداشان د شهیدې وړانګې ورور زاهد راغلل ورور مې چې زه خفه او زما په سترګو کې اوښکې ولیدې
رامنده یې کړه په غیږ کې یې کلک ونیوم ما زاهد او ورور چې ټوله شپه په ناستې تېره کړه هیڅ خوب یوه
هم ونه کړ سبا سهار د کور په لور روان شو کورته چې ورسېدو کوم ورور مې چې کور کې پاتې وو خپل
خپلوان یې ټول خبر کړي وو زاهد غوښتل چې وړانګه خپل کور ته یوسي خو ما ورته وویل:
زاهده پلار د په ژودون نه غوښتل چې د وړانګې مخ ووینې نو اوس چې شهیده ده اوس یې ولی وړولم زه نه
غواړم چې پلار د وړانګه ووینې زاهد بیا وویل خیر په خپله پلارنۍ هدیره کې به قبر ورته ووهو ما بیا ورته
وویل زاهده وړانګه زما ده ماته موسپارلې وه زه غواړم چې په خپله هدیره کې کې یې خاورو ته وسپارم
زاهد هم راسره ومنله د ماز دیګر څلور بجې وې چې د وړانګې مور راغله هغه تر اوسه زاهد نه وه خبره کړې
کله یې چې په شهیده وړانګه سترګې ولګیدې په ژړاه یې پیل وکړ.
وړانګې لورې ! ای وړانګې لورې سترګې پرانیزه مور د سر ته ولاړه ده وړانګې دا چا داسې وکړل دا کوم
ظالم په وینو کې لمبولې یې وړانګې مور سره په خوا کې زاهد هم ولاړ وو زاهد ژړل نه خو خدای خبر چې
دده په زړه کې څه تیریدل یو ناڅاپه راولوید بې هو شه شو زاهد مو ژر روغتون ته ورساوه هر کله چې په
هوش راغلو ژر بیرته راغللو د وړانګې جنازه یې واخیسته د وړانګې همزولو وړو او زړو ټولو کریغې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناريې وهلې جنازه يې چې له کوره وويسته ما ته وړانګې هغه سندره رایاده شوه چې ماته يې په لیک کې لیکلې وه.

-ای هی یار مانه وړي

زما دلدار مانه وړي

زړګی مې چوي زما دخوږ زړګي قرار مانه وړي

.وړانګې خپله ژمنه پوره کړه چې ویل یې جانه ستانه بغیر به زما د خاوند په نوم بل څوک یاد نه شي پای


WWW.KHOST.AF

(c) ketabton.com: The Digital Library

WWW.KHOST-WEB.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**